مکمل څلور حصې

إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللهِ الْإِسْلَامُ

تعلیم الاسلام

پښتو



سره د
څلويښت حدیثونو

او
مسنون دُعاګانو

تالیف
حضرت مولانا مفتی کفایت الله دهلوی

پښتو ترجمه
مولانا ابراهیم حقانی

دار النعمان
0336-9393650

إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْإِسْلَام

تعلیم الاسلام

مکمل څلور حصے

مؤلف

مفتی محمد کفایت اللہ دہلوی رحمہ اللہ

ناشر



دکتاب نوم : تعلیم الاسلام

نام مؤلف : مفتی کفایت الله دهلوی رح

پښتو کمپوزنګ : ابوحسّان منصف ګل کتوزئی

ناشر



فهرست

بِسمِ اللهِ الرَّحمنِ الرَّحیم ط

تعلیم الاسلام

(اوله حصه)

بِسمِ اللهِ الرَّحمنِ الرَّحِیمِ ط

نَحمَدُ اللهَ العَلِیِ العَظِیم وَنُصَلِی عَلیٰ رَسُولِهِ الکَرِیمِ ط

سوال: ته څوک ئې؟ (یعنی د مذهب په لحاظ سره ستا نوم څه دې؟)

جواب: مسلمان.

سوال: دَ مسلمانانودَمذهب څه نوم دې؟

جواب: "اسلام".

سوال: اسلام څه ښائی؟

جواب: اسلام دا ښائی چه الله پاک یو دې،دَ بندګئ لائق هم هغه دې.اومحمد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ دَ الله تعالی بنده او رسول دې.اوقرآن شریف دَالله پا ک کتاب دې.اسلام رښتونې مذهب دې دَدین دُنیاټولې ښیګړې او نیکې خبرې اسلام ښائی.

سوال: دَ اسلام کلمه څه ده؟

جواب: دَاسلام کلمهٔ دا ده چه"لَااِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدُ رَسُول الله.

ترجمه: دَالله نه سوابل هیڅ هم څوک دَعبادت لا ئق نشته او حضرت محمد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ دَالله پاک آخرې نبی دې.

دې کلمې ته کلمه طیبه اوکلمه توحیدوائی.

سوال: کلمه شهادت کومه یوه ده؟

جواب: کلمۂ شهادت داده:

(اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ)

ترجمه: ګواهی کوُم چه دَالله تعالی نه سوا بل هیڅ څوک دَعبادت لائق نشته اوګواهی کوم چه محمدرسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَالله پاک بنده او دَهغه رسول دي.

سوال: ایمان مجمل څه ته وائی؟

جواب: ایمان مجمل: (اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاَسْمَآئِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَقَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهٖ اِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ) وائی.

ترجمه: ایمان می راوړې په الله پاک باندې داسې لکه څنګه چه هغه دَخپلو نومونواوصفتونوسره دې.اوټول حکمونه می دَهغه قبول کړی دی په ژبه می اقرار اوپه زړه سره می یقین دې.

سوال: ایمان مفصل کوم یو دې.

جواب: ایمان مفصل دا دې:

(اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ)

ترجمه: ایمان می راوړې دې په الله پاک دَهغه په فرښتو او دَ هغه په کتابونواودَهغه په رسولانواودَقیامت په ورځې اوپه دې

چه ښه اوبدتقدیردَالله پاک دَطرف نه دي اودَمرګ نه پس په پورته کیدو(مې ایمان راوړې دې)

سوال: تاسوچاپیداکړې ئې؟

جواب: مونږ او زمونږ مور او پلار او آسمانونه او زمکې او ټول مخلوق الله پاک پیدا کړی دی.

سوال: الله پاک دُنیادَڅه څیزنه پیداکړه.

جواب: په خپل قدرت او په خپل حکم سره ئې پیدا کړې ده.

سوال: کوم خلق چه الله پاک نه مني هغوی ته څه وائی؟

جواب: هغوی ته کافران وائی.

سوال: کوم خلق چه دَالله پاک نه سوا دَ نورڅه عبادت کوی لکه څنګه چه هندوان دَبُتانوعبادت کوی دوی ته څه وائی؟

جواب: داسې خلقوته کافران او مشرکان وائی.

سوال: کوم خلق چه دوه درې خُدایان مني لکه عیسایان چه درې خدایان مني دوی ته څه وائی؟

جواب: دوی ته هم کافران او مشرکان وائی.

سوال: آیا مشرک بخلی شی او که نه؟

جواب: مشرک هیڅ کله هم نشی بخلې کیدې،دې به همیشه په تکلیف او دَجهنم په عذاب کښې به وی.

سوال: حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څوک وو؟

جواب: حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَالله پاک بنده او دَهغه ریښتوني او آخري پیغمبر وو. اوموږ دَحضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُمتیان یو.

سوال: زموږ پیغمبرحضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کوم ځائي کښې پیدا شوې وو.

جواب: زموږ پیغمبرحضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعربو په ملک دَمکه معظمه په ښارکښې پیداشوې وو.

سوال: دَ حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَ پلار او نیکه نومونه څه وو؟

جواب: دَ حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَ پلار صاحب نوم عبدالله او دَنیکه صاحب نوم ئې عبدالمطلب وو.

سوال: زموږ پیغمبرحضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَ نورو پیغمبرانونه په مرتبه کښې لوئې وو او که وړوکې؟

جواب: زموږ پیغمبرحضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَ ټولوپیغمبرانو نه لوئې او دَ ټول مخلوق نه زیات بزرګ دې.

سوال: حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل ټول مبارک عمرکوم ځائې تیرکړې وو؟

جواب: حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درې پنځوست(۵۳) کاله عمرپه مکه معظمه کښې تیرکړې وو،اوبیادَالله پاک په حکم ئې مدینې منورې ته تشریف یوړو.اولس کاله ئې هلته تیرکړل.اوبیا دَ درې شپیتو(۶۳) کالوپه عمرکښې دَدې دُنیانه رحصت شو.

سوال: کوم خلق چه حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه منی هغه ځنګه دی؟

جواب: څوک چه حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَالله پاک رسول نه منی هغوی هم کافران دی.

سوال: دَ حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَ منلو څه مطلب دې.

جواب: دَ حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَمنلومطلب دا دې چه په دوی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَالله پاک دَطرف نه په رالیږلوباندې یقین اوکړې شی اودَالله پاک نه پس په ټول مخلوق کښې حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غوره اوګڼړلې شی اومحبت ورسره اوساتلې شی او دَ دوی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَ حکمونوتابعداری اوکړې شی.

سوال: داځنګه معلومه شوه چه حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَالله پاک پیغمبردې؟

جواب: حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې ښه ښه کارونه اوکړل او داسې خبرې ئې اوخودلې چه دَپیغمبرانونه علاوه ئې بل څوک نه لیدلې اونه خودلې شی.

سوال: داځنګه معلومه شوه چه قرآن پاک دَالله پاک کتاب دې؟

جواب: حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائیلی دی چه دا قرآن پاک دَالله پاک کتاب دې او الله پاک په مانباندې نازل کړې دې.

سوال: قرآن پاک په حضور صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې په یو ځل نازل شواو که لږ لږ؟

جواب: لږ لږ نازل شو.کله یو آیات کله دوه څلورآیاتونه کله پوره سورة.څومره ته چه به ضرورت وو هومره به نازلیدلو.

سوال: ټول قرآن پاک څومره ورځوکښې نازل شو؟

جواب: په درې ویشت(۲۳) کاله کښې.

سوال: قرآن پاک به څنګه نازلیدو؟

جواب: حضرت جبرائیل عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ به حضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یو آیات یا یوسورة اورؤو حضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ترې واؤریدو او یاد به ئې کړو ترې.اوبیابه ئې څوک لیکونکې راؤغوښتلو اوبه ئې لیکلوپرې.

سوال: حضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پخپله ولې نه لیکلو؟

جواب: ځکه چه دوی آن پړه(اُمی) وو.

سوال: اُمی(ان پړ) څه ته وائی؟

جواب: چاچه لیکل لوستل نه وی زده کړی هغه ته اُمی (ان پړ) وائی.اګرچه حضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دنیاکښې دَچانه علم نه وو زده کړې لیکن الله پاک حضور صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دَټول مخلوق نه زیات علم ورکړې وو.

سوال: حضرت جبرائیل عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ څوک وو؟

جواب: فرښته ده چه دَالله پاک حکم به ئې پیغمبرانوته راؤړو.

سوال: مسلمان دَخدائي پاک بندگی څنګه کوی؟
جواب: مونځ کوی، روژې نیسی، دَمال نه زکوٰة ورکوی، حج کوی.
سوال: مونځ څه ته وائی؟
جواب: مونځ دَ الله پاک دَعبادت اوبندګی کولو یوه خاص طریقه ده چه الله پاک په قرآن شریف کښې اوحضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په احادیثوکښې مسلمانانوته خودلې ده.
سوال: دَبندګئ هغه طریقه چه مونځ ورته وائی څنګه ده؟
جواب: په جمات کښې یاپه کورکښې دَالله تعالی په مخ کښې لاس په نامه کیږدی اودریږی او قرآن پاک لولی، دَالله پاک ثناء صفت بیانوی، لوئی اوتعظیم ئې کوی، اوښکته کیږی ورته په زمکه ورته سرږدی خپله عاجزی اوذلت ښکاره کوی.
سوال: په جمات کښې مونځ کونکې دَالله پاک په مخ کښې وی اوکه په کورکښې؟
جواب: الله پاک هرځائې مخامخ وی که په جمات کښې وی اوکه په کورکښې وی. خوپه جمات کښې دَ مونځ کولوډیرزیات ثواب وی.
سوال: دَمونځ نه مخکښې مخ لاس او خپې وینځلوته څه وائی؟
جواب: دې ته چاراندم وائی بغیرچاراندام مونځ نه کیږی.
سوال: په مونځ کښې کوم طرف ته مخ کول پکار دی؟
جواب: مغرب طرف ته (کوم طرف ته چه دَماښام نمر پریوځی)

سوال: مغرب طرف ته دَمخ کولو حکم ولې شوې دې؟

سوال: په مکه معظمه کښې دَالله پاک یو کور دې چه کعبه ورته وائی هغې طرف ته په مونځ کښې مخ کول ضروری دی.اوهغه زمونږ دَدې ملک نه مغرب طرف ته ده نوپه دې وجه مغرب طرف ته په مونځ کښې مخ کولې شی.

سوال: کوم طرف ته چه مونځ کولئ شی هغې ته څه وائی؟

جواب: هغې ته قبله وائی.

سوال: په شپه او ورځ کښې څو واره مونځ کولئ شی؟

جواب: په شپه او ورځ کښې پنځه مونځونه فرض دی.

سوال: دَپنځه مونځونونومونه څه څه دی؟

جواب: اول دَ سحر مونځ چه دَصباختونه ترنمرختوپورې کیدې شی.دویم دَ ماسپخین مونځ چه د غرمې دَنمر د واپسئ نه پس کولې شی.دریم دَمازیګرمونځ چه دَنمرپریوتونه دوه دوه نیمې ګهنتې اول کیدې شی.څلورم دَ ماښام مونځ دادَنمرپریوتونه پس کیدې شی،پنځم دَ ماسحوتن مونځ داچه دَشپې نه یوه نیمه دوه ګهنتې تیرې شی نو کیدې شی.

اذان

سوال: آذان څه ته وائی؟

جواب: هرکله چه دَمانځه وخت شی نودَمانځه نه څه ساعت مخکښې یوسړې اودریږی په زور زور سره دا الفاظ وائی:

آذان "اللّٰهُ اَکبر خلورپیري اَشهَدُاَن لااِلٰهَ اِلّااللّٰهُ دوه پیرې.
ترجمه:الله پاک ډیرې لوئې دې.ګواهی کوم چه دَالله نه سوا بل معبودنشته.
اَشهَدُاَنَ محمدًارَسُولُ الله دوه پیرې.حَیَّ عَلَی الصَّلوة ګواهی کوم چه بې شکه محمد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ دَالله رسول دې.راشئ مانځه ته.دوه پیرې.حَیَّ عَلَی الفَلَاح دوه پیرې.اَللّٰهُ اَکبَر دوه پیرې رشائ دَخلاصی طرف ته.خدائې ډیرلوئی دې.
لااِلٰه اِلّااللّٰهُ یو ځل.
نشته بل معبودِمګریوالله دې.
دې الفاظوته آذان(بانګ) وائی دَسحرپه اَذان کښې دَ حَیَ عَلَی الفَلَاح نه پس اَلصَلَاةُ خَیرٌ مِنَ النَومِ مونځ دَ خوب نه غوره دې) دوه پیرې هم ویلې شی.

اقامت

سوال: تکبیرڅه ته وائی؟
جواب: کله چه دَمانځه دپاره اودریږی نویوسړې هم دغه کلمه په زور زور سره وائی کومې چه په آذان کښې وئیلې کیږی خو دَ حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ نه پس پکښې دوه پیرې قَدقَامَتِ الصلوة (تحقیق مونځ او دریده) وائی.

سوال: کوم سړي چه آذان یاتکبیروائی هغه ته څه وائی؟
جواب: کوم سړي چه آذان وائی هغه ته مؤذن اوکوم چه تکبیروائی هغه ته مُکبروائی.
سوال: ډیرخلق چه په جمع مونځ کوی په دې کښې دې مونځ اومونځ ورکونکی او مونځ کونکوته څه وائی؟
جواب: ډیرخلق چه راجمع شی اومونځ کوی دې ته دَ جماعت مونځ وائی او مونځ ورکونکی ته امام(مُولا) او روستوچه امام پسې کوم خلق مونځ کوی هغوی ته مقتدیان وائی.
سوال: یوازې مونځ کولو والا ته څه وائی؟
جواب: یوازې مونځ کولو والا ته مُنفرد(ځانله مونځ کولووالا) وائی.
سوال: کوم مکان چه خاص دَ مونځ دپاره جوړه ولئ شی اوپه جمع سره پکښې مونځ کولئ شی هغې ته څه وائی؟
جواب: هغې ته جمات وائی.
سوال: په جمات کښې څه کول پکار دی؟
جواب: په جمات کښې مونځ کول،قرآن شریف لوستل یاڅه بله وظیفه لوستل یاپه ادب سره چپ کیناستل پکاردی.په جمات کښې لوبې توپونه،شورکول ډیره بده خبره ده.
سوال: دَمونځ کولو څه فائده ده؟
جواب: دَمونځ کولوډیرې فائدې دی یوڅوپکښې دا دی:
(۱): دَ مونځ کونکی بدن اوکپړې پاکې صفا وی.

(۲):دَمونځ کونکی نه خدائې راضی او خوشحاله وی.
(۳):حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَ مونځ کونکی نه راضی اوخوشحاله وی.
(٤): مونځ کونکې دَالله پاک په نزد نیک وی.
(٥):په دنیا کښې دَ مونځ کونکی نیک خلق عزت کوی.
(٦):مونځ کونکئ دَ ډیروګناهونونه بچ وی.
(۷):دَ مرګ نه پس مونځ کونکے الله پاک په آرام او راحت کښې ساتی.

سوال: په مونځ کښې چه څه لوستئ شی دَهغې ټولونومونه او عبارتونه کوم کوم دی؟

جواب: په مونځ کښې چه دَ اول نه ترآخره پورې څه لوستې شی دَ هغې نومونه او الفاظ دا دی:

تکبیر: (اَللّٰهُ اَکْبَرُ):

الله ډیر لوئې دې.

(سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ)

ترجمه: "پاکی ده تالره اې لویه خدایه اوثناء ده تالره اومبارک دې نوم ستااولوئې دې شان ستااونشته بل معبودبغیرستانه".

تعوذ: (اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ)

ترجمه: "پناه غوارم په خدائې پاک سره دَ شیطان رټلی شوی نه.

تسمیه: (بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ)

ترجمه: "شروع کوم په نامه دَخدائې پاک چه ډیرمهربان او نهایت رحم والا دې

سورة فاتحه یا الحمد شریف

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ۝١ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ۝٢ مٰلِكِ یَوۡمِ الدِّیۡنِ ۝٣ اِیَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِیَّاكَ نَسۡتَعِیۡنُ ۝٤ اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِیۡمَ ۝٥ صِرَاطَ الَّذِیۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَیۡهِمۡ ۙ۬ غَیۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَیۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّیۡنَ ۝٧

ترجمه: "ټوله تعریفونه خاص الله تعالی لره دی چه پالونکې دټولو مخلوقاتودې لوې مهربان ډیر رحم کونکې دې مالک دَ ورځې دَ جزاء دې.خاص ستا عبادت کوو،(اې الله) اوخاص ستانه مدد غواړو.اوښایه موږ ته لار نیغه لار دَهغې کسانوچه تاانعام کړې دې په هغوی باندې نه لار دَ هغې کسانوچه غضب شوې دې په هغوی باندې او نه لار دَ ګمراهانو(آمین) خدایه دادُعاقبوله کړې".

سورة کوثر

اِنَّآ اَعۡطَیۡنٰكَ الۡكَوۡثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانۡحَرۡ ۝٢ اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الۡاَبۡتَرُ ۝٣

ترجمه: "(اې نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) بې شکه مونږ تاته کوثر درکړې دې پس ته دَخپل رب دپاره مونځ کوه او قربانی کوه یقیناً ستادښمن بې نام او نشان دې.

سورة اخلاص

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ① اللَّهُ الصَّمَدُ ② لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ③ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ④

ترجمه: " اووایه(اې نبی) چه الله پاک یو دې الله بې نیازه دې نه ترې څوک پیدادی اونه دَچانه پیدادې اونه ورسره څوک همسر(برابر) شته".

سورة الفلق

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ① مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ② وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ③ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ④ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ⑤

ترجمه: "اووایه(اې نبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) چه پناه غواړم په رب دَ صبادَشردَمخلوق نه.اودَشره دَ تیرې شپې نه کله چه خوره شی او دَ شردَپوکی کونکوښځونه په غوټوکښې او دشر دَ حسدکونکی نه چه حسدکوی".

سُورَةُ النَّاس

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ① مَلِكِ النَّاسِ ② اِلٰهِ النَّاسِ ③ مِنْ شَرِّ
الْوَسْوَاسِ ۙ الْخَنَّاسِ ④ الَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ ⑤
مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ⑥

ترجمه: "اووایه (اې نبی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ) چه پناه غواړم په رب دَ خلقوپه بادشاه دَ خلقوپه معبوددَخلقودَشر دَ وسوسه کونکی شیطان نه هغه چه وسوسه کوی په سینودَخلقوکښې دَ پیریانو اوبنی آدمونه".

دَ رکوع تسبیح: (سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْم)

ترجمه: "پاکی ده رب زمالره چه لوئې دې.

قومه: (سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَه رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ)

ترجمه: "آوری خدائې پاک چه څوک ئې ثنا وائی".اې ربه زمونږ تالره ثناء ده.

دَ سجدې تسبیح: (سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی)

ترجمه: "پاکی ده رب زمالره چه عالیشان دې.

تَشَهُد

(اَلتَّحِیَّاتُ لِلّٰهِ وَ الصَّلَوٰتُ وَ الطَّیِّبٰتُ اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ اَیُّهَاالنَّبِیُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُه "اَلسَّلَامُ عَلَیْنَا وَعَلٰی عِبَادِاللّٰهِ الصّٰلِحِیْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُه وَرَسُوْلُه ")

ترجمه: "ټول زباني قولي او فعلي عبادتونه اوټول مالي عبادتونه خاص خدائې پاک لره دي سلام دې وي پتاباندې اې نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او رحمت دَخدائې او برکتونه دَ هغه سلام دې وي په مونږ باندې او په نیکانوبندګانو دَ خدائې باندې ګواهي کوم چه نشته بل معبودمګریوالله دې اوګواهي کوم چه بې شکه محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بنده دَهغه او رسول دَهغه دې.

درور شریف

(اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَاصَلَّيْتَ عَلٰی اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ)

(اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَابَارَكْتَ عَلٰی اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ)

ترجمه: "اې الله رحمت نازل کړه په محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوپه آل دَمحمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لکه چه تارحمت نازل کړې په ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ اوپه آل دَ ابراهیم باندې بې شکه چه ته ستائلې شوې لوئې یې.اې الله برکت نازل کړه په محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوپه آل دَمحمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لکه چه تابرکت نازل کړې په ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ اوپه آل دَ ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ بې شکه چه ته ستائلې شوې لوئې ئې.

دُعاء

(اَللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ)

ترجمه: "اې ربه زمونږ اې الله راکړې مونږ لره په دنیا کښې نیکي او په آخرت کښې نیکي اواوساته مونږ دَعذاب دَ اور نه.

سلام

(اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ)

ترجمه : "سلام دې وی په تاسواو رحمت دَالله پاک اوبرکتونه دَهغه.

دَ سلام نه پس دُعاء

(اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَاذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ)

ترجمه : "اې الله ته سلامتی ورکونکې ئې او سلامتیا ستانه ده، ډیربرکت والا ئې ته، اې خاونده دَلوئې اودَعزت".

دُعاء قنوت

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَانَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَاِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْرَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ط

ترجمه : "اې الله مونږ ستانه مدد غواړو اوستانه بخښنه غواړو او په تا ایمان راؤړو اوپه تاتوکل کؤواوثناء وایوستاغوره شکرکوو ستا او ستا ناشکری نه کوو.پرېږدواوجدا کیږو دَهغه چانه چه ستانافرمانی کوی.اې الله خاص ستاعبادت کوو او تالره مونځ کوو او تاته سجده کوو او ستا طرف ته راځو اوتاته حاضرېږو اوستادَرحمت اُمیدلرو او ستادَعذاب نه ویرېږو، بې شکه عذاب ستاپه کفارو پورې پیوست دې.

دَ اوداس کولو طریقه

سوال: اودس څنګه کولئ شی

جواب: په پاک صفا لوخی کښې اوبهٔ راواخله اوپه پاک ځائې کینه.قبلې ته مخ کول غوره دی.لستونړی اوڅنګلونه پورته کړه، بیا بسم الله اووایه دواړه لاسونه دَ مړوندونوپورې درې پیرې اووینځه بیادرې پیرې خوله اووینځه که مسواک نه وی نو ګوته په خوله کښې اووهه.بیادرې پیرې پوزې ته اوبه واچوه او دَګس لاس کچه ګوته په پوزه کښې اووهه بیادرې پیرې مخ اووینځه مخ باندې اوبه په زور سره مه اچوه.دَتندئ دَویښتونه دَزنې دَلاندې پورې اودَیوغوږ نه تربل غوږ پورې ټول مخ اووینځ.بیادواړه متې دَڅنګلوسره درې درې پیرې اووینځه اول ښئ لاس درې پیرې بیاګس لاس درې پیرې.بیالاسونه په اوبولامده کړه اول دَسرمسحه اوکړه بیادَغوږونوبیادَڅټ مسحه یو یو وار اوکړه.بیا دواړه خپې درې پیرې دَکچ هډوکی سره اووینځه اول ښې خپه اووینځه بیاګسه خپه.

دَ مونځ کولو طریقه

سوال: دَ مونځ کولو طریقه څه ده؟

جواب: دَ مونځ کولو طریقه دا ده:

دَ اوداسه نه پس به پاکې جامې واغوندې په پاک ځائې به اودریږې قبلې ته به مخ کړې،دَمونځ نیت به اوکړې دواړه لاسونه به غوږونو پورې اوچت کړې اَللّٰهُ اَکبَر به اووائې بیابه لاسونه دَنامه لاندې

کيږدئ. ښى لاس دپاسه اوګس لاندې.په مونځ کښې به اخوادېخوانه ګورې په ادب سره به ولاړ ئې.خدائې ته به خيال برابر کړې سُبحَانَ به اووائې.بيادَاعُوذُ بِاللهِ بيا بِسمِ اللهُ او بيا به الحَمدُ پسې اولوې. چه درته کوم سورة ياد وى هغه به اَلحَمدُ پسې اولولې.بيابه اَللّٰهُ اَکبَر اووائې رکوع ته به ښکته شې په دواړو لاسونوبه زنګونان اونيسې او سُبحَانَ رَبِّيَ العَظِيم به درې پيرې اووائې بيابه سَمِعَ اللّٰهُ لِمَن حَمِدَه وائې نيغ به اودريږې په ولاړې به رَبنَالَكَ الحَمدَ اووائې.بيابه اَللّٰهُ اَکبَر اووائې نيغ به سجدې ته داسې لاړشې چه اول به په زمکه زنګونان بيادواړه لاسونه بياپوزه بياتندې اولږوې.پوزه او تندې به په زمکه دَ دواړو لاسونونه مينځ کښې راولې.اوپه سجده کښې به درې پيرې سُبحَان رَبِّيَ اَلاَعلى اووائې.بيابه اَللّٰهُ اَکبَراووائې نيغ به کينې اوبيابه اَللّٰهُ اَکبَر اووائې.دويمه سجده به هم دغه شان اوکړې.بيابه الله اکبر اووائې دويم رکعت ته به نيغ اودريږې بسم اللّٰه الحمدُ اوسورة به اولولې رکوع او دوه سجدې به په دغه طريقه اوکړې په دې دويم رکعت کښې به دَ دويمې سجدې نه پس کشنې ښې خپه به اودروې په ګسه خپه به کينې دواړه لاسونه به په وُرَنانو زنګونانوته نزدې کيږدې،التحيات اوتشهدبه اولولې،بيادرود او دعا او بيا به اول ښى طرف ته سلام اوګرزوې.بياګس طرف ته به د سلام اړولو نه پس اَللّهُم اَنتَ السلامُ اووائې او نوره دعابه اوغواړې لاس به په مخ راکاږې.

سوال : دَ دوارِو سجدوپه میځ کښې اودَتشهد لوستوپه وخت کښې به څنګه کینی؟

جواب :ښې خپه به اودروی په کسه خپه به کینې او دوارِه لاسونه به په زنګونانوکیږدي.

سوال : دَامام مقتدی او منفردپه مونځونوکښې څه فرق وی او که نه وی؟

جواب :دَامام مقتدی او منفردپه مونځونوکښې لږ لږ فرق شته دي.هغه دا دي چه امام اومنفردپه اول رکعت کښې سُبحَانَ بِسمَ الله اَعوذُبالله وائی او بیاالحمدو او سورة.لیکن مقتدی به صرف په اول رکعت ثناء لوستلو سره په دوارِو رکعتونو کښې چپ اودریدل پکار دی .بل فرق دا دي چه دَرکوع نه دَپورته کیدوپه وخت کښې امام او منفردسمع الله لمن حمده وائی او منفرد ورسره ربنا لک الحمدُ هم وائی مقتدی به صرف رَبَنَالَکَ الحَمدُ وائی.

سوال: چه دَ مونځ درې یا څلور رکعته وی نوڅنګه به ئې کوی؟

جواب :چه درې یا څلوررکعتونه وی.نوچه په دوه رکعتونو به قعده کیني التحیات اوتشهدبه اووائی او درود دُعابه نه لولی پورته به شی اَللهُ اَکبَر به اووائی اودوه یا یورکعت به ورسره په د[illegible] طریقه اوکړی خوکه دا مونځ فرض وو نو په دریم یا څلورم رکعت کښې به دَ الحمد سره سورة نه وائی اوپه دویمه قعده کښې به دَتشهد سره درود او دُعا اووائی.

سوال: سُنت یانفل مونځ درې رکعته کیدې شی؟
جواب : سُنت یا نفل مونځ درې رکعته نشی کیدې دوه یاڅلوررکعته کولې شی.
سوال: دَ رکوع صحیح طریقه څه ده؟
جواب: رکوع داسې کول پکار دی چه مَلا اوسربرابر وی یعنې چه سَر نه دَ ملا نه اوچت وی نه ښکته وِی او دواړه څنګلې دَ ښخونه جُدا وی او زنګونان ئې کلک په لاس نیولی وی.
سوال: دَ سجدې کولو صحیح طریقه څنګه ده؟
جواب : سجده داسې کول پکاردی چه دَ لاسونوپنجې په زمکه جُختې پرتې وی او لیچې اوڅنګلې دَزمکې نه اوچتې وی اوګیډه دَ پتونونه بیرته وی او څنګلې دَ ښخونه جُدا وی جُختې ورسره نه وی.
سوال: دَمونځ نه پس چه په ګوتوشمارکوی داڅه وائی؟
جواب : دَمونځ نه پس په ګوتوشمارکوی او درې دیرش(۳۳) ځله سُبحَانَ الله درې دیرش(۳۳) ځله اَلحَمدُ للهِ څلوردیرش(۳٤) ځله اَللّٰهُ اَکبَروائی په دې کښې ډیرزیات ثواب دې.

دتعلیم الاسلام اوله حصه ختمه شوه

تعلیم الاسلام (دویمه حصه)

اوله شعبه معروف په تعلیم الایمان یا اسلامی عقائد

بِسمِ اللهِ الرحمنِ الرَحِيمِ ط

سوال: دَ اسلام بُنیاد په څو څیزونو باندې دې؟

جواب: دَ اسلام بُنیاد په پنځو څیزونو باندې دې.

سوال: هغه پنځه څیزونه چه په کوم باندې دَاسلام بُنیاد دې، کوم کوم دی؟

جواب هغه پنځه څیزونه دا دی:

اول کلمه طیبه یادَکلمه شهادت دَمطلب په زړه سره منل اوپه ژبه باندې اقرار کول.دویم مونځ کول،دریم زکوٰة ورکول.څلورم دَ رمضان مبارك روژې نیول،پنځم حج کول.

سوال: کلمه طیبه کومه ده او ددې معنی څه ده؟

جواب: کلمه طیبه داده: لَآاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ الله" او دَدې مطلب دا دې چه دَالله تعالی نه سوا بل هیڅ څوک دَعبادت لائق نشته او حضرت محمد صَلَّیٰ اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دَالله پاک رالیږلې شوې پیغمبردې.

سوال: کلمه شهادت کومه ده او معنی ئې څه ده؟

جواب: کلمه شهادت داده: اَشهَدُ اَنْ لَّآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاِشهَدُ اَنَ مُحَمَّدًا عَبدُہ وَرَسُوله ددې معنی دا ده : زه ګواهی کوم چه دَالله

نه سوابل هیڅ څوک دَعبادت لائق نشته او ددې څیز ګواهی ورکوم د چه محمد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دَخدائې بنده او رسول دې.
سوال: چه په معنی اومطلب ئې نه پوهیږی اوصرف په ژبه سره په کلمه ویلوسره سړې مسلمانیدې شی؟
جواب: نه شی.بلکه په معنی ئې ځان پوهه کول او په زړه سره په هغې یقین کول اوپه ژبه ئې اقرار کول ضروری دی.
سوال: په زړه سره یقین اوپه ژبه سره اقرار ته څه وائی؟
جواب: دې ته ایمان راوړل وائی.
سوال: چاړا خو په ژبه سره اقرار نشی کولئ نو دَهغه ایمان به څنګه معلومیږی؟
جواب: دَده دپاره دَقدرتی مجبورئ په وجه اشاره پوره ده یعنی دې به په اشاره سره دا ظاهره کړی چه اللّٰه پاک یودې اومحمد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دَاللّٰه پاک ریښتونې پیغمبردې.
سوال: مسلمانانولره په څومره څیزونوایمان راوړل ضروری دی؟
جواب: په اُووه(۷) څیزونوچه ذکرئې په ایمان مفصل کښې دې:
اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلٰئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ ط
ترجمه: "ایمان می راوړې دې په اللّٰه پاک دَهغه په فرښتو او دَ هغه په کتابونودَهغه په رسولانوپه ورځې دَ قیامت باندې اوپه دې چه ښه اوبدتول دَاللّٰه دَقانون مطابق کیږی اوپه دې خبره چه پس دَمرګه بیاژوندی کیدل دی.

الله تعالی سره دَ مسلمانانو عقیدې

سوال: مسلمانانوته په الله پاک کومې عقیدې لرل پکاردی؟

جواب: (۱) خدائې پاک یودې(۲) دَعبادت او بندګئ لائق صرف یو الله دې دَهغه نه سوابل هیڅ څوک دَبندګئ لائق نشته(۳) دَهغه هیڅ څوک شریک نشته (٤) هغه په هرڅیزباندې پوهه دې یوشې هم دَهغه نه پټ نشته دې (٥) هغه دَ لوئې طاقت او قدرت مالک دې (٦) هغه زمکه ،آسمان ،نمر،سپوږمۍ ستوری، فرښتې،بنی آدم، پیریان عرض ټول جهان ئې پیدا کړې دې او هغه دَدې ټولې دنیامالک دې (۷) هغه مړه کول کوی هغه ژوندی کول کوی یعنی دَمخلوق مرګ ژوند دَ هغه په حکم سره دی.(۸) هغه ټول مخلوق له رزق ورکوی (۹) هغه نه خوری نه سکی اونه اوده کیږی.(۱۰) هغه خودبخوددَهمیشه نه دې اوهمیشه به وی(۱۱) هغه چاپیداکړې نه دې(۱۲) نه ئې پلارشته نه لورځوئې نه ښځه نه ئې دَ چاسره څه رشته ناته شته هغه دَټولو تعلقاتونه پاک دې(۱۳) ټول هغه ته محتاج دی هغه دَچامحتاجه نه دې اودَهغه هیڅ شی ته حاجت نشته(١٤) هغه بې مثل دې څه شې دَهغه په مثل نشته یعنی دَهغه پشان هیڅ شې نشته(۱٥) هغه دَ ټولوعیبونونه پاک دې (١٦) هغه دَمخلوق پشان لاس ،خپې،پوزه،خلهٔ غوږونه اوشکل صورت نه پاک دې هغه فرښتې پیداکړې اودُنیاپه انتظام او په خاص خاص کارونوئې مقرر کړی دی (۱۷) هغه دَخپل مخلوق دَ هدایت دپاره پیغمبران رالیږلی دی چه خلقوته رښتونې مذهب اوښائی ښې ښې خبرې ورته ایزده کړی.اودَناکاره خبرونه ئې بچ کوی.

ملائکې (فرښتې)

سوال: ملائکې(فرښتې) څوک دی؟

جواب: فرښتې دَ خدائې پاک یومخلوق دې چه دَ نورنه پیدا دی. زمونږ دَنظرونونه پناه دی نه سړی دی اونه ښځې.دَخدائې پاک نافرمانی اوګناه نه کوی.په کوموکارونوچه الله پاک مقررکړی دی په هغې کښې لګیا دی.

سوال: فرښتې څومره دی؟

جواب: دَ فرښتوشمیردَالله پاک نه سوابل چاته هم نه دې معلوم خو دومره معلومه ده چه فرښتې ډیرې دی څلورفرښتې په کښې مُقربې او مشهورې دی.

سوال: مقربې او مشهورې څلورفرښتې کومې کومې دی؟

جواب: اول حضرت جبرائیل علیه السلام دې چه دَ خدائې پاک کتابونه احکام اوپیغام به ئې پیغمرانوته راؤړو.دویم حضرت اسرافیل علیه السلام دې چه په قیامت کښې به شپیلۍ وهی.دریم حضرت میکائیل علیه السلام دې چه دَ باران په انتظام او خلقوته په رزق رسولو مقرردې.څلورم حضرت عزرائیل علیه السلام دې چه دَ مخلوق په روح ویستومقرردې.

دَ الله تعالى كتابونه

سوال: دَ الله پاک کتابونه څومره دی؟

جواب: دَ خدائې تعالی لوئې واړه ډیرکتابونه په پیغمبرانونازل شوی دی لیکن لویوکتابونوته کتابونه او وړو ته صحیفې وائی.څلورکتابونه مشهوردی.

سوال: څلورمشهورآسمانی کتابونه کوم کوم دی.اوپه کومو پیغمبرانونازل شوی دی؟

جواب: (۱) تورات چه په حضرت موسی علیه السلام نازل شوې دې.(۲) زبورچه په حضرت داؤد علیه السلام نازل شوې دې.(۳) انجیل چه په حضرت عیسی علیه السلام نازل شوې دې.(٤) قرآن مجیدچه زمونږ په پیغمبرحضرت محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې نازل شوې دې.

سوال: صحیفې څومره دی اوپه کوموکوموپیغمبرانونازلې شوې دی؟

جواب: دَصحیفو شمیرمعلوم نه دې هاں څه صحیفې په حضرت آدم عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ څه په حضرت شیث عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ اوڅه په حضرت ابراهیم عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ نازلې شوې دی.دَدې نه علا ہ نورې صحیفې هم دی چه په بعضې پیغمبرانونازلې شوی دی.

دَ الله تعالی رسولان(پیغمبران) عَلَيۡهِمُ ٱلسَّلَامُ

سوال: رسولان څوک دی؟

جواب: رسولان دَ الله تعالی بندګان اوانسانان وی الله تعالی دوی لره خپلوبندګانوته دَاحکامورسولودپاره مقررکړې وی.هغوی رښتونی وی چرته دروغ نه وائی،ګناه نه کوی.دَخدائې پیغام پوره په پوره رسوی.کمې زیاتې پکښې نه کوی.نه یوپیغام پټ ساتی.

سوال: دَنبی څه معنی ده؟

جواب: دَنبی هم هغه معنی ده چه دَالله پاک بنده اوانسان وی دَ الله پاک پیغام خلقوته رسوی.رښتونې وی دروغ نه وائی ګناه نه کوی.دَالله پاک په حکمونوکښې کمې زیاتې نه کوی یوحکم پټوی نه.

سوال: په نبی او رسول کښې څه فرق شته او که دَ دواړو یوه معنی ده؟

جواب: په نبی اورسول کښې لږ شان فرق دې.هغه دا چه رسول هغه پیغمبرته وائی چه نوې شریعت اوکتاب ورته ورکړې شوی وی.اونبی هریوپیغمبرته وائی.که نوې شریعت اوکتاب ورکړې شوې وی اوکه نه.بلکه دې دَمخکښې شریعت اوکتاب تابع وی.

سوال: یوسړې په خپل کوشش اوعبادت سره نبی جوړې دې شی؟

جواب: نشی بلکه څوک چه الله پاک نبی جوړوی هغه جوړې دې شی.مطلب دا دې چه دَنبی او رسول په جوړیدو کښې د انسان خپلې ارادې لره هیڅ دخل نشته اونه دده دَکوشش پکښې څه دخل شته.دَالله پاک چه چالره اوغواړی ورکوی ئې.

سوال: رسولان او نبیان څومره دی؟

جواب : دنیاته ډیررسولان اونبیان راغلی دی.لیکن ټهیک شمارئې الله پاک ته معلوم دې.مونږ ته داسې ایمان راؤړل پکار دی چه الله پاک څومره رسولان رالیږلی دی مونږ دوی ټول په حق سره رسولان منو.

سوال: دَ ټولونه اولنې پیغمبرڅوک وو؟

جواب: دَټولونه اولنئ پیغمبرحضرت آدم عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ وو.

سوال: دَ ټولونه روستې پیغمبرڅوک وو؟

جواب:دَټولونه روستې پیغمبرحضرت **محمد** صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وو.

سوال: دَحضرت محمد صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پس بل یوپیغمبرراتلئ شی او که نه؟

جواب:نشی راتلئ،ځکه چه پیغمبری اونبوت په حضرت **محمد** صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې ختم شو ی دی.دَدوی نه پس تر دَقیامت پورې څوک نوې نبی نشی راتلئ.دَدوی نه پس چه څوک دَپیغمبرئ دعوه کوی هغه دروغژن دې.

سوال: په رسولانوکښې دَټولونه زیات غوره رسول څوک وو؟

جواب:زمونږپیغمبرحضرت **محمد** صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَ ټولو نبیانو او رسولانو نه افضل او بزرګ وو.دَالله پاک خودې ټچپله هم بنده اوتابعدار دې البته دَالله پاک نه پس دَدوی صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مرتبه دَټولونه لویه ده.

دَ قیامت بیان

سوال: دَ قیامت ورځ کومې ته وائی؟

جواب :دَ قیامت ورځ هغې ورځ ته وائی په کومه ورځ چه دَ ټولې دُنیاانسانان او جاندار مړهٔ شی او ټوله دُنیافناشی غرونه به دَمالوچودَپاغونوپشان په هواکښې والوزی.ستوری به مات شی راپریوځی به.عرض داچه هریوڅیزبه مات راماټ اوفنابه شی.(دغه دَقیامت ورځ ده)

سوال: ټول انسانان او جانداربه څنګه مری؟

جواب :حضرت اسرافیل عَلَیۡهِ ٱلسَّلَامُ به شپیلۍ اووهی دَدې اوازبه دومره یرونکۍ اوسخت وی چه دَ ویرې نه به ئې ټول مړه شی او هرشې به فناشی.

سوال: قیامت به کله راځی.

جواب :قیامت راتلونکې دې لیکن ددې ټهیک وخت دَاللّٰه پاک نه سوابل چاته هم نه دې معلوم.دومره معلومه ده چه دَجمعے ورځ اودَمحرم ۱۰تاریخ به وی.زمونږ پیغمبرحضرت محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ دَقیامت څه نښې خودلی دی دَدې نه دَقیامت دَ نزدې راتلوپته لږی.

سوال: دَقیامت نښې څه دی؟

جواب : حضرت محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائیلی دی چه کله په دنیا کښې ګناه کول زیات شی.اوخلق دَموراوپلار نافرمانی اوپه هغوی سختئ کول شورع کړی.اوپه امانتونوکښې خیانت شروع شی او دَ ګانوبجانو ناچونوډولونوسنګارونوزیاتې جوړشی.اوروستی خلق مخکینو بزرګانوته بد وئیل شروع کړی .بې عمله اوکم علم خلق به پیشوایان جوړشی.دَکمې درجې اوشپونکیانوخلق به دنګې دنګې آبادئ جوړول شروع کړی.ناقابلوخلقوته به لوئې لوئې عُهدې ملاؤشی.نوپوهه شه چه قیامت نزدې راغلې دې.

دَتقدیربیان

سوال: تقدیرڅه ته وائی؟

جواب:دَهرې خبرې اوښه بدشی دپاره دَخدائې پاک په علم کښې یو اندازه مقرر ده.اوهرشې دَپیداکیدونه مخکښې خدائې پاک ته معلوم وی. دې دَالله پاک علم او اندازې ته تقدیروائی.هره یوه ښه او بده خبره دَ الله تعالی دَعلم نه بهرنه ده.

دَ مرګ نه پس د ژوندی کیدلو بیان

سوال: دَمرګ نه پس ژوندی کیدلو نه څه مراد دې؟

جواب: په قیامت کښې به ټول څیزونه فناشی.بیابه دوباره اسرافیل عَلَیْہِ السَّلَامُ شپیلئ پوک اووهی.نوټول څیزونه به بیاموجودشی.انسانان به هم ژوندی شی.دَمحشرپه میدان کښې به دَالله پاک په مخکښې پیش شی،حساب به ترې واخستلئ شی او دَخوبدوکارونوبدله به ورکړئ شی په کومه ورځ چه داکارکیږی هغې ته یَومَ الحَشَر (یعنی دَ جمع کیدو ورځ) او یَومُ الجَزاء او یَومُ الدِین(یعنی دَبدلې ورځ) اویَومُ الحِسَاب(یعنی دَحساب ورځ) وائی.

سوال: په ایمان مفصل کښې چه دَکومو اووه(۷) خبرو ذکردې که څوک په دې کښې یوه یا دوه نه منی نوهغه مسلمان کیدې شی)؟

جواب: هرګزمسلمان نشی کیدې ترڅوچه دَخدائې تعالی په توحیددَپیغمبرانوپه پیغمبرئ دَ خدائې پاک په کتابونوپه فرښتودَقیامت په روځ په تقدیراودَمرګ نه پس په ژوندی کیدو ایمان راؤنه ړی.

سوال: حضورپاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ په پنځوڅیزونودَاسلام بُنیاد فرمائیلې دې په دې کښې خودَفرښتودَخدائې پاک دَ کتابونو دَ قیامت اوتقدیر وغیره څه ذکرنشته.

جواب:په دې پنځوخيزونوكښې په حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَايمان راؤړلو ذكردې او كله چه په حضورڅوک ايمان راؤړى نودَهغه ټولې خودلې شوې خبرې ورته منل لازمى دى اودَاللّٰه پاک په كتاب چه په حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نازل شوې دې ايمان راؤړل ضرورى دى.داټولې خبرې چه په ايمان مفصل كښې ئې ذكردې دَخدائې تعالىٰ دَ كتاب قرآن مجيدنه اودَحضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَ بيان نه ثابتې دى.

سوال : چه په دې ټولوخبرودَزړه يقين اودَ ژبې اقرارخوكوى ليكن مونځ نه كوى يازكوٰة نه وركوى ياروژې نه نيسى ياحج نه كوى نوداسې سړې مسلمان دې اوكه نه ؟

جواب : ها،مسلمان خو دې ليكن سخت ګناه ګار او دَ اللّٰه پاک نافرمان دې.داسې سړى ته فاسق وائى.داسې خلق به دَخپلو خپلو ګناهونوسزا مومى اوبيابه دَهغې نه پس خلاصې مومى.

اوله شعبه ختمه شوه.



دویمه شعبه

تعلیم الارکان یا اسلامی اعمال

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمنِ الرَّحِيمَ

سوال: دَ اسلامی اعمالونه څه مراد دي؟

جواب: په کوموپنځو څیزونوچه دَاسلام بُنیاد قائم دي په هغې کښې ړومبې خبرې ته ایمان وائی.اودَدې بیان په اوله شعبه کښې دَاسلامی عقیدو په نوم سره تاسو اولوستو باقی څلورو څیزونو ته یعنی مونځ،زکوٰة،روژه،دَ رمضان حج دَ بیت اللّٰه ته اسلامی عملونه وائی.په دې دویمې حصې کښې دَمونځ بیان دې.

مونځ

سوال: مونځ څه ته وائی؟

جواب: مونځ دَاللّٰه پاک دَعبادت اوبندګئ کولویوه خاص طریقه ده.چه اللّٰه پاک اودَهغه پیغمبرحضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بندګانوته خودلې ده.

سوال: دَمونځ نه مخکښې دَ کوموڅیزونوضرورت وی؟

جواب: دَمونځ نه مخکښې دَ اووه(۷) څیزونو ضرورت دې.چه بغیردَدې نه مونځ نه کیږی.دې ته دَمونځ شرطونه او دَ مونځ فرض وائی.

سوال: هغه اووه(۷) څیزونه چه دَمونځ نه مخکښې ضروری دی کوم کوم دی؟

جواب :اول بدن پاکول،دویم دَ کپړوپاکول.دریم دَځائې پاکول،څلورم سترپټول،پنځم دَمونځ وخت کیدل.شپږم قبلې ته مخ کول او اووم نیت کول.

دَ مونځ ړومبې شرط

سوال: دَبدن پاک والی نه څه مراد دې؟

جواب : دَبدن پاکوالی نه مراد دا دې چه په بدن دَڅه قسمه پلیتی(نجاست) نه وی.

سوال: دَپلیتئ څوقسمونه دی؟

جواب:دَپلیتئ دوه قسمونه دی یوه حقیقی بله حکمی.

سوال: حقیقی پلیتی څه ته وائی؟

جواب :هغه پلیتی چه په نظرراځی حقیقی پلیتی ورته وائی:لکه تش بول،ډک بول،وینه ،شراب.

سوال: حکمی پلیتی څه ته وائی؟

جواب :هغه پلیتی چه په شریعت سره ئې حکم ثابت وی مګر لیدې ئې نشی.هغې ته حکمی پلیتی وائی لکه اودس ماتیدل او غُسل اَوختل.

سوال: دَ مونځ دپاره دَکومې پلیتئ نه ځان بدن پاکول ضروری دی؟

جواب:دَ دواړو قسمه پلیتئ نه بدن پاکول ضروری دی.

سوال: دَنجاست حکمیه څو قسمونه دی؟

جواب: دوه قسمونه ئې دی،یو وړوکې حکمی پلیتی اوبله لویه حکمی پلیتی.یو ته وړوکې اودس اوبل ته لوئې اودس وائی:

سوال: دَ وړوکې پلیتئ نه دَبدن پاکولوڅه طریقه ده؟

جواب:دَ وړوکې نجاست حکمی نه بدن په اودس پاکیږی.

دَ اودس بیان

سوال: اودس څه ته وائی؟

جواب:اودس دې ته وائی چه کله سړې دَمونځ اراده اوکړی نوپه صاف لوخی کښې پاکې اوبه راواخلی اول دَ مړوندونوپورې دواړه لاسونه اووینځی.بیادرې پیرې خوله اووینځی اومسواک اوکړی بیادرې پیرې پوزه اووینځی بیادرې پیرې مخ اووینځی.بیادرې پیرې اول ښې لاس دَڅنګلې سره بیاګس لاس دَ څنګلې سره اووینځی.بیادَسر او غوږونومسح اوکړی.بیابه دواړه خپې دَ غونډ هډوکی پورې اووینځی.داطریقه دَ اوداسه ده په تعلیم الاسلام اوله حصه کښې تاسو وئیلې ده.

سوال: په اوداسه کښې داتولې خبرې ضروری دی؟

جواب:په اوداسه کښې بعضې خبرې ضروری وی چه دَهغې په پاتې کیدوسره اودس نه کیږی.دې ته فرض وائی.اوبعضې داسې خبرې دی چه که هغه پاتې شی نوبیاه هم اودس کیږی. مګر ناقص وی دغې ته سُنت وائی.اوبعضې داسې دی چه دَهغې په کولوسره ثواب زیاتیږی او پاتې کیدوسره ئې هیڅ نقصان نشته دې ته مستحب وائی.

سوال: په اودس کښې فرض څو دی؟

جواب: په اودسّ کښې څلورفرض دی:

(۱) دَمخ وینځل دَتندی دَویختونه دَزنې دَلاندې پورې او دَ یو غوږ نه تربل غوږ پورې (۲) دواړه لاسونه دَ څنګلوسره وینځل (۳) دَڅلورمې حصې دَ سرمسح کول(٤) دواړه خپې دَ ګیټو پورې وینځل.

سوال: په اودس کښې څوسُنت دی؟

جواب: په اودس کښې دیارلس(۱۳) سنُت دی:

(۱) نیت کول،(۲) بسم الله وئیل،(۳) اول دواړه لاسونه تر مړوندونو پورې درې ځله وینځل،(٤) مسواک کول (٥) درې ځله خولې ته اوبه اچول(٦) درې ځله پوزه کښې اوبه اچول(۷) دَږیرې خلال کول، (۸) دَ لاسونو او خپو دَ ګوتو خلال کول،(۹) هراندام درې ځله وینځل (۱۰) یو ځل دَ ټول سر مسح کول یعنی لوند لاس پرې راښکل. (۱۱) دَ دواړو غوږونومسح کول (۱۲) په ترتیب سره اودس کول. (۱۳) پرله پسې اودس کول یعنی چه یواندم دې لا اوچ شوې نه وی او بل وُوینځې.

(علم الفقه ۱\٦١، هدایه:۱\٥، شرح نقایه ۱\۹، کتاب الفقه ۱\ ۱۰٥ تا ۱۱۲)

سوال: په اودس کښې مستحب څودی؟

جواب: په اودس کښې پنځه مستحب دی:(۱) دَښې طرف نه شروع کول اوبعضوعلماؤپه سنت کښې شمیرلی دی اوهم دا قوی دې.(۲) دَڅټ مسح کول(۳) دَ اودس کار پخپله کول یعنی

دَبل نه مددنه اخستل(٤) په اوداس کښې مخ په قبله کیناستل(٥) په پاک او اوچت ځائې اودس ته کیناستل.

سوال: په اودس کښې څومره څیزونه مکروه دی؟

جواب: په اودس کښې څلور څیزونه مکروه دی:

(١) په پلیت ځائې اودس کول(٢) په ښي لاس پوزه پاکول(٣) په اودس کښې دَدنیاخبرې کول(٤) دَسنتونه په خلاف طریقه اودس کول.

سوال: په کومو څیزونو اودس ماتیږی؟

جواب: په آته(٨) څیزونو اودس ماتیږی او دې ته اودس ماتونکی وائی:

(١) واړه یالوئې بول کول یاپه دې دواړو لارو دَخه وتل (٢) هواچه دَشاه طرف نه اوځی (٣) دَبدن دَخه ځائې نه چه وینه یاپیپ اوځی او اوبهیږی (٤). په ډکه خوله قې کول(٥) په ملاستې یاپه ډډه لږولو سره چه اوده شی(٦) دَ بیمارئ یادَبلې څه وجهې نه چه بې هوشه شی (٧) لیونې شی(٨) په مونځ کښې په زوره اوخاندی.

دَ غسل بیان

سوال: دَلوئې حکمی پلیتئ نه اودَجنابت نه دَځان پاکولوطریقه څه ده؟

جواب: دَلوئې پلیتئ یاجنابت نه بدن په غسل سره پاکیږی.

سوال: غسل څه ته وائی؟

جواب: دَغسل معنی لمبل دی مګردَلمبلو په شریعت کښې یوخاص طریقه ده.

سوال: دَغسل څه طريقه ده؟

جواب :دَغسل طريقه داده چه اول دواړه لاسونه تر مړوندونو پورې وينځى بيا استنجا اوکړى اودَبدن نه حقيقى پليتى لرې کړى. بيااودس اوکړى بياپه ټول بدن اوبه واچوى اوبدن اومګى. بياپه ټول بدن درې ځله اوبه اوبهوى غرغرې اوکړى او پوزې ته اوبه واچوى.

سوال: په غُسل کښې فرض څو دى؟

جواب: په غسل کښې فرض درې دى:

(۱) غرغرې کول.(۲) پوزې ته اوبه اچول(۳) په ټول بدن اوبه اچول.

سوال: په غُسل کښې سُنت څو دى؟

جواب: په غسل کښې پنځه سُنت دى:

(۱) دواړه لاسونه دَ مړوندونوپورې وينځل(۲) استنجا کول او کومې ځائې چه په بدن پليتى لږيدلې وى هغه لرې کول (۳) دَغُسل نيت کول(٤) اول ترې اودس کول(٥) په ټول بدن درې ځله اوبه بهول.

په موزو دَ مسحې کولو بيان

سوال: په کوم قسم موزو مسح جائز ده؟

جواب: په درې قسمه موزو مسح کول جائز دى:

اول دَڅمړې موزې چه خپې پکښې دَپړکى پورې پټې شى،دويمې هغه وړينې تاريزې موزې چه دَڅمړې تلى ورته لږ. يدلى وى.

دریمي هغه ورپنې تاریزې موزې چه دومره پیړ وی چه درې
څلورمیله مزل پکښې بغیرپیزارنه کولې شی اوشلیږی نه.

سوال: په موزوکله مسح جائز ده؟

جواب: چه اودس اوکې موزې واغوندې اوبیاچه اودس مات شی
اودس کوی نوپه موزوبه مسح کوی.

سوال: دَخوورځوپورې پې مسح جائزده؟

جواب: چه سړې په کورېعنې مقیم وی نویوه شپه ورځ اوچه په
سفرکښې وی نودرې شپې ورځې به پرې مسح کوی.

سوال: په موزوبه ځنګه مسح کوې؟

جواب: د پاس طرف نه به پې مسح کوې دَلاندې طرف نه یا دَ
پوندو په طرف مسح نه کیږی.

سوال: په اودس یاغسل دواړوکښې به په موزو مسح کوی یانه؟

جواب: په اودس کښې په موزو مسح جائز ده په غسل کښې
جائز نه ده.

سوال: مسح به ځنګه کوی؟

جواب: دَلاس ګوتې به په اوبوکښې لمدې کړې درې ګوتې به دَ
خپې دَ پنجې نه په پورته راکاږې خوګوتې به تولې ږدې صرف دَ
ګوتوسرونه ږدل پوره نه دی.

سوال: په خیرې موزو مسح جائز ده او که نه؟

جواب: که موزه دومره خیرې وه چه دَخپې درې کچې ګوتې ترې ښکاریدې یاپه تلوکښې ښکاره کیدې نوبیاپرې مسح جائزنه ده اوکه ددې نه کمه خیرې وه بیاپې جائزده.

په جَبیرهَ (پَټې) باندې د مسحې کولو بیان

سوال: جبیره څه ته وائی؟

جواب: جبیره هغې لرګی ته وائی چه دَمات هډوکی دَ پیوند کولو دپاره پرې ترې خودلته دَجبیرنه هغه لرګې پلستریادَزخم پټئ وغیره ټول مراددی.

سوال: په دې لرګی یاپټئ وغیره دَمسح کولو څه حکم دې؟

جواب: که دغه لرګې یاپټئ وغیره په لرې کولوسره نقصان کوی یا ئې لرې کول ګران وی نوبیاپرې دپاسه مسح کول جائز دی.

سوال: په څومره پټئ به مسح کوی؟

جواب: په ټوله پټئ مسح پکار ده که لاندې ترې زخم وی او که نه.

سوال: که دَپټئ سپړدلونه نقصان یاتکلیف نه وی نوڅه به کوی؟

جواب: که پټئ لرې کول آسان وی او زخم لمدول نقصان نه کولو نوپټئ به لرې کوی زخم به وینځی اوکه وینځل ورته نقصانی وی بیابه پرې مسح کوئ او که په مسح کښې هم نقصان وی بیابه ترې پټئ نه لرې کوئ په پټئ دپاسه به مسح کوئ.

دَ حقیقی نجاست (پلیتئ) بیان

سوال: دَ حقیقی پلیتئ څوقسمونه دی؟

جواب: دَ حقیقی پلیتئ دوه قسمونه دی.یوه سخته پلیتی بله سپکه پلیتی.

سوال: سخته پلیتی اوسپکه پلیتی څه ته وائی؟

جواب: کوم پلیتی چه سخته وی هغې ته غلیظه یعنی سخته پلیتی وائی اوکومه چه سپکه وی هغې ته خفیفه یعنې سپکه پلیتی وائی.

جواب: سخته پلیتی کومه کومه ده؟

جواب: دَانسانانولوئې او وړه بول او دَځناورو غوشان او دَ حرامو ځناورو بول.اودَانسانانو او څاروو بهیدونکې وینه. شراب، دَچرګې او بطحې ګندګی او تول نجاست غلیظه یعنی سخته پلیتی ده.

سوال: نجاست خفیفه کوم کوم دې؟

جواب: دَحلالوځناورو بول او دَحرامومرغوګندګی سپکه پلیتی ده.

سوال: سخته پلیتی څومره معاف ده؟

جواب: که سخته پلیتی ټینګه وه لکه لوئې بول وغیره نودَدرې نیموماشوپورې معاف ده اوکه نرمه وه لکه وړه بول یاشراب وغیره نو دَ انګریزی روپئ برابر چه خواره وی بیامعاف دی. اودَمعاف مطلب دادې چه که په دې قدرپلیتی په بدن یاکپړې لږیدلې وه نوده ورسره په هیره مونځ اوکړودامونځ ئې سره دَ کراهته اوشواوقصدًا ورسره مونځ کول جائز نه دی.

سوال: سپکه پلیتی څومره معاف ده؟
جواب: دَخلورمې حصې دَ کپړې یادَخلورمې حصې دَ یواندام نه چه کمه وی معاف ده.
سوال: د حقیقی پلیتئ نه کپړه یا بدن څنګه پاکیږی؟
جواب: دَحقیقی پلیتی که سخته وی اوکه نرمه په کپړه وی اوکه په بدن په درې ځله وینځلوسره پاکیږی .دَکپړې درې ځله نچوړول هم ضروری دی.
سوال: دَاوبونه سوا په بل څه هم پاکیږی اوکه نه؟
جواب: ها کوم څیزونه چه نرم بهیدونکی وی لکه سرکه یا دَ هندوانې اوبه ددې په وینځلوسره هم حقیقی پلیتی لرې کیدې شی.

دَاستنجابیان

سوال: استنجاڅه ته وائی؟
جواب: دَ وړولویوبولونه پس چه کومه پلیتی لرې کولئ شی هغې ته استنجاوائی.
سوال: دَتشوبولونه پس دَ استنجاڅه طریقه ده؟
جواب: دَتشوبولونه پس په پاکه لوټه ځان اوچول په کاردی اوبیائې په اوبوسره وینځل پکار دی.
سوال: دَلویو بولونه پس دَاستنجاڅه طریقه ده؟
جواب: دَلویوبولونه پس دې په دریو پاکو لوټو ځان پاک کړی بیادې په اوبوسره وینځی.

سوال: استنجا کول څه دی؟

جواب: که تش بول یالوئي بول دَخپل ځائي نه اخوادیخوا ته خواره شوی نه وی نواستنجا کول مستحب دی.اوکه اخوادیخواپلیتی په قدر دَ یوې روپۍ خوره شوې وه نوبیاسُنت دی.اوکه دَیوې روپۍ نه زیاته خوره شوې وه نوبیااستنجا کول فرض دی.

سوال: استنجاپه کوموځیزونوکول پکاردی؟

جواب: په پاکولوټو،یاکټهوسره.

سوال: استنجاپه کوموځیزونومکروه ده؟

جواب: په هډوکی ،خرشنو،غوشانو،اودَخوراک څکاک په ځیزونو، کوئله، کپړه او کاغذ سره استنجامکروه ده.

سوال: استنجاپه کوم لاس کول پکارده؟

جواب: په ګس لاس استنجا کول پکار د ی په ښي لاس سره ئې کول مکروه دی.

دَ اُوبوُ بَیان

سوال: په کومو اوبواودس کول جائزدي؟

جواب: دَباران، کوهی،چینې په اوبودَخوَړسمندرسیندهپه اوبودَ واوَرې ګلے په اوبو،دَلوئې تالاب یالوئې حوض په اوبو.په دې ټولواودس او غسل کول جائزدی.

سوال: په کومو اوبواودس کول جائزنه دی؟

جواب: دَمیوې یا اونې نچوړشوو اوبو،دَشورباآوبوپه هغه اوبوچه رنګ،خوندوبوئی ئې دَځه پاک شی په خلط (یوځائې کیدو) سره بدل شوې وی.اوتینګې شوې وی.په داسې اوبوچه لړې وی اوپلیت شې پکښې پریوتې وی یاپکښې څه ځناور مړوی.په هغه اوبوچه اودس یاغسل پرې شوې وی.په هغه اوبوچه دَپلیتئ اثرپرې غالب وی دَحراموځناورو په جوټه اوبو دَدوایانوپه عرقواودس نه کیږی.

سوال: په کومواوبوچه اودس یاغسل شوې وی هغې ته څه اوبه وائی؟

جواب: داسې اوبوته مستعملې وائی بخپله پاکې وی لیکن اودس یا غسل پرې نه کیږی.

سوال: دَکوموځناورو جوټه اوبه ناپاکې دی؟

جواب: دَسپې،خنزیر،اوښکاری ځناورجوټه اوبه پلیتې دی.دغه شان دَ پیشوچه بل ځناور یا منګګ اوخوری اوفورًا اوبه اوڅکی دغه جوټه هم پلیته ده.کوم سړی چه شراب اوڅکل اوفورًائې اوبه اوڅکلې دغه جوټه هم پلیته ده.

سوال: دَکومو ځناورانو جوټه اوبه مکروه ده؟

جواب: دَپیشو (خوچه منګګ ئې نه وی خوړلې دغه وخت کښې) دَمنګګ،سمسارې،چرګ،پلیتی خوړونکې غوامیخې کارغه،باز،شکری اودَټولوحراموځناورو جوټه مکروه ده.

سوال: دَکوموځناورو جوټه پاکه ده؟

جواب: دَانسانانو اوحلالوځناورو جوټه پاکه ده .لکه غوا بیزه کونتره،اس وغیره.

سوال: کومې اوبه په پلیتئ غورزیدوسره پلیتیږی؟

جواب: دَ دوه اوبونه نورې ټولې اوبه په پلیتئ غورزیدوسره پلیتیږی.اول دَخوږسیندولې بهیدونکې اوبه،دویم ولاړے او زیاتې اوبه،لکه لوئې تالاب یالوئې حوض.

سوال: دَحصاروزیاتواوبومقدارڅه دې ؟

جواب: کومې اوبه چه په نمبری ګزسره پنځه نیم ګزه پلنې اوپنځه نیم ګزه اوږدې وی دغه زیاتې اوبه دی.کوم خوض یاتالاب چه دومره وی هغه لوئې خوض او لوئې تالاب دې.

سوال: دَپلیتئ غوزیدو نه سوابل دَڅه شی په غورزیدولږې اوبه پلیتیږی.

جواب: که په اوبوکښې داسې څه ځناور اولویږی او مړشی چه بهیدونکې وینه پکښې وی لکه چنچړه ،چړګ،کونتره،پیشو منګګ وغیره نواوبه پلیتی شوې.

سوال: دَلوئې تالاب یاخوض اوبه کله ناپاکه کیږی؟

جواب: کله چه په هغې کښې دَپلیتئ رنګ،بوئی یا خوند ښکاره شی.

سوال: دَکوموځناورو په اوبوکښې په مرګ اوبه ناپاکه کیږی؟

جواب: کوم ځناورچه په اوبوکښې پیداکیږی اوپه اوبوکښې اوسی لکه مهې،چیندخ،اوهغه ځناورچه بهیدونکې وینه پکښې نه وی لکه مچ،ماشې مچئ میږې وغیره سره اوبه نه پلیتیږی.

دَ کوهی بیان

سوال: کوهې په کوموځیزونوپلیتیږی؟

جواب: که سخته یاسپکه پلیتی کوهی ته اولویږی یا دَبهیدونکې وینې والا ځناور کوهی ته اولویږی او مړشی نوکوهې پلیت شو.

سوال: که یوځناورکوهی ته اولویږی او ژوندې ترې راویستلئ شی نوکوهې پاک دې که پلیت؟

جواب: که داسې ځناورِ ورته اولویده چه جوته ئې ناپاکه وه یائې بدن پورې پلیتی وه نو کوهې ناپاک شو اوهغه حلال یا حرام ځناور چه جوته ئې پاکه وی اوپه بدن ئې پلیتی نه وی نو ترڅوچه دَتشوبولویادِ کوبولوکولوپه کوهی کښې یقین نه وی پاک دې.

سوال: چه کوهې پلیت شی دَپاکولوئې څه طریقه ده؟

جواب: دَکوهی دَپاکولوپنځه طریقې دی:

(۱) چه کوهی ته پلیتی اولویږی نوټولې اوبه ترې راؤباسې.

(۲) اوکله چه سرېِ بدلیوه،سپې،بیزه،پیشویادَدې پشان یاترې غټ بل څه کوهی ته اولویږی اومړ شی نوټولې اوبه به ترې راوباسی.

(۳) اوکه دَبهیدونکې وینې ځناورپه کوهی کښې مړشی او پړسیدو او اورژیدو نو ټولې اوبه به ترې راؤباسې که هغه وړوکې وی اوکه لوئې وی.

(٤) او کله چه کونتره،چړک،پیشو یا دومره لوئې بل ځناور کوهی ته اولویږی لیکن پړسیدلې نه وی نوڅلویښت بُرقې به ترې راؤباسې .

(٥) اوکه منګک ،چنچنړه یا بل دومره ځناور کوهی ته اولویږی او مړشی نوشل بُرقې به راؤباسې .دَشلوپه ځائې دیرش اودَڅلویښتوپه ځائې شپیته بُرقې راویستل مستحب دی.

سوال: که مړځناورکوهی ته اولویږی نوڅه حکم دې؟

جواب:دَمړهم دغه حکم دې کوم چه دَ ژوندی غورزیدلی اومړشوی حکم دې.مثلاً مړه بیزه ورته پریوته نوټولې اوبه اوپیشومړه پریوته نوڅلویښت یاشپیته بُرقې اومړمنګک پریوت نوشل یا دیرش بُرقې به راؤباسې.

سوال: که پړسیدلې رژیدلې ورته اولویږی نوڅه حکم دې؟

جواب:هم هغه حکم دې کوم چه پکښې مړشی اوپړسیږی او اورژیږی په کښې ټولې اوبه به راویستې شی.

سوال: که دَ کوهی نه مرځناور راوستې شی اومعلومه نه وی چه کله پریوتې دې؟ نوڅه حکم دې؟

جواب: دَکوم وخت نه چه اولیدئ شی نودَهغې وخت نه به کوهې پلیت ګنړلئ شی.

سوال: دَبُرقې نه څومره بُرقه مراد ده؟

جواب: په کوم کوهې چه کومه بُرقه پرته وی هغه معتبره ده.

سوال: څومره بوقے ویستل چه غواړی دابه پرله پسې اوباسې اوکنه لږې لږې په ځانله وخت کښې هم جائزې دی؟

جواب: په جُدا جُدا وخت کښې ئې ویستل هم جائزدی مثلاً چه شپیته بُرقې ویستل وی شل سحرشل غرمه او شل مابنام اوباسئ.داجائز دی.

سوال: په کومه بُرقه اورسئ چه دَپلیت کوهی اوبه راوباسلئ شی هغه بیاپاکه ده که پلیته؟

جواب: چه دومره اوبه پرې راویستې شوې چه کوهې پاک شو نو رسئ اوبوکښې هم پاکه شوه.

دتعلیم الاسلام دویمه حصه ختمه شوه

تعلیمُ الاسلامْ (دریمه حصه)

اوَلَه شعبه

(معروف په) تعلیم الایمان یا اسلامی عقائد

بِسمِ اللّٰهِ الرَحمنِ الرَحِیمِ ط

توحید

سوال: دَ توحید څه معنی ده؟

جواب: په زړه سره الله پاک یوګڼړل اوپه ژبه سره ئې اقرار کولوته توحیدوائی.

سوال: دَالله پاک دَیو والی علم مخلوق ته څنګه اوشو؟

جواب: اول خو دَ انسان عقل (په دې شرط چه صحیح وی) دَ الله پاک دَ موجود کیدواودَهغه دَ یووالی یقین لری اوپه دې وجه په دنیاکښې لوئې لوئې عقلمند حکیمان اوفلسفیان جوړشوې دی او دَ الله پاک دَ یووالی قائل شوې دی.بله داچه دَالله پاک ټولوپیغمبرانوپه اتفاق سره مخلوق ته دَتوحیدتعلیم ورکړې دې او دائې ورته خودلې دی چه الله پاک یودې دَهغه مثل بل نشته.اونه ئې څوک شریک شته.

سوال: په قرآن کریم کښې هم دَتوحید تعلیم شته دې؟

جواب: آؤ،په قرآن کریم کښې په اعلیٰ او کامله طریقه سره دَ توحید تعلیم ورکړې شوې دې بلکه نن په دنیا کښې صرف قرآن کریم یو داسې کتاب دې چه خالص دَتوحیدتعلیم ورکوی،اګرچه په مخکینو آسمانی کتابونو کښې هم دَتوحیدتعلیم وو لیکن په هغې کښې خلقو اول ردوبدل کړی

دی اودَتوحیدخلاف خبرې ئې پکښې داخلې کړې دی.اودَالله پاک هغه رالیږلی شوی کتابونه ئې بدل کړی دی. دَ هغې دَاصلاح دپاره او دَ سُوچه توحیدپه دنیاکښې دَخوره ولودپاره الله پاک حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راؤلیږه او خپل خاص کتاب قرآن پاک ئې پرې نازل کړو.اوپه دې کښې ئې صفا صفا اودَ رښتونی توحیدتعلیم اوکړو.

سوال: دَقرآن پاک دَکوم آیات نه توحیدثابتیږی.

جواب: ټول قرآن پاک دَاول نه ترآخره پورې دَتوحیددَتعلیم نه ډک دې.یوڅوآیاتونه پکښې دادی:

وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦٣﴾

ترجمه: اوستاسومعبوديوالله دې دَهغه نه سوابل هیڅ څوک معبودنشته هغه ډیربخښونکې اومهربانه دې.(بقره:١٩)

شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًا بِالْقِسْطِ ۭ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾ (آل عمران :٢)

ترجمه: "الله پاک ګواه دې چه دَالله پاک نه سوابل معبود نشته اوفرښتې اواهل علم هم ددې خبرې ګواهی کوی هغه انصاف قائم ساتونکې دې دَهغه نه سوابل معبود نشته هغه غالب حکمت والادې.دغه شان بې شمیره نور ډیرآیاتونه دَخدائې پاک دَتوحیدتعلیم ورکوی.لکه :

"قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ "اووایه چه الله پاک یودې.

سوال: دَ خدائې پاک ذاتی نوم څه دې؟

جواب: دَ خدائې پاک ذاتی نوم "اللّٰه" دې دې ته اسمِ ذات او اسم ذاتی هم وائی.

سوال: دَلفظ اللّٰه نه سوا دَاللّٰه پاک نوررونومونولکه خالق رازق وغیره ته څه وائی؟

جواب: دَلفظ اللّٰه نه سوا دَ اللّٰه پاک نوررونومونوته صفاتی نومونه وائی.

سوال: دَ صفاتی نوم څه معنی ده؟

جواب: دَ اللّٰه پاک ډیرصفتونه دی لکه قدیم یعنې دَ همیشه نه دې او همیشه به وی.عالم یعنې په هریوخیزپوهه.قادر یعنې په هرڅه طاقت او قدرت لرونکې حی یعنې همیشه ژوندې وغیره وغیره.نو کوم یو نوم چه دَاللّٰه پاک په دې صفتونوکښې یوصفت ظاهره وی هغې ته صفاتی نوم وائی.دَدې مثال داسې دې لکه دَیوسړی نوم جمیل دې چه داصرف دده دَذات دَ پیژندګلودپاره اېښودلئ شوې دې دَڅه صفت لحاظ په کښې نشته.لیکن هغه علم هم کړې دې لیکل هم کولئ شی او قرآن پاک ئې هم یاد دې.نودَدې صفتونوپه لحاظ سره ده ته عالم منشی او حافظ هم وائی.نوجمیل دده ذاتی نوم دې او عالم منشی حافظ ته ئې صفاتی نومونه وائی.ځکه چه دده دَعلم دَصفت دَ خط لیکلودَصفت او یا قرآن دَیادولودَصفت په وجه ورته دانومونه ایخودې شوی دی.په

دي شان سره لفظ الله دَخدائي پاک ذاتی نوم یااسم ذات دي او خالق قادر عالم مالک وغیره ئي صفاتی نومونه دی.

سوال: دَخدائي پاک ذاتی نوم خوصرف یو لفظ الله دي صفاتی نومونه ئي څومره دی؟

جواب: په قرآن مجیدکښي الله پاک فرمائی وَلِلّٰهِ الاَسمَاءُ الحُسنی فَادعُوهُ بِهَا(اعراف:۲۲) یعنی دَ خدائي پاک ډیرښه نومونه دی نوپه دي نومونوسره هغه یادوئ.

او په شریعت کښي دی اِنَّ لِلّٰهِ تَعَالٰی تِسعَةً وَتِسعِینَ اِسماً مِائَةً اِلاَّوَاحِدًا(بخاری) بي شکه دَالله تعالی لس اتیایعنی یوکم سل(۹۹) نومونه دی.

ملائکي (یعنی فرښتي)

سوال: دَمقربو فرښتونه سیوا دَ نوروتولوفرښتومرتبه خپل مینځ کښي دَیوبل سره برابر ده اوکه کمه یا زیاته مرتبه لری؟

جواب: څلورمقربي فرښتي چه د کومو نومونه تاسو دتعلیم الاسلام په دویمه حصه کښي لوستلي دی. هغوی دَتولو فرښتونه غوره دی.دَ هغوی نه علاوه نوري فرښتي هم پخپلو کښي کمي زیاتي مرتبي لری څوک زیاتي مقربي اوڅوک کمي.

سوال: فرښتي څه کارکوی؟

جواب: په آسمانونو او زمکه کښي بي شماره فرښتي په مختلفوکارونومقرردی.ګویا چه دَآسمانونواوزمکي تول انتظامات الله پاک دَحکم مطابق پوره کوی.

سوال: دَفرښتوځه کارونه اوښایئ؟

جواب :حضرت جبرائیل عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ به دَخدائي پاک پیغامونه او احکامات او کتابونه پیغمبرانوته راوړل.بعضې وخت به ئې دَ پیغمبرانو مدد هم کولودَخدائي پاک دَدښمنانوسره به دَ جنګ دپاره هم رالیږلې شو. اوبعضې وخت به خدئې پاک په نافرمانوباندې عذاب هم دده په ذریعه رالیږه.حضرت میکائیل عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ مخلوق ته په رزق رسولو مقرر دې او دَباران وغیره انتظام هم ورسره دې اوبې شمیره فرښتې دده په ماتحتئ کښې کارکوی بعضې په هواګانومقرردی بعضې په وریځو اوبعضې په دریابونوتالابونواونهرونومقرردی.اودَدې ټولوځیزونوانتظام دَ خدائې پاک دَحکم مطابق کوی.

حضرت اسرافیل عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ به په قیامت کښې شپیلئ وهی.حضرت عزرائیل عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ دَمخلوق په روحونو ویستلو مقرر دې. دده په ماتحتئ کښې هم بې شماره فرښتې کارکوی.دَنیکوبندګانوروح ویستونکې فرښتې جدا دی اودَبدکارو دَ روح ویستو جُدا دی.ددې نه علاوه دَ فرښتونورکارونه دا دی.

(۱) دَهریوانسان سره دوه فرښتې وی یوه فرښته ورته نیک کارلیکی اوبله ورته بدکارلیکی.دې فرښتوته کِرَامًا کاتبین (یعنی عزتمندلیکونکی) وائی.

(۲) څه ملائکې دَخلقوپه حفاظت مقرردی او آفتونونه او بلاګانونه بچ کوی بوډاګان کمزوری اودَکوموخلقوپه باره کښې چه دَالله پاک حکم کیږی دَهغوی حفاظت کوی.
(۳) څه فرښتې په قبرکښې په سوال جواب مقرردی دَهریوانسان قبرته دومر فرښتې راځی دوی ته منکرنکیروائی.
(٤) څه فرښتې په دې کارمقرردی چه په دنیاکښې ګرځی اوکوم ځائې چه دَالله ذکرکیږی وعظ کیږی داسې مجلسونوته حاضریږی اوکوم خلق چه په دې مجلسونواونیکوکارونوکښې شریک وی دَهغوی دپاره دَ خدائې پاک په مخ کښې ګواهی کوی.
په دنیاکښې چه څومره فرښتې کارکوی سحراوماښام دَدوی بدلی هم کیږی.دَسحردَمونځ په وخت کښې دَشپې فرښتې آسمان ته ځی او دَ ورځې کارکونکې راځی.دَمازیګر دَمونځ نه پس دَ ورځې فرښتې ځی او دَشپې کارکونکې راځی.
(٥) څه فرښتې دَجنت په کاروباراوانتظام مقرردی.
(٦) څه فرښتې دَ دوزخ په انتظام مقرردی.
(۷) ځنې فرښتودَالله پاک عرش اوچت نیولې دې.
(۸) څه فرښتې دَ خدائې پاک په عبادت تسبیح اوثناء کښې صفت او پاکئ بیانولو کښې مشغولې دی.
سوال: داڅنګه معلومه شوه چه فرښتې داکارونه کوی؟
جواب:داټولې خبرې په قرآن شریف اواحادیثوکښې ذکردی.

دَ اللہ تعالی کتابونه

سوال : دَ تورات،انجیل،زبور دَخه نه پته اولږیده چه داآسمانی کتابونه دی؟

جواب :دَدې درې واړوکتابونودَاسمانی کیدوپته په قرآن سره ثابته ده.دَتورات په باره الله پاک فرمائی.اِنَّا اَنزَلنَاالتورٰةَ فِيهَا هُدًى وَنُور(مائده:٧٤)

بې شکه مونږ تورات رالیږلې دې چه په دې کښې هدایت او نوردې.

دَزبورپه باره کښې فرمائی:"وَآتَینَادَاؤدزَبُورًا(نساء:٢٣)

اومونږ داؤد ته زبورورکړو.

دَانجیل په باره کښې فرمائی:"وَقَفَینَابِعَیسیَ ابنِ مَریَمَ وَآتَینَاهُ الاَنجَیلَ"(حدید:٤٥)

اومونږ عیسی ابن مریم لره اولیږه او ده ته موانجیل ورکړو.

پس مسلمانانوته ددې درې واړوکتابونودَقرآن پاک نه پته اولږیده چه داآسمانی کتابونه دی.

سوال : که څوک دَ تورات،انجیل ،زبور انکاراوکړی چه دادَخدائې پاک کتابونه نه دی نودې څنګه دې؟

جواب : داسې سړې کافردې،ځکه چه دَدې کتابونوثبوت په قرآن سره شوې دې نوڅوک چه دادَخدائې پاک کتابونه نه منی هغه دَقرآن خبره نه منی اوڅوک چه دَقرآن خبره نه منی هغه کافر دې.

سوال : داتورات،انجیل،زبور کوم چه دَعیسایانوسره اوس موجوددی هم هغه اصلی آسمانی کتابونه دی؟

جواب :نه دی.ځکه چه دَقرآن پاک نه داخبره ثابته ده چه په دې کتابونوکښې دوی ردوبدل کړې دې نوپه دې وجه داموجوده تورات،انجیل،زبور هغه اصلی آسمانی کتابونه نه دی بلکه په دې کښې تحریف(ردو بدل) شوې دې نوپه دې وجه په دې موجوده کتابونوداېقین نه دی کول پکار چه داهغه اصلی آسمانی کتابونه دی.

سوال : داځنګه معلومه شوه چه په بعضې پیغمبرانوباندې صحیفې نازلې شوې وې؟

جواب :په قرآن سره ثابت دی چه په بعضې پیغمبرانوباندې صحیفې نازلې شوې وې دَابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ دَصحیفوذکرپه سورة اعلی (پاره۳۰) کښې موجوددې.

سوال: قرآن پاک دَالله پاک کتاب دې که کلام ؟

جواب :قرآن پاک دَخدائې پاک کتاب هم دې او دَخدائې پاک کلام هم دې.په قرآن پاک کښې ئې دې ته کتاب الله هم وئیلی دی اوکلام الله هم.

سوال: په تورات،انجیل،زبور او قرآن شریف کښې افضل کوم یودې؟

جواب: قرآن مجیددَټولونه افضل کتاب دې.

سوال: دَقرآن پاک په مخکینوکتابونوڅه فضیلت دې؟

جواب:ډیرفضیلتونه ئې دی چه یوځوپکښې دادی؟

(۱) دَقرآن پاک یویوحرف اویویولفظ محفوظ دي.دَیوې نقطې کمې زیاتې پکښې نه دي شوې اونه به پکښې دَقیامت پورې اوشي. اوپه مخکینوکتابونوکښې خلقو ردو بدل (تحریف) کړې دې.

(۲) دَ قرآن مجید عبارت دومره دَاوچتې درجې دې چه دَیووړوکی نه دَوړوکی سورة مثل ئې هم تراوسه چاجوړنه کړې شو.اونه به جوړکړئ شي.

(۳) قرآن شریف دَآخری شریعت احکام راوړی دی نوپه دې وجه ډیرو احکاموږمخکینوکتابونوډیراحکام منسوخ کړې دی.

(٤)مخکښې کتابونه په یووارجمع نازل شوی دی اوقرآن شریف په دریش(۲۳) کاله کښې لږ لږ دَضرورت مطابق نازیلیدل.ددې لږ لږ نازلیدووجه داوه چه دَخلقوپه زړونوکښې ننوزی اواحکام ئې په یوځائې په خلقوبوج نشي.

(٥) قرآن پاک دَزرګونوخلقو په سینوکښې محفوظ دې اودا سینه په سینه حفاظت دَرسول پاک صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَزمانې نه برابر راروان دې.اونشاء الله تعالی چه دَقیامت پورې به جاری وی.اوددې سینه په سینه دَحفاظت په وجه دَاسلام دښمنانوته چرته داموقع په لاس نه ورځې چه په قرآن شریف کښې څه کمې زیاتې اوکړی.یائې دَدنیانه ورک کړی اونه به ورته دَ قیامت پورې (که دَخدائې رضا وی) موقع ملاؤشي.

(٦) دَ قرآن مجیداحکام داسې معتدل دی چه دَهرې زمانې او هریوقوم سره مناسب دی.په دنیاکښې داسې یوقوم نشته چه په قرآن مجیددَعمل کولونه ناچاره وی.

په دې وجه دَقران پاک دَنازلیدو نه پس دَ بل شریعت اوآسمانی کتاب حاجت نشته اودَحضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رسالت دَټولې دنیادپاره عام دی.

رسَالَت (پیغمبری)

سوال : دَ ټولوپیغمبرانوشماراونومونه خونه دی معلوم مګر دَ مشهورو پیغمبرانوځه نومونه واخلئ:

جواب :دَمشهوروپیغمبرانوځه نومونه دادی:حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت شیث عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت ادریس عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت اسمعیل عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت اسحق عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت یوسف عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت هارون عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت زکریا عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت یحيٰ عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت الیاس عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت صالح عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت یونس عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت هود عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت شعیب عَلَيْهِ السَّلَام، حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام، اوحضرت خاتم النبیین حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

سوال: حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعربودَکوم خاندان نه دې؟

جواب: حضرت محمد ﷺ دَ قریشودَخاندان نه دي. دَ عربو په تولو خاندانونوکښې دَقریشودَخاندان عزت او مرتبه زیاته وه. او دَ قریشودَخاندان خلق دَ نوروعربوخاندانونوسرداران ګڼړلې کیدل. بیا دَ خاندان دَقریشویوشاخ بنی هاشم وو چه دوی دَ قریشو دَ نوروخاندانونونه زیات عزت مندوو. حضورپاک ﷺ دَ دغې بنوهاشم دَشاخ نه وو په دې وجه حضورپاک ﷺ ته هاشمی هم وائی.

سوال: هاشمیان څوک وو چه اولاد ته ئې بنوهاشم وائی؟

جواب: دَحضورپاک ﷺ دَ غْوَرنیکه نوم هاشم وو دَ دوی ﷺ دَنسب سلسله داسې ده. محمد ﷺ بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف.

سوال: دَحضورپاک ﷺ په پشتونوکښې دَحضرت آدم علیه السلام نه پس بل پیغمبرشته که نشته؟

جواب: آؤ، دوی دَحضرت اسماعیل علیه السلام په اولادکښې دی. او حضرت اسماعیل علیه السلام دَحضرت ابراهیم علیه السلام ځوئ دې او دَ دوی نه علاوه حضرت نوح علیه السلام حضرت ادریس علیه السلام او حضرت شیث علیه السلام دَحضورپاک ﷺ دَنسب په سلسله کښې داخل دی.

سوال: حضورپاک ﷺ ته په څومره عمرکښې پیغمبری ملاؤ شوې وه؟

جواب: دَحضور ﷺ عمرمبارک چه څلویښت کاله شو نو وحی پرې نازله شوه.

سوال: دَوحی نه څه مراد دي؟

جواب: دَ وحی نه مراد دادي چه خدائي تعالی خپل احکام اوخپل کلام په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نازلول شروع کړل.

سوال: دَوحی نازلیدو نه پس څومره ورځې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ژوندې وو؟

جواب: دریش(۲۳) کاله دیارلس(۱۳) کاله په مکه مکرمه کښې او لس کاله(۱۰) په مدینه منوره کښې.

سوال: مدینې منورې ته دوی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولې لاړه؟

جواب: هرکله چه حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَمکې خلقوته دَ توحید تعلیم ورکړو او ورته ئې اووئیل چه دَبُتانو عبادت پرېږدئ او په یوخدائې ایمان راؤړئ نودغه خلق ئې دښمنان شو.ځکه چه دوی به دَبُتانوعبادت کولو اوخپل خُدایان به ئې ګنړلو.اوحضورته به ئې قسم قسم تکلیفونه رسول حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به داسختئ برداشت کولئ او دَتوحیدتعلیم به ئې ورکولو اودَاللّٰه حکمونه به ئې رسول. نو چه دَدوی دښمنی دَحدنه زیاته شوه او ټولوپه جمع دَ حضور دَ قتل کولو اراده ئې اوکړه نوحضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَاللّٰه په حکم خپل خوږ وطن مکه معظمه پرېښوده مدینې منورې ته ئې تشریف یوړو.دَمدینې منورې خلق دَمخکښې نه مسلمانان شوی وو. او دوی دَحضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راتللوته ډیرپه شوق کښې شوی وو. نوکله چه حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مدینې منورې ته تشریف

راؤړو نودې مسلمانانودَحضورپاک ﷺ اودَدوی ﷺ دَملګرو په خپل جان او مال سره مدد اوکړو.

دَحضورپاک ﷺ دَتشریف راؤړو نه پس نورمسلمانان هم چه کافروورته آزاررسولو مدینې ته تشریف راؤړو.

دَحضورپاک ﷺ دَمکې نه مدینې منورې تلوته حجرت وائی اودغې مسلمانانوته چه دَمکې نه ئې مدینې منورې ته هجرت کړې دې دوی ته مهاجرین وائی.اودَمدینې هغې مسلمانانوته چه دَحضورپاک ﷺ اودَدې مهاجرینومدد اوکړه دوې ته انصار وائی.

سوال : دَحضورپاک ﷺ دَنبوت دَدعوې نه اول به دَعربوخلقوده ته څه وئیل؟اوڅنګه به ئې ګنړلو؟

جواب: دَنبوت دَدعوې نه مخکښې به ټولو خلقو ده ته رینښتونې پاکباز،امانت دار ګنړلو.محمدآمین به ئې ورته وئیلو.چه مطلب ئې دا دې چه دې ﷺ دَهغوی په نزد ډیرمعتبر او رښتونې وو،اوټولوخلقوبه دَدوی ډیرعزت کولو.

سوال: ددې خبرې څه دلیل دې؟ چه حضور ﷺ دَټولونه ورستې پیغمبردې اودَدوی ﷺ نه پس به بل نبی رانشی؟

جواب : اول داچه په قرآن مجیدکښې الله پاک دوې ته خاتم النبیین فرمائیلی دی چه دَدې مطلب دا دې چه دوی ﷺ دَټولوپیغمبرانوآخری پیغمبردې.بل داچه حضورپاک ﷺ پخپله فرمائیلی دی."اَنَا خَاتَمُ النَّبِیِّینَ لَا نَبِیَّ بَعْدِیْ" . زه آخری پیغمبریم زمانه

پس بل نبی نشی راتلئ.دریم داچه په قرآن شریف کښې الله پاک فرمائی:"نن ماستاسودپاره ستاسو دین مکمل کړو او خپل نعمت مې درباندې پوره کړو او ستاسو دپاره مې دَاسلام دین غوره کړو"(مائده:۱۵)
ددې نه ثابته شوه چه دَحضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ذریعه الله پاک دین مکمل کړې دې اواسلام په هرشان سره کامل دین ګرځولئ دې.نوپه دې وجه دَحضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پس دَبل پیغمبردَراتلوضرورت نشته.

سوال: دَدې خبرې څه دلیل دې چه حضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَ ټولوپیغمبرانونه په مرتبه کښې زیات دې؟

جواب: دَحضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَټولوپیغمبرانونه غوره والئ په قرآن پاک سره ثابت دې او پخپله حضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم فرمائیلې دی "أَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ". دَقیامت په ورځ به زه دَټول اولاددَآدم سرداریم.اوداښکاره خبره ده چه په اولاددَآدم کښې ټول پیغمبران هم شامل دی.نوحضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَټولوپیغمبرانونه افضل او دَدوی سردار شو.

د صحابه کرامو (رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ) بیان

سوال: صحابی چا ته وائی؟

جواب: صحابی هغه چاته وائی چه دَایمان په حالت کښې ئې نبی صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لیدلې وی یا د هغوی په خدمت کښې حاضر شوې وی اوبیا د ایمان په حالت کښې وفات شوې وی.

سوال: صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څوک دی؟

جواب: په زرګونو دی چه دَدوی په خدمت کښې حاضر شوی دی او دَایمان په حالت کښې وفات شوې دی.

سوال: ټول صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په مرتبه کښې برابر دی که کم زیات پکښې شته؟

جواب: دَصحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ مرتبې پخپل مینځ کښې کمې زیاتې دی. لیکن ټول صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دَباقی امت نه غوره دی.

سوال: په صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کښې دَ ټولونه افضل صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کوم کوم دی؟

جواب: په ټولو اصحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کښې څلور دَټولونه زیات افضل دی: اول حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چه دَټول اُمت نه غوره دي، دویم حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چه دَابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه علاوه دَ نور ټول اُمت نه غوره دي. دریم حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چه ددې مذکوره دوه اصحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نه سوا باقی ټول اُمت نه غوره دي څلورم حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چه ددې دریو نه سوا دَباقی ټول اُمت نه غوره دې.

دا څلور بزرګان دَحضور پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پس دَ هغوی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلیفه ګان شوی دی.

سوال: دَخلیفه مطلب څه دې؟

جواب: دَ حضورپاک ﷺ دَتشریف راوړو نه پس دَ دین دَکار په سنبهالولو او کوم انتظامات چه حضورپاک ﷺ فرمائیلی دی دَهغې په قائمولوکښې چه کوم سړې دَ هغوی ﷺ قائم مقام شونوهغه ته خلیفه وائی.دَخلیفه معنی قائم مقام او نائب دې.

دَحضورپاک ﷺ دَ رحلت(وفات) نه پس ټولومسلمانانوپه اتفاق سره حضرت ابوبکرصدیق رضی اللہ عنہ دَدوی اولنې خلیفه جوړکړې شو.دَدوی نه پس حضرت عمر رضی اللہ عنہ دویم خلیفه اوبیاحضرت عثمان رضی اللہ عنہ دریم اوبیاحضرت علی رضی اللہ عنہ څلورم خلیفه مقرر کړې شو.دې څلورو واړو ته خلفائې اربعه خلفائے راشدین او چار یاران وائی.

دَ ولایت او دَ اولیاءُ الله بیان

سوال: ولی څه ته وائی؟

جواب: کوم مسلمان چه دَ الله پاک اودَرسول الله ﷺ دَحکمونو تابعداری کوی اوډیرعبادت کوی اودَګناهونونه ځان ساتی دَالله پاک رسول ﷺ محبت ورته دَدُنیا نه اودَدنیا دَټولو څیزونونه زیات وی نودې دَالله پاک مقرب اودوست شی نوده ته ولی وائی.

سوال: ولی څنګه پیژندې شی؟

جواب: دَ ولی پیژندګلوداسې کیږی چه مسلمان متقی پرهیزګاروی ډیر عبادت کوی.دَالله پاک اورسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ محبت پرې غالب وی. دَدنیا حرص ئې نه وی.هروخت ورسره دَ آخرت خیال وی.

سوال: صحابې ته ولې وئیلې شی.

جواب: آؤ ټول صحابه ﷺ دَ خدائې ولیان دی څکه چه دَ حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ دَمجلس په وجه اوبرکت سره دَدوی په زړونوکښې دَخدائې او رسول محبت غالب وو،دَدنیا سره ئې محبت نه وو، ډیرعبادت ګذار وو،دَګناهونونه به ئې څان ساتلو دَخدائې او دَ رسول دَحکمونوتابعداری به ئې کوله.

سوال: آیا ولی یاصحابې دَ نبې سره برابر کیدې شی؟

جواب: هرګزنه.صحابې یاولی که هرخومره ډیره لویه مرتبه لری خودَنبې برابرکیدې نشی.

سوال: داسې ولی چه صحابې نه وی دَصحابې سره په مرتبه کښې برابر کیدې یاترې زیاتیدې شی؟

جواب: دَصحابیت فضیلت ډیرزیات دې نویوولی چه صحابې نه وی په هیڅ وجه دَصحابې سره برابرکیدې یا ترې زیاتیدې نشی.

سوال : بعضې خلق دَ شرع نه خلاف کارونه کوي.مثلاً مونځ نه کوي.ږيره خروي او خلق ورته ولی وائی نوداسې خلق وليان کيدې شي.

جواب : دابالکل غلطه ده داسې خلق هرګزوليان کيدې نشي.چه دَشريعت نه خلاف کارونه کوي څنګه به ولی جوړشي.

سوال: داسې وليان هم شته چه شرعی احکام مثلاً مونځ روژه ورته معاف شي؟

جواب: ترڅوپورې چه دَبنده هوش حواس په ځائې وي او دَ روژې نيولو طاقت لري.عبادت ورته معاف کيدې نشي.اونه دَګناه څه خبره ده لره جائز کيدې شي.کوم خلق چه سره دَطاقت اوهوش اوحواس ئې سلامت وي اوعبادت نه کوي خلاف شرع کارونه کوي اووائی چه دازموږ دپاره جائز دی دغه بې دينه دی وليان هرګزنه دی.چه په شريعت برابر نه وي هغه به څنګه ولی شي.

دَ معجزې او کرامت بيان

سوال: معجزه څه ته وائی؟

جواب: الله پاک کله کله دَخپلوپيغمبرانو په لاس داسې خلاف عادت خبرې ښکاره کوي چه دَهغې دَکولونه دَدنيا نورخلق عاجزه وي.ددې دپاره چه خلق داخبرې اووينی اوپوهه شي چه دادَخدائې پاک راليږلې پيغبردې.داسې خبروته معجزه وائی.

سوال: پیغمبرانوکومې کومې معجزې خودلې دی؟

جواب : پیغمبرانودَخدائې په حکم سره بې شمیره معجزې خودلې دی.چه یوځومشهورې معجزې پکښې دادی:

دَحضرت موسی عَلَیۡهِ ٱلسَّلَامُ همسا) دَماریه شکل شوه او دَ جادوګرو دَ جادوټول ماران ئې تیرکړل.اوپه لاس ئې داتاثیرالله پاک ایښودې وو چه رنړابه ئې په نمرغالبه شوه.اوپه دریاب نیل کښې ورته لارې جوړې شوې او دوی پرې پورې وتل اوچه فرعونیان ورته راغلل نوغرق شول پکښې.حضرت عیسی عَلَیۡهِ ٱلسَّلَامُ به دَخدائې په حکم سره مړی ژوندی کول.مادرزاد ړانده به ئې بیناکول دَ خاورونه به ئې مرغۍ جوړه کړه او والوته به.

زمونږ دَحضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ دَټولونه غټه معجزه قرآن مجید دې چه څوارلس سوه کاله زمانه تیرهَ شوه لیکن ترننه پورې په عربۍ ژبه کښې سره دَدې چه لوئې لوئې فاضلان عالمان پیدا شوې دی خودده دَیووړوکی نه وړوکې سورة مثل ئې نه دې پیش کړې .اونه به دَقیامت پورې څوک پیش کړی.بله معجزه دَحضورپاک صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ معراج دې او دریمه ئې شق القمردې څلورمه معجزه ئې داده چه دَ راتلونکې زمانې په باره کښې ئې دَالله پاک په خودنې سره داسې خبرې خودلې دی چه اوس ټولې حرف په حرف صحیح کیږی.

پنځمه معجزه دَحضورپاک ﷺ داده چه دوی دَدُعاپه برکت دَیودوه سړو رزق دَسوونوخلقودپاره پوره شو.

ددې نه علاوه نورې په سوونومعجزې دی چه په لویوکتابونوکښې به ئې تاسو اووائې.

سوال: معراج څه ته وائی؟

جواب: دَالله په حکم سره حضورپاک ﷺ دَ شپې په بیدارئ کښې په بُراق سورشو دَمکې معظمې نه تربیتُ المقدس پورې اوبیادَهغه ځائې نه اووه(۷) آسمانونو ته اوبیا کوم ځائې ته چه دَالله تعالی رضا وه تشریف یوړو.په دغه شپه ئې جنت او دوزخ هم اوکتل اوبیاخپل مقام ته واپس راغلو دې ته معراج وائی.

سوال: دَ شق القمر نه څه مراد دې؟

جواب: دشق القمر نه مراد دادې چه یوه شپه دَمکې کافرانو حضورپاک ﷺ ته اووئیل چه مونږ ته څه معجزه اوښایه نوحضورپاک ﷺ سپوږمئ دوه ټکړې کړه او ټولوحاضرینو هغه اولیده اوبیاهغه دواړه ټکړې یوځائې شوې. اوسپوږمئ بیاچه څنګه وه هغه شان شوه.

سوال: کرامت څه ته وائی؟

جواب: الله پاک دَ خپلو نیکو بندګانو دَ عزت زیاتولو دپاره کله کله دَ دوی په ذریعه سره داسې خبرې ظاهروی چه دَعادت نه

خلاف اومشکلې وی چه نورخلق ئې نشی کولئ دې خبروته کرامت وائی دَنیکو بندګانو او ولیانو نه دَکرامت ظاهریدل حق دی.

سوال: په معجزه او کرامت کښې څه فرق دې؟

جواب: کوم سړې چه دَنبوت اوپیغمبرئ دعوٰی کوی او دده دَلاسه څه خلاف عادت اومشکله خبره ښکاره شی نوهغې ته معجزه وائی.او کوم سړې چه دَپیغمبرئ دعوی نه کوی لیکن متقی اوپرهیزګاروی او ټول کارونه ئې دَشرع مطابق وی.اودده دَلاسه داسې څه کارظاهرشی نوهغې ته کرامت وائی.اوکه دَخلاف شرع اوبې دینه سړې نه ښکاره شی نوهغې ته استدراج وائی.

سوال: دَاولیاؤ نه کرامتونه ښکاره کیدل ضروری دی؟

جواب: نا" داخه ضروری خبره نه ده چه دَولی نه دې کرامت ظاهرشی ممکنه ده چه یوسړې ولی اودَالله دوست وی لیکن په ټول عمرکښې ترې کرامت ښکاره نشی.

سوال: دَبعضې خلاف شرع فقیرانونه داسې خبرې ظاهریږی چه نورخلق ئې نشی کولئ داخه ګڼړل پکار دی؟

جواب: دَداسې خلقو نه چه دَشریعت خلاف کارونه کوی که څه داسې خبره ښکاره شی نوپوهه شئ چه دایاجادو یا استدراج دې کرامت هرګزنه دې داسې خلقو ته ولې وئیل اودَدوی کارونه کرامت ګڼړل دَشیطان دهوکه ده.

دتعلیم الاسلام دریمې حصې اوله شعبه ختمه شوه

د تعلیم الاسلام د دریمې حصې دویمه شعبه

معروف په

تعلیم الأرکان یا اسلامی اعمال

بِسمِ اللهِ الرَحمنِ الرَحِيمِ ط

دَ اودس باقی مسائل

سوال: بې اودسه مونځ کول څنګه دی؟

جواب: سخته ګناه ده بلکه بعضې علماء خوداسې سړی ته چه بې اودسه مونځ ته اودریږی ورته ئې کافر وئیلی دی.

سوال: دَمونځ دپاره دَاودس شرط کیدو څه دلیل دې؟

جواب: دَقرآن کریم دا آیات ئې دلیل دې: يَآَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ الخ.(سورة مائده)

ترجمه: "اې ایماندارو کله چه تاسو دَمونځ دپاره پورته شئ نو(اول) خپل مخ اولاسونه ترڅنګلوپورې اووینځئ اوپه سرونومسح اوکړئ اودَ ګیټو پورې خپې اووینځې. اورسول پاک صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمائیلی دی"مِفتَاحُ الصَلوٰةِ الطُهورُ". (ترمذی)

ترجمه:"دَ مونځ کُنجی (یعنی شرط) پاکوالئ (اودس) دې.

دَ اودس دَ فرائضو باقی مسائل

سوال: دَوینځلوځه حددې چه پاکی ورته اوویلې شی؟

جواب : دومره اوبه په اندام غورزول چه دوه درې قطرې ترې اوبهیږی. دَ وینځلو ادنٰی مقدار دې ددې نه کم وینځلو ته پاکی نشی وئیلئ.مثلاً که لوند لاس ئې په بدن راخکو او دومره اوبه ئې پرې وانه چولئ چه ترې اوبهیږی نو دغې ته اودس نشی وئیلئ.

سوال: کوم اندامونه وینځل چه په اودس کښې فرض دی دغه خوځل وینځل فرض دی؟

جواب : یوځل وینځل ئې فرض دی.اوددې نه زیات درې ځل وینځل ئې سنُت دی.اودَدرې ځلونه زیات وینځل ئې مکروه دی او ناجائز دی.

سوال: مخ دَ کوم ځائې نه دَکوم ځائې پورې وینځل فرض دی؟

جواب : دَتندی دَویختو نه دَ زنې دَلاندې پورې اودَیوغوږ نه تربل غوږ پورې دَمخ وینځل فرض دی چه په دې حدکښې اوچ ځائې پاتې نشی.

سوال: دَکوم ځائې وینځل چه فرض دی په هغې کښې که لږ ځائې اوچ پاتې شی نو اودس کیږی اوکه نه؟

جواب: که دَیو ویختہ په قدر ځائې اوچ پاتې شی نوهم ئې اودس نه دې شوې.

سوال: که یوسړی په لاس کښې شپږ ګوتې وی نودَدغې شپږمې ګوتې وینځل فرض دی اوکه نه؟

جواب: آؤ،فرض دی اودغه شان چه کوم شې زیات پیداوی اوپه هغه ځائې کښې وی دَکوم ځائې وینځل چه فرض وی نودَدغې زیاتی ځائې وینځل هم فرض دی.

سوال: دَمسح کولوڅه معنی ده؟

جواب: لاس چه په اوبو لوند کړې اوپه بدن ئې راکاږې دې ته مسح وائی.

سوال: دَسرمسح کولو دپاره به نوې اوبه راخلې اوکه نه دغه زوړ لوند والئ ئې پوره دې؟

جواب: نوې اوبه ورته راخستل غوره دی لیکن که په لاسوئې دَوینځلونه لوندوالئ پاتې وو نو هغه هم کافی دې لیکن چه په لاسونویوځل مسح اوشوه نوبیاچه نوې اوبه پرې نه وی پورې کړی مسح پرې دَبل ځائې جائزنه ده.او دغه شان که لاس اوچ وو او په بل لوند اندام ئې لوند که نوپه دې سره هم مسح جائز نه ده؟

سوال: که په سردَباران څاڅکی اوشو او اوچ لاس ئې په هغې راکاږلواودَباران هغه اوبه ئې په سرخورې کړئ نو مسح ئې اوشوه اوکه نه؟

جواب: اوشوه.

سوال: په اودس کښې دَسترګو دننه حصه وینځل فرض دی او که نه؟
جواب: دَسترګو دننه حصه دَپوزې دننه حصه اودَخولې دننه حصه وینځل په اودس کښې فرض نه دی.
سوال: دَاودس نه پس ئې نوکونه پریکړه یائې دَسراوخریلونوپه سربیامسح کول یانوکونه وینځل ضروری دی او که نه دی؟
جواب: ضروری نه دی.
سوال: که دَچالاس دَخنګلې نه ښکته کټ شوې وی نو ده ته دَلاس وینځل ضروری دی که نه؟
جواب: ترڅوپورې چه خنګل یادَخنګل نه لاندې څه حصه باقی وی نودَدغې باقی حصې وینځل فرض دی(یعنې خنګل وینځل په اودس کښې فرض دی نوخنګل موجوده ده وینځی به ئې)

دَ اودس دَ سُنتو باقی مسائل

سوال: که په اودس کښې ئې نیت اونه کړو نو څه حکم دې؟
جواب: که په اودس کښې ئې نیت اونکړو مثلاً دریاب ته ارتاؤشو یا باران ته اودریدو او دا اودس په ټولو اندامونو ئې اوبه اوبهیدې نواودس ئې اوشو په دغې اودس مونځ کیږی خودَ اودس ثواب ئې اونه شو.

سوال: دَاودس نیت څنګه کول پکاردی؟

جواب: دَنیت معنی ده اراده کول چه اودس کوی نو دا اراده به اوکړي چه دَناپاکي لرې کولو اوپاکئ حاصلولو او مونځ دپاره اودس کوم بس دااراده او خیال کافی دی.او داَ دَ اودس نیت دي.

سوال: دَنیت په ژبه سره وئیل ضروری دی او که نه؟

جواب: په ژبه سره وئیل ئي ضروری نه دی خوکه اووائي نو خیر دي هیڅ خبره نه ده.

سوال: چه اودس ئي جوړوی اونوي اودس کوی نوڅه نیت به کوی؟

جواب: په نوی اودس کښي به صرف نیت کوی چه دَاودس ثواب حاصلولو دپاره نوي اودس کوی.

سوال: دَاودس په شروع کښي پوره بسم الله وئیلي شی که نه؟

جواب: پوره بسم الله وئیل یابسم الله العلی العظیم والحمدلله علی دین الاسلام ،یابسم الله والحمدلله په دي درې واړو کښي هریوه چه وائی جائز دی.

سوال: مسواک کول څه دی اوطریقه ئي څنګه ده؟

جواب: مسواک کول سُنت مؤکده ده ډیرلوئ ثواب او ډیرې فائدې دی پکښي.مسواک دَخه ترخي وُني زیلې یادَلرګی په کاردې.لکه دَ پیلو ونې زیلې یا دَنیم لرګي مسواک دَیوې لویشتې نه زیات نه دې پکار. دَ وهلونه اول به ئي هم وینځی اوپس دَوهلونه هم،اول به ئي

دَ ښئ طرف په غاخونو وهی بیاذَکس .درې ځله مسواک کول اوهره پیرې نوې اوبه راخستل پکار دی.

سوال: غرغره کول څنګه دی؟

جواب: په اودس اوغسل کښې غرغرې کول سُنت دی لیکن دَروژې په حالت کښې ئې کول نه دی پکار.په ښی لاس خولې ته اوبه اچول پکاردی.

سوال: پوزې ته دَاوبوغرزولو څه طریقه ده؟

جواب: په ښی لاس کښې به اوبه راواخلې دَپوزې سره به ئې اولږه وی او دَ ساه په ذریعه به ئې پورته راکاږې .خودومره به اوبه نه راکاږې چه دماغوته اورسی او روژه داربه ئې په لاسونوپوزې ته وراچوی په ساه به ئې نه راکاږی.خوله وینځل اوپوزه وینځل په اودس کښې دواړه سنُت دی.

سوال: دَږیرې دَکومې حصې خلال سُنت دې؟

جواب: دَ ږیرې دَلاندې اودننه حصې خلال سُنت دې اوکوم ویخته چه په څرمنې پورې پیوست دی یعنې ویخونه ئې دَهغې وینځل فرض دی.

سوال: دَګوتو خلال څنګه کول پکاردی؟

جواب :دَلاسونودَګوتو خلال داسې کول پکاردی چه دَیولاس ګوتې به دَبل لاس په ګوتوکښې ورکړې اورابه ئې کاږې. اودَخپودَګوتوبه داسې کوی چه دَښې خپې دَکچې ګوتې نه به

شروع کړی اودَکسي خپې کچې ګوتې ته به ئې اورسوې دَکس لاس په کچه ګوته باندې به دَ خپو دَګوتو خلال کوی.

سوال: دَ ټول سرمسح به څنګه کوئ؟

جواب: دواړه لاسونه به په اوبو لامده کړئ او دَ دواړو لاسونو درې درې ګوتې به دَتنډی په ویختو جُختې کیږدې سَت طرف ته به ئې راکاږې اودَهغې طرف ته به د لاسونو تلی(وَرغَوِی) په سرجُحت کیږدی دَسرپه دواړو ډډو به ئې مخې ته واپس راولې.داخیال به ساتی چه لاسونه په ټول سرراشی .

سوال: دَغوږونو دَمسخ کولو دپاره به نوې اوبه راواخلې که نه؟

جواب: نوې اوبه به نه راخلې دسردَمسح نه چه کومې ګوتې پاتې دی په هغې به ئې داسې مسح اوکړې چه مسواکې ګوتې به په غوږونوکښې دننه اوګرځوې اوکټې ګوتې به ئې دَ بهر نه تاؤکړې بس دَ غوږونو مسح اوشوه.

دَ اودس دَ مستحبو باقی مسائل

سوال: دَ نبی طرف نه شروع کول سنت دی که مستحب؟

جواب: بعضې علماء ورته سنت وائی او بعضې ورته مستحب.

سوال: دَځټ مسح څنګه کیدې شی؟

جواب: په ځټ باندې دَ دواړو لاسونو دَ ګوتو په شاطرف مسح پکار ده.دَمرئ مسح کول بدعت دې.

سوال: دَاودس نور آداب کوم کوم دی؟

جواب: د اودس ډیرآداب دی:

(۱):دَکچوکوتوسرونه لمدول او دَغوږونو په سوږوکښې ئې وهل. (۲) اودس دَمونځ دَوخت نه مخکښې کول.(۳) دَوینځلو په وخت کښې دَ اندامونومږل.(٤) گوتمه وغیره خوزول. (۵) دَدُنیا خبرې نه کول. (٦) په زوره اوبه مخ ته نه اچول. (۷) زیاتې اوبه نه استعمالول. (۸) دَ هریواندام وینځلوپه وخت کښې بسم اللّٰه وئیل. (۹) دَ اودس نه پس درود شریف وئیل. (۱۰) دَاودس نه پس کلمه شهادت او دا دعاکول :"اللّٰهم اجعلنی من التوابین واجعلنی من المتطهرین. (۱۱) دَ اودس نه پاتې اوبه په ولاړې څکل (۱۲) دَ اودس نه پس دوه رکعته تحیة الوضوء کول."

اودس ماتونکو څیزونو باقی مسائل

سوال : پلیت څیزچه دَبدن نه اوځی نوچه څومره اوبهیږی اودس پرې ماتیږی؟

جواب : پلیت څیزچه دَبدن نه اوځی اوهغه ځائې ته اورسیږی دَکوم ځائې وینځل چه په اودس کښې فرض دی نواودس پرې ماتیږی.(خوچه دَخپل وتلوځائې نه لږ اَخواشی اودس مات شو) .

سوال: دَسترږې نه وینه اوځی اوپه سترږه کښې دننه خوره شی نو اودس پرې ماتیږی که نه؟

جواب : نه ماتیږی ،ځکه چه دَسترږو دننه حصه وینځل نه په اودس کښې فرض دی نه په غسل کښې.

سوال: كه په زخم وينه ښكاره شوه اوپه كپړه ئې اوچه كړه بياښكاره شوه بيائې اوچه كړه څوپيرې ئې داسې اوكړه نو اودس مات شو كه نه؟

جواب: دې ته به كتې شى چه كه دې وينه نه وې اوچه كړې نوبهيده به اوكه نه. كه دَبهيدو وه نو اودس مات دې اوكه دَ بهيدو نه وه نونه ماتيږى.

سوال: په څنګه قى اودس ماتيږى؟

جواب: په قى كښې وينه ياخوراك ياوبه اووتې اوپه ډكه خُلهٔ قے وى نواودس ماتيږى اوكه خالص بلغم اووته نو اودس نه ماتيږى.

سوال: كه لږ قې ډير واره اوشو نوڅه حكم دې؟

جواب: كه په يو وار زړه خرابيدو سره ډير وار قې اوشى اومجموعه ئې دومره وه چه خوله پرې ډكيده نواودس مات شو. خو كه په يو وار زړه خرابيدو سره لږې قې اوشى بيائې زړه ښه شى. نو بيا ورته زړه خراب شى اوبيالږې قې اوكړى نو دا دواړه نشى جمع كولئ او اودس پرې نه ماتيږى.

سوال: په بدن يوځائې دانه ده نوياوينه ترې اووته په كپړه داغ شوه نو كپړه پاكه ده كه پليته؟

جواب: كه دغه وينه يا نودَبهيدوقابل وه نوكپړه پليته ده اوكه دَبهيدوقابله نه وه نو پاكه ده خووينځل ئې غوره دى.

سوال: قې چه په دکهه خوله نه و ی نو پلیت دي اوکه نه؟
جواب: پلیت نه دي.
سوال: جَوَرِي سپرِې یا ورگي یاماشي ترې وینه اوڅکله ځان ئې مورکړو نوپه دي سره اودس ماتیږی او که نه؟
جواب: دَجورې په وینه څکلو سره اودس ماتیږی اگرکه دَلړې کولو نه پس دَزخم نه وینه اونه بهیږی ځکه چه جوره دومره وینه څکی چه هغه دَبهیدوقابلِه وی اودَوُرگي سپږې په وینه څکلواودس نه ماتیږی دوی دَبهیدوقابل وینه نشي څکلئ.
سوال: په کوم خوب سره اودس نه ماتیږی؟
جواب: چه ډډه ئې څه ته لږولئ نه وی ناست وی اوکه ولاړ وی یاپه مونځ کنبې په څه بل حالت اوده شي نواودس نه ماتیږی. لکه په سجده یاقعده کنبې اوده شي اودس نه ماتیږی.
سوال: داسې څوک شته چه اودس ئې په خوب نه ماتیږی؟
جواب: دَانبیاء علیهم السلام اودس به په خوب سره نه ماتیدو، دا دَ هغوی فضیلت او غوره والئ وو.
سوال: دَقهقه نه څه مراد دي اوپه قهقه دَهرچااودس ماتیږی اوکه نه؟
جواب: دَقهقهې نه مراد دادې چه په مونځ کنبې دومره په زوره اوخاندې چه گاوندی ئې واوُری .اوپه دې سره دَ اودس ماتیدو دپاره داشرطونه دی:

(۱) قهقه کونکئ بالغ سړي یابالغه ښځه وی دَنابالغ په قهقهې سره اودس نه ماتیږی.

(۲) چه په ویخه اوخاندې که په مونځ کښې اوده شي او وو ئې خندل نو اودس ئې نه ماتیږی..

(۳) په کوم مونځ کښې چه ئې خندلی وی هغه دَرکوع سجدې مونځ وی دَجنازې په مونځ کښې په قهقه اودس نه ماتیږی.

سوال: دَبل سړی په سَتَر نظر پریوځی آیا په دې اودس ماتیږی؟

جواب : په خپل یاپردی سَتَرپه نظر غورزیدو سره اودس نه ماتیږی که قصدًا نظر وی اوکه بلا قصدً.

دَ غُسل باقی مسائل

سوال: دَغُسل څوقسمونه دی؟

جواب: درې قسمه دی:(۱) فرض (۲) سنت (۳) مستحب.

سوال: فرض غسلونه څو دی؟

جواب: شپږدی اوبیان به ئې په دې کتاب کښې مخکښې راشی.

سوال: هغه غسل چه کم سنت دی څومره دی؟ او کوم کوم دی؟

جواب :څلور دی اوهغه دادی(۱) دَجمعې دَمونځ دپاره(۲) دَدواړو اخترونودَمونځ دپاره(۳) دَحج دَاحرام تړلو دپاره (٤) دَعرفات اودریدو دپاره.

سوال: مستحَب غسلونه څودی او کوم کوم دی؟

جواب: مستحَب غسلونه ډیردی یوځوپکښې دا دی: (۱) دَ شعبان په پنځلسمه شپه غسل کول(۲) دَعرفې په شپه غسل کول (۳) دَنمریاسپوږمۍ دَتندر نیولو دَمونځ دپاره (٤) دَاستسقاء دَ مونځ دپاره(٥) مدینه منورې یامکې مکرمې ته دَ داخلیدو دپاره (٦) دَمړی دَغسل نه پس دَ غسل ورکونکی خپل غسل (۷) دَکافردَمسلمانیدو نه پس غسل کول.

سوال: که دَغسل حاجت ئې وو او دریاب ته غوپه شو یا باران کښې اودریدو اوپه ټول بدن ئې اوبه اوبهیدې نوغسل ئې اوشو اوکه نه؟

جواب: آؤ غسل به ئې اوشی خوپه دې شرط چه پوزې اوخولې ته اوبه واچوی.

سوال: دَغسل په حالت کښې قبلې ته مخ کول جائز دی او که نه؟

جواب: که دَغسل په حالت کښې ئې بدن لغړ وو نوقبلې ته ئې مخ کول جائز نه دی.اوکه پټ وو بیاخیردې.

سوال: سترښکاره کول او غسل کول څنګه دی؟

جواب: په غسل خانه کښې یا په بل داسې ځائې کښې چه دَبل چانظرپرې نه لری په لغړه غسل کول جائز دی.

سوال: په غسل کښې مکروه څومره دی؟

جواب: (۱) اوبه زیاتې بهول(۲) دَلغړې په حالت کښې خبرې کول(۳) قبلې ته مخ کول(٤) دَسنت نه خلاف غسل کول.

سوال: که دَغسل نه اول ئې اودس اونه کړو نودَغسل نه پس دَمونځ دپاره اودس ضروری دی اوکه نه؟

جواب: په غسل کښې دننه اودس هم اوشو بیا اودس کولوته حاجت نشته.

په موزو باندې دَ مسحې باقی مسائل

سوال: دَمسحې د مودې حساب به دکوم وخت نه کولې شی؟

جواب: چه دَکوم وخت نه ئې اودس مات شی دَهغې وخت نه به یوه ورځ اویوه شپه یا درې ورځې او درې شپې مسح کوی مثلاً دَ جمعې په سحرئې اودس اوکړو موزې ئې په خپوکړې نودا اودس ئې دَماسپخین دَوخت په ختمیدو مات شو نوداسړې که مقیم وی نودَهفتې دَورځې دَماسپخینه پورې مسح کولئ شی.

سوال: مسح په کوموخیزونوسره ماتیږی؟

جواب: په کوموخیزونوچه اودس ماتیږی په هغې سره مسح هم ماتیږی اودَدې نه علاوه(۱) چه دَمسح وخت موده ختمه شی(۲) موزې دَخپونه اوباسی(۳) دَدرې ګوتوپه مقدار موزې څیرېدوسره هم مسح ماتیږی.

سوال: که دَاودس کولوپه وخت کښې ئې موزه اوویسته یا دَ اودس کولوپه حالت کښې دَمسح موده ختمه شوه نوڅه حکم دې؟

جواب: په دې دواړو صورتونوکښې صرف خپې وینځل اوموزې په خپوکول کافی دی.اوپوره اودس کول مستحب دی.

سوال: که مسافر په موزومسح شروع کړه اویوه شپه او ورځ پس کورته راغي نوڅه به کوی؟

جواب: موزې دې اوباسی اودَنوی سرنه دې مسح شروع کړی.

سوال: که مقیم مسح شروع کړه اوبیامسافرشو نوڅه به کوی؟

جواب: که دَیوې ورځې شپې شروع کیدونه مخکښې مسافرشو نودرې ورځې شپې به پوره کوی یعنی درې ورځې شپې به مسح کوی اوکه یوه ورځ شپه پوره شو او مسافرشو نوموزې به اوباسی دَنوی سره به مسح شروع کړی.

سوال: که موزې لږې لږې ډیرځایه څیرې شوې وی نو څه حکم دې؟

جواب: که یوه موزه لږه لږه ډیرځایه څیرې وه او په جمع کولو سره درې ګوتې پوره کیده نومسح پرې جائز نه ده اوکه کمه وه نوجائز دهاوکه دواړه موزې لږې لږې څیرې وی نو دَ دواړو څیرې والئ نشی جمع کولئ.که په یوه کښې ځانله دَدرمې ګوتویه مقدار څیرې والې په جمع کولو سره پوره کیده نومسح نه کیږی که په دواړو کښې وه یعنی په دواړو موزوکښې دَدرې ګوتویه مقدارڅیرې والئ جمع کیده اویه یوه کښې ځانله نه پوره کیده نوبیاپرې مسح جائز ده.

دَ حقیقی نجاست (پلیتئ) او دهغې دَ پاکئ باقی مسائل

سوال: دَخرمنې په څیزونو(لکه پیزار موزې بستربنده وغیره) چه پلیتي جسم داره اولږی نودَپاکولو ئې څه حکم دې؟

جواب: په زمکه یاپه بل داسې شی چه اومږی نوپاکیږی خوهله چه په دې مږولو سره دَپلیتئ جسم اواثرلرې شی.

سوال: که په دغې څیزونوتش بول شراب یابل داسې شې اولږی نوڅنګه پاکیدې شی.

جواب: په اوبو یاپه بل داسې بهیدونکی څیزچه پاک وی اودَپلیتئ اثرلرې کولئ شی په وینځلوسره پاکیږی.یعنی دَ جسم دارې پلیتئ نه سوابله هره یوه پلیتي چه اولږی بغیروینځلونه نه پاکیږی وینځل ئې ضروری دی.

سوال: چاقو،چاړه یا توره، دَ اوسپنې دَ سپینو زرو یا تانبې المونیم وغیره څیزونه چه پلیت شی نوبغیروینځلونه پاکیږی اوکه نه؟

جواب: دَ اوسپنې څیزونه چه پاک صاف وی زنګ پرې نه وی او دَ سپینو،سروتانبې ،المونیم،پیتلووغیره څیزونه اودَشیشې څیزونه اودَهاتی غاښ یا هډوکی څیزونه اوچینی لوخی په صاف مهین وی اونقشې پرې نه وی دغه شان په مږلوسره چه دَپلیتئ اثرترې لاړشی پاکیږی.

سوال: دَنقشې دارنه څه مراددې؟

جواب : یعنې دَ دوی په جسم داسې نقشې نه وی چه لوړې جوړې دی یعنې لوخی لوړ ژورنه وی ځکه چه داسې شې په مړلو نه پاکیږی په جوروځایونوکښې ئې پلیتی پاتې کیږی خو که دَ رنګ نقشونه نه وی نوبیاپه مړولو پاکیږی.

سوال : په زمکه چه پلتی پریوځی مثلاً تش بول،شراب وغیره پرې پریوځی نوڅنګه پاکیږی؟

جواب :زمکه چه اوچه شی اودَپلیتئ اثرمثلاً رنګ بوئی خوند لاړ شی نو پاکه شی.

سوال:په کور یا جُومات کښ په پخو خښتو یا دَ کانړی فرش یا دیوال باندې پلیتی اولګی نوڅنګه به پاکیږی؟

جواب:سخته یاګټه چه په آبادئ کښې لږیدلې وی په اوچیدو اودَپلیتئ په اثرلرې کیدوسره پاکیږی.

سوال: کوم څیزونه چه په وینځلوکښې نچوړیدې نشی لکه دَتانبې لوخی،یاغتې غتې ګدئ وغیره نودَپاکولو دپاره به ئې څنګه وینځی؟

جواب : داسې څیزونه چه دَهغې نچوړول ممکن نه وی یاګران وی دَهغې دَوینځلو داطریقه ده چه یو ځل ئې اووینځی بیائې

پریږدی چه اوبه څڅیدل ترې بندشی بیادې وینځی اوپریږدی چه اوبه ترې نورې نه څاڅی نوبیادې وینځی په دې دریم ځل وینځلوسره چه ترې بیادَاوبو څڅیدل بندشوپاک شو.

لیکن په وینځلوکښې چه څومره ممکن وی مړل ئې پکاردی.چه دَپلیتئ په لرې کولو کښې دَطاقت مطابق کوشش اوکړئ شی.

سوال: دَخاورې لوښې چه پلیت شی نوپاکیږی اوکه نه؟

جواب :دَخاؤرې لوښې هم په وینځلوسره پاکیږی اودَدې دَپاکولوهم دغه طریقه ده کومه چه مخکښې تیره شوه.

سوال: پلیت شئ مثلاً غوشان چه اوسوزی ایره شی نوهغه ایره پاکه ده که پلیته ؟

جواب: پلیت شئ چه اوسوزی ایره شی نوهغه ایره پاکه ده.

سوال: په غوړوکښې منګک پریوت اومړشو نوڅه حکم به وی؟

جواب: که غوړی مایه وه نومنګک ترې لرې کړئ او دَ خواؤشا غوړی ترې لرې کړئ باقی پاک دی.اوکه ویلې وو نو ټول غوړی پلیت دی.

سوال: دَپلیتو غوړو یاتیلو دپاکولو څه حکم دې؟

جواب :په پلیتو غوړو یاتیلوکښې دَهغې په مقدار اوبه واچوه جوش ورکړه.بیاتیل یاغوړی چه داوبوسرته راشی لرې ئې کړه درې پیرې ورسره داسې اوکړه پاک شو.

دَ استنجاء باقی مسائل

سوال: دَاستنجاء کوم کوم صورتونه مکروه دی؟

جواب : قبلې ته مخ کول او استنجاءکول(۲) داسې ځائې کښې استنجاءکول چه خلقونظراستنجاء کوونکی په ستربانډې لګی مکروه دی.

سوال : دَتشو بولویا ډکوبولو په حالت کښې کومې کومې خبرې کول مکروه دی؟

جواب: قبلې ته مخ کول او تش یاډک بول کول(۲) په ولاړې تش بول کول(۳) نهریاکوهی ته تش بول کول(٤) یائې په غاړه کول. (٥) دَجمات دَدیوال په خواکښې یاپه مقبره کښې دَ تشو یا ډکو بولو کول (٦)دَمنګګ یادبل سوری په خولې کښې ئې کول.(۷) دَ تشو یا ډکوبولوپه حالت دَکولوکښې دَچاسره خبرې کول (۸) ښکته ځائې کیناستل او اوچت ځائې ته تش بول کول (۹) دَ خلقو دَ کیناستلوپه ځائې کښې یاپه لاره کښې تش یا ډک بول کول(۱۰) دَ اودس یادَغُسل په ځائې کښې تش یا ډک بول کول.داټول مکروه دی.(دَدې نه ځان ساتل پکار دی خاص کر په مقبره کښې تش یاډک بول کول ډیره سخته ګناه ده)

دَ اُوبو باقی مسائل

سوال: دَ غرموپه ګرموشؤو اوبواودس جائز دي یانه؟

جواب: جائزدي لیکن غوره نه دی.

سوال: دَاودس کولوپه وخت کښې دَ اوبوڅاڅکی په لوخی کښې کیږی نوپه دغه اوبواودس کیږی؟

جواب : دَ اودس کولو په وخت کښې چه کومې اوبه دَبدن نه غورزیږی که په بدن حقیقی پلیتی نه وی نودغې اوبو ته مُستعمَلې اوبه وئیلې شی نومستعملې اوبه چه دَ غیر مُستعمَلو اوبو سره یوځائې شی نوحکم ئې دا دې چه ترڅوپورې دَ مستعمَلواوبومقدار دَ غیرمستعملو اوبونه کم وی ترهغې وخته پورې پرې اودس او غسل جائز دې اوچه کله دَمستعملو اوبو مقدار دَغیرمستعملو سره برابر یاترې زیات شی بیا پرې اودس او غُسل جائز نه دې.

سوال : که دَاوبوسره څه پاک شې ملاؤشی مثلاً صابون یا زعفران نوپه دې سره اودس جائزدې اوکه نه؟

جواب : په اوبوکښې دَپاک شی په ملاویدو سره که یو وصف دوه بدل هم شی خواودس پرې کیږی لیکن که درې واړه صفتونه ئې بدل شو اوتینګې هم شوې بیاپرې جائز نه دې.

سوال: که تالاب یاخوض په شرعی ګزسره دوه ګزه پلن او پنځوس ګزه اوږد یاڅلور ګزه پلن او پنځه ویشت ګزه اوږد وی یا پنځه ګزه پلن او شل ګزه اوګد وی نوهغه دَ جاری اوبوپه حکم کښې دې اوکه نه؟

جواب: آؤ،دې دَجاری اوبو په حکم کښې دې.

سوال: که دَخوض ښکاره خوله دَشرعی مقدارنه کمه وی لیکن لاندې حصه ئې دَهغې نه ډیره لویه وی نودې دَلوئې خوض او دَ جاری اوبو په حکم کښې دې اوکه نه دی؟

جواب: که حوض لس ګزه اوږد او لس ګزه پلن وو لیکن دَ څلور طرفه یادَیو دوه طرفه ئې ورته پټه کړې وی.نوکه دغه دَ خولې پټولو حصه دَ اوبو نه اوچته وه اوبه وسره نه لږیدې نودغه حوض دَجاری اوبو په حکم کښې دې اوکه دَاوبو سره لږیده نو هغه حوض ټیک نه دې دَلږو اوبو په حکم کښې دې.

خلاصه داشوه چه دَاوبو هغه حصه معتبره ده څومره چه دَپاس نه ښکاره اودَڅه شی سره لږیدلې نه وی.او مقدارئې دَ شرعی مقدارسره برابر وی اوکه ښکاره حصه ئې کمه وه نو دَ لاندې نه که هرڅومره زیاته وی خودَهغې اعتبارنشته.

دَ کوهی باقی مسائل

سوال: که کوهی ته دَکونترېِ یاچنچنړېِ ګندګی پریوځی نو دَ دېِ څه حکم دېِ؟

جواب: دَکونترېِ یاچنچنړېِ په ګندګی یا دَ اوښ بیزېِ ګډېِ په دوه څلورو ټچوکوهېِ نه پلیتیږی.

سوال: که کوهی ته کافرِ دَ بُرقېِ راویستو دپاره کوزشی او په کوهی کښېِ غوپه شی نودَکوهی څه حکم دېِ؟

جواب: که کافردَکوهی کوزیدونه اول غسل اوکړی او پاکه کپړه ئېِ دَځانه تاؤکړه اوکوهی ته غوپه شو نوپاک دېِ.اوکه دَکوزیدونه مخکښېِ ئېِ اونه لمبل اوپخپلو جاموکښېِ ورکوزشو نو دَ کوهی تولېِ اوبه به راویستېِ شی.څکه چه دَکافرانوبدن او کپړېِ اکثرپلیتېِ وی.

سوال: که په کوهی یوخاص بُرقه نه وی یادَکوهی خپله بُرقه ډیره لویه یاډیره وړه وی یاترېِ هرسړېِ پخپله خپله بُرقه اوبه راؤباسی نو د دېِ کوهی دپاکولو دپاره به کومه بُرقه استعمالولئ شی.

جواب: که چه په کوهی څه خاص بُرقه نه وی یائېِ خپله بُرقه ډیره لویه یاډیره وړه وی نوپه دېِ صورتونوکښېِ به دَکوهی دَپاکولو دپاره درمیانی بُرقه استعمالوئ.درمیانی بُرقه هغه ده چه په هغېِ کښېِ دَاتیاؤ روپودَجوک په سیرسره درېِ نیم سیره اوبه راځی.(دَتعلیم الاسلام دَدویمېِ حصېِ په مسئلوچه کومېِ زیاتېِ مسئلېِ وېِ هغه دَدېِ ځائېِ پورېِ ختمېِ شوېِ)

دَ تیَمُّم مسائل

سوال: تیمم څه ته وائی؟

جواب: پاکې خاوړې یاپه داسې څیز سره چه دَخاورې په حکم کښې وی دبدن نه حکمی پلیتی لرې کولوته تیمم وائی.

سوال: تیمم کله جائزکیږی؟

جواب: هرکله چه اوبه نه ملاویږی یادَاوبو دَاستعمال نه دَناجوړه کیدو یادَمرض زیاتیدوویره وی نوتیمم جائز کیږی.

سوال: دَاوبو نه موندلوڅه صورتونه دی؟

جواب: هرکله چه اوبهٔ یومیل لرې وی یا هلته دَدښمن ویره وی ، مثلاً دَکورنه بهراوبه شته لیکن ویرېږی چه که اوځم نودښمن یاغل می وژنی ،یادَکوهی څخواکښې یولوئې ماردې یازمرې دې ،یالړې اوبه ورسره شته خو ویریږی چه که په دې اودس کوم دَتندې تکلیف راته بیارارسی.یاکوهې شته خوبُرقه یارسئ نشته.یااوبه شته خودې ئې په راخستو قدرت نه لری.اوبل څوک شته نه.داټول صورتونه دَاوبو دَنه موندو په حکم کښې داخل دی.

سوال: دَناجوړه کیدو ویره کله معتبره ده؟

جواب: هرکله چه څپله تجربه سره ئې گمان غالب شی ،یاورته څوک پوخ طبیب اووائی چه دا اوبو په استعمال سره به ناجوړه شې.

سوال: دَاوبو دَيوميل لرې والی وضاحت اوکړئ؟

جواب: هرکله چه سړې په داسې ځائې کښې وی چه هلته اوبه نه وی.اوده ته دَچاپه ويناياپه خپل ګمان پته اولږی چه په يوميل کښې دننه اوبه شته نواوبه راؤړل اواودس کول ورته ضروری دی.

ليکن چه څوک خودونکې هم نه وی اوپه بله څه طريقه هم ده ته پته نه لږی.ياورته پته لږی خواوبه يوميل يادَيوميل نه زياتې لرې وی نوبياواوبه راؤړل ضروری نه دی.تيمم ورته جائز دې.

سوال: په تيمم کښې فرض څو دی؟

جواب: درې فرض دی په تيمم کښې (۱) نيت کول(۲) دواړه لاسونه په خاوررړاو وهل او په مخ راکاږل(۳) اوبيادَدواړو ولاسونه په خاؤرو وهل دَځنګلو پورې په دواړو لاسونو راکاږل.

سوال: دَتيمم پوره طريقه بيان کړئ؟

جواب: اول به نيت اوکړئ چه پليتی لرې کوم اوپاکی حاصلوم دَ مونځ دپاره .بيابه دواړه لاسونه دَ خاورې په يوه غټه لوټه اووهی اوبيائې اوڅنډی زياتې خاورې به ترې پوکی .اودواړه لاسونه به په مخ داسې راکاږی چه يوويخته ځائې پکښې پاتې نشی.که دَ ويويخته قدرې ځائې پاتې شونوتيمم نه کيږی. بيابه دوباره په هغې لوټه لاسونه اووهی او څنډبه ئې وهی اول به دَګس لاس درې ګوتې دَښی لاس دَ ګوتوپه شادَسرونوسره کيږدی اوځنګلې پورې به ئې راکاږې نودَښی لاس لاندې طرف به

مسح شی او بیابه دَخنګلې ته دَګس لاس تلې دَښی لاس په مخ طرف اولړوی اودَګوتوپورې به ئې راکاږې اودَښی لاس په غټه ګوته اومسواکې ګوته به دَګس لاس دَغټې اومسواکې ګوتې په مینځ راکاږې اودغه شان به بیاپه ښی لاس دَګس لاس مسح اوکړې.بیابه دَګوتو خلال اوکړې اوکه ګوتې ئې په لاس وه نوهغه به هم اوخوزوې. دَګس خلال هم سنُت دې.

سوال: دَ اودس او غسل دواړو دپاره تیمم جائزدې اوکه یوازې دَ اودس دپاره؟

جواب: دَ دواړو تیمم جائزدې.

سوال: په کوموخیزونوتیمم کول جائز دی؟

جواب: په پاکې خاورې ،شګې،ګټه اوچونه اودَخاورې په کچه لوخې چه روغن شوې نه وی.اودَخاورې په کچه یاپخه ښخته او یا دَ سختودَګټودَچونې په دیوال اوپه ګردملتانی خاوره تیمم کول جائز دی.

سوال: په کوموخیزونوتیمم کول ناجائز دی؟

جواب: په لرګی اوسپنه، سرو، سپینو،تانبې، پیتلوالمونیم شیشه ، رانګ، جست،غنمووریشو او نورو ټولو غلو کیږه،ایره،په دې ټولو تیمم ناجائز دې داسې اونګړه چه کوم شې په اورکښې ویلې کیږی یا سوزی په هغوی تیمم جائز نه دې.

سوال: په ګټه ښخته یا دَ چونې په دیوال چه ګردنه وی نوتیمم پرې جائز دې ؟ اوکه نه؟

جواب: په کوموڅیزونوچه مونږ تیمم جائز ویلې دې په هغې دَ ګرددَشته وانی شرط نشته.ګټه یا ښخته یادَخاورې په لوخی که وینځلې هم وی تیمم پرې کیږی.

سوال: په کړموڅیزونو چه تیمم ناجائز دې که په هغې باندې ګرد وی نوتیمم پرې جائز دې یانه؟

جواب:آؤ چه کله پرې دومره ګرد وی چه په لاس وهلوسره ګرد اوچت شی یاپه هغه څیزباندې لاس وهلوسره پرې نشان جوړ شی نوتیمم جائز دې.

سوال: که دَقرآن مجیدلوستو،یالاس وروړو،یاجمات ته دَ ننوتو یا دَ آذان ویلو یا دَ سلام دَجواب ورکولو په نیت سره ئې تیمم اوکړو نو په دې مونځ جائز دې او که نه؟

جواب :جائز دې.

سوال : دَجنازې دَمونځ دپاره یادَتلاوت دَسجدې دپاره ئې تیمم اوکړو نوپه دې مونځ جائزدې او که نه؟

جواب: جائز دې پرې.

سوال: که دَ اوبو نه پیدا کیدوپه وجه سره ئې تیمم اوکړو اومونځ ئې پرې اوکړو بیااوبه پیداشوې نوڅه حکم دې؟

جواب: مونځ شوې دې اوس ئې دَبیاراګرزولو ضرورت نشته خواه که اوبه دَمونځ په وخت کښې پیدا شی او که دَمونځ دَوخت نه پس.

سوال: تیمم په کوموڅیزونو ماتیږی؟

جواب: په کوموڅیزونو سره چه اودس ماتیږی په هغې سره تیمم هم ماتیږی .لیکن دَغسل تیمم صرف په لویه بې اودسۍ سره ماتیږی.اوکه دَاوبو نه پیدا کیدو په وجه ئې تیمم کړۍ وو نوچه اوبه ئې بیا پیدا کړې دغه تیمم ئې مات شو.اوکه دَڅه عذرمثلاً مرض وغیره په وجه ئې تیمم کړې وو.نوچه هغه عذرختم شو تیمم ئې مات شو.

سوال: دَیووخت دَمونځ دپاره ئې تیمم کړې وو نودَبل وخت مونځ په دغه تیمم سره جائز دې یانه؟

جواب: په یوتیمم سره ترڅوپورې چه هغه مات شوې نه وی هرڅومره مونځونه دَڅومره وختونوچه کوی کولۍ شې پرې.دغه شان دَ فرض مونځ دپاره چه کوم تیمم کړې دې.په هغې سره فرض نفل دَقرآن مجیدتلاوت دَجنازې مونځ دَتلاوت سجده اوټول عبادتونه جائز دی.

سوال: دَ تیمم موده څه ده؟

جواب: ترڅوچه اوبه نه وی یاعذرباقی وی تیمم جائز دې.اګرکه په دې حال ډیرکلونه هم تیرشی خیردې.

دَ مونځ دویم شرط دَ جامو دَ پاکوالی بیان

سوال: دَ کپړو پاکولو نه څه مراد دي؟

جواب: کومې کپړې چه دَمونځ کونکی په بدن باند وی لکه قمیص، پرتوګ،ټوپۍ،پټکې، سادر کوټ وغیره ددې ټولو پاکول ضروری دی. یعنی په دوې باندې چه په کوم یوپلیتی سخته دَرویۍ نه زیاته وی یاخفیفه دَڅلورمې حصې دَکپړې نه زیاته وی مونځ پرې نه کیږی.پس که ددې مقدار نه کم یابرابر وو نو مونځ اوشو خوسره دَ کراهته.

سوال: که ده پټکی یوه غاړه پلیته وه او مونځ کونکی هغه پلیته حصه هسې زوړنده پریخوده اوباقی حصه ئې دَ سرنه تاؤ کړه نو مونځ اوشو یانه؟

جواب :کومې کپړې چه دَمونځ کونکی دَبدن سره داسې تعلق ساتی چه دده حرکت کولوسره هغې هم حرکت کولو نو داسې کپړې پاکولۍ شرط دې.نوپه دې صورت کښې مونځ نه دې شوې.ځکه چه دَمونځ کونکی په خوزیدو سره به دغه حصه ضرور خوزیږی.

دَ مونځ دریم شرط دَ ځائې دپاکوالی بیان

سوال: دَ ځائې پاکولو نه څه مراددې؟

جواب : دَمونځ کونکی دواړو قدمونو زنګونانو لاسونو او دَ سجدې ځائې پاکیدل ضروری دی.

سوال: په کوم ځيزچه مونځ کولئ شی که دَهغې بل طرف پليت وی نوڅه حکم دې؟

جواب: که دَلرګی په تخته ياپه کټه ياپه خوروشوو ښختو ياپه بل داسې سخت اوپيړه شی مونځ کوی نودَهغې په کوم مخ چه مونځ کوی هغه پاک وی نومونځ کيږی که بل مخ ئې پليت وی خير دې هيڅ خبره نه ده.

اوکه په نرئ کپړه مونځ کوی اوبل مخ ئې پليت وی نوبيامونځ جائز نه دې.

سوال: اوکه کپړه غبرګه وی اودپاسه کپړه پاکه لاندې پليته وی نوڅه حکم دې؟

جواب: که دا دواړه دَيوبل سره ګنډلې شوې نه وی او دا پاسنئ کپړه دومره غټه وه چه دَلاندې پليتی بوئی يارنګ پکښې نه معلوميده نومونځ جائز دې ،اوکه دواړه ګنډلې شوې وی نواحتياط دادې چه مونځ دې پرې نه کوی.

سوال: په پليته زمکه ياکپړې يافرش ئې پاکه کپړه خوره کړه نودَمونځ کولوپرې څه حکم دې؟

جواب : چه په پاسنئ کپړې دَلاندې پليتئ رنګ يابوئی نه ظاهريږی مونځ پرې جائز دې.

سوال : که دَمونځ ځائې پاک دې خوخواؤشاپليتی ده او دَهغې بوئی په مونځ کښې راځی نومونځ جائز دې يانه؟

جواب: مونځ کيږی ليکن قصدًا په داسې ځائې مونځ جائز نه دې.

دَ مونځ څلورم شرط د(دَ ستر پټولو) بیان

سوال: دَسترپټولو څه مطلب دې؟

جواب : سړی ته دَنامه نه دَزنګونانوپورې خپل بدن پټول فرض دی.داداسې فرض دی چه په مونځ کښې ئې هم پټول فرض دی اودَمونځ نه بهر هم.اوښځې ته سوا دَ دواړو ورغودَلاسونواو دَخپو نورټول بدن پټول فرض دی.اګرچه ښځې ته په مونځ کښې مخ پټول فرض نه دی لیکن دَغیرسړوپه مخکښې ئې مخ ښکاره کول هم جائز نه دی.

سوال: که دَستردَځائې څه حصه بلاقصده ښکاره شی نوڅه حکم دې؟

جواب : که دَڅلورمې حصې په مقدار یواندم ښکاره شو او دومره وخت ښکاره وو چه درې ځله پکښې تسبیح ویلې کیده نومونځ مات شو اوکه فورًا ئې پټ کړو نومونځ ئې اوشو.

سوال: که یوسړې په تیاره کښې په لغړه مونځ کوی نوڅه حکم دې؟

جواب : که کپړه وه نوپه لغړه مونځ نه په تیارکښې کیږی اونه په رڼرا کښې.

سوال: که قصدًا ئې څلورمه حصه اندام ښکاره شونوڅه حکم دې؟

جواب: په قصدًا ښکاره کیدوسره مونځ ماتیږی.

سوال: که دَچاسره بالکل کپړه نه وی څه به کوی؟

جواب:که دَچاسره بالکل کپړه نه وی نوپه بل څه دې بدن پټ کړی مثلاً په پاڼړویاتاټ وغیره اوداسې هم هیڅ نه وی نو بیادې په لغړه مونځ کوی.لیکن په داسې حالت کښې په ناستې مونځ کول او رکوع سجده په اشاره کول ښه خبره ده.

دَ مونځ د پنځم شرط دَ (وخت) بیان

سوال: دَ مونځ دپاره دَوخت شرط کیدو نه څه مراد دې ؟

جواب: دَمونځ ادا کولو دپاره داشرط دې چه کوم وخت ورته مقرر شوې دې په هغې وخت کښې ادا شی.که دَوخت نه مخکښې اوشونودغه مونځ هرګزنه اداکیږی.اوکه دَوخت نه پس ئې کوی نو هغه هم ادانه دې بلکه قضابه وی.

سوال: دَڅووختونومونځ فرض دې؟

جواب: په شپه ورځ کښې پنځه وخته مونځ کول فرض دی او دَدې نه علاوه دَ وترو مونځ واجب دې.

سوال: فرض،واجب،سُنت،نفل،څه ته وائی اوڅه فرق ئې دې؟

جواب: فرض هغې ته وائی چه په قطعی دلیل سره ثابت وی یعنی دَهغې په ثبوت کښې څه شک نه وی.دَفرضیت نه انکارکونکې کافر دې. اوبې عذره پریخودونکې فاسق اودَسخت عذاب لائق کیږی.واجب هغه دی چه په ظنی دلیل سره ثابت وی.دَدې انکار کونکے کافرکیږی نه البته په بې لاعذره پریخودوسره ئې فاسق اودَسختِ عذاب لائق کیږی.سنت هغې ته وائی چه حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یاصحابه کرامورَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کړی وی یائې دَکولو حکم کړې وی.نفل هغې ته وائی چه غوره والئ ئې په شریعت سره ثابت وی اوپه کولوکښې ئې ثواب وی اوپه نه کولوکښې ئې عذاب نه وی.دې ته مستحب مندوب اوتطوع هم وائی.

سوال: دَفرضوڅوقسمونه دی؟

جواب: دوه قسمونه دی(۱) فرض عین (۲) فرض کفایه.فرض عین هغه فرض دی چه ددي اداکول په هریوسړی لازم وی اوبې عذره پرېخودنکئ ئې فاسق اوګناه ګاروی.اوفرض کفایه هغه فرض دی چه یو دوه سړی ئې اداکړی نودټولو دَ ذمې نه ساقط شی اوچه یو تن ئې هم ادا نکړی نوټول ګناه ګار دی.

سوال: سنت څوقسمه دی؟

جواب:دوه قسمه دی:(۱) سنت مؤکده. (۲) سنُت غیرمؤکده.

سنت مؤکده هغه دی چه حضورپاک صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ همیشه کړی وی یائې دَکولوحکم کړې وی اوهمیشه ئې کړی وی یعنې بلاعذره ئې چرته نه وی پرېخودی.دداسې سنتو بې عذره پرخودل ګناه ده او دَ پرېخودوعادت ئې نیول سخته ګناه ده. اوغیرمؤکده سنت هغه دی چه حضورپاک صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اکثرکړی وی لیکن کله کله ئې پرېخودی هم وی بې دَڅه عذرنه ددې سنتوپه کولو کښې دَمستحبونه زیات ثواب دې.اوپه پرېخودوکښې ئې ګناه نشته،دې سنتوته سنت زوائد هم وائی.

سوال: دَحرامو،مکروه تحریمی اومکروه تنزیهی نه څه مراد دې؟

جواب: حرام هغې کارته وئیلې شی چه ممانعت ئې په دلیل قطعی سره ثابت وی اوکونکئ ئې فاسق اودَعذاب لائق وی.اومنکرئې کافروی.اومکروه تحریمی هغې ته وائی چه ممانعت ئې په دلیل ظنی سره ثابت وی اومنکرئې کافرنه وی لیکن کونکے ئې ګنا کار

وی.مکره تنزیهی هغې ته وائی چه په پرېښودوکښې ئې ثواب دې او په کولو کښې ئې عذاب نشته،لیکن یوقسم ناکاروالئ دې.

سوال: مُباح څه ته وائی؟

جواب: مباح هغې ته وائی چه په کولوکښې ئې ثواب نه وی او په نه کولوکښې ئې ګناه اوعذاب نه وی.

سوال: دَسحر دَ مونځ وخت بیان کړه؟

جواب: دَنمرختونه تقریباً یوه نیمه ګنټه مخکښې دَمشرق طرف ته دَآسمان په غاړه یوداسې سپین والئ ښکاره شی چه دَزمکې نه پورته نیغه دَیوې ستنې په شکل کښې اوچته شی دې ته صبح کاذب وائی بیالږ ساعت پس داسپین والئ ختم شی اوپه دې پسې بل سپین والئ ښکاره شی چه دَمشرق په کناره ښی اوګس طرف ته خوروی یعنی دَآسمان مشرقی کناره ټوله اونیسی نیغ په پورته نه ښیژی بلکه په ټوله کناره خور رااوچتیږی دې ته صبح صادق وائی.ددې صبح صادق دَختونه دَسحردَمونځ وخت شروع شی او دَ نمردَختونه لږ مخکښې ختم شی چه نمرسیره اوکړی نودَ سحر دَ مونځ وخت ختم شی.

سوال: دَسحردَمونځ مستحب وخت کوم یودې؟

جواب: چه رانړاشی اونمرختوته دومره وخت پاتې کیږی چه بیاپکښې دَسنت مطابق مونځ دوباره کولئ شی یعنی دَمونځ اداکولونه پس دومره وخت پاتې کیږی ځکه چه کیدې شی که دامونځ په څه وجه غلط شی نوچه دَنمرختونه مخکښې په وخت کښې بیادغه شان مونځ کیدې شی داسې وخت دَسحرمونځ کول غوره دی.

سوال: دَماسپخین وخت بیان کړئ؟

جواب: دَماسپخین وخت دَنمر واپس کیدلو نه شروع کیږی او دَ هغې وخت پورې وی چه دَهرشی سورې دوچندشی دَزوال دَ سوری نه علاوه یعنې دَنمرپه ځائې اودریدوپه وخت کښې چه دَ هرشی کوم سورې وی دَهغې نه علاوه چه نورسورې دوه چند شی نودَماسپخین وخت ختم شی.

سوال: دَماسپخین مستحب وخت کوم یو دې؟

جواب: دَګرمئ په موسم کښې دومره روستوکول چه دَګرمئ تاؤکم شی.اودَیخنئ په موسم کښې په اول وخت کښې کول مستحب وی.خوداخیال ساتل پکاردی چه دَسوری یومثل کیدونه اول اول اوشی.

سوال: دَعصر(مازیګر) دَمونځ وخت کوم یودې؟

جواب: هرکله چه دَاصلی سوری نه علاوه دَهرشی سورې دوچندشی نودَماسپخین وخت ختم شی دَمازیګروخت شروع شی اودَنمرپریوتوپورې وی.لیکن دَمازیګرمونځ دَنمرزیړیدونه مخکښې مخکښې کول پکاردی.

سوال: دَماښام وخت کوم یودې؟

جواب: چه نمرپریوځی نودَماښام وخت شروع شی اودَشفق پریوتوپورې دَماښام وخت وی.

سوال: شفق څه ته وائی؟

جواب: دَنمرپریوتونه پس چه مغرب طرف ته دَآسمان په کناره کومه سُرخی وی هغې ته شفق احمر(یعنې سوروالئ) وائی او بیادَسرخئ نه پس سپین والئ پاتې شی هغې ته شفق ابیض(یعنې سپین والئ) وائی.بیاداسپین والئ هم ورک شی او آسمان ټول یوشان شی.ددې سپین والی دَختمیدونه اول اول دَ ماښام دَمونځ وخت وی.

سوال: دَماښام مستحب وخت کوم یودې؟

جواب: اول وخت ئې مستحب دې اوبلاعذره دَماښام مونځ ناوخته کول مکروه دې.

سوال: دَماسخُتن وخت کوم یودې؟

جواب: دَسپین شفق دَختمیدونه دَماسختن وخت شروع کیږی او دَ صبح صادق دَختونه لږمخکښې ختم شی.

سوال: دَماسخُتن وخت مستحب کوم یودې؟

جواب: دَدریمې حصې دَشپې پورې مستحب دې بیادَنیمې شپې پورې مباح دې اودَهغې نه اخوابیاه مکروه دې.

سوال: دَ وِترو وخت کوم یو دې؟

جواب: دَوِترو هم هغه وخت دې کوم چه دَماسخُتن دَمونځ دې.لیکن وتردَماسخُتن دَمونځ نه مخکښې کول جائز نه دی.دَماسخُتن دَمونځ نه پس ئې وخت دې .

سوال: دَ وِترومستحب وخت کوم یو دي؟
جواب: که دَچاپه ځان یقین وی چه په آخره حصه دَشپې کښې به بیدارشم نودده دپاره دَشپې په آخره کښې وترکول مستحب دی۔لیکن که پاسیدې ئښی نودَخملاستونه اول ژرته وتر کول پکار دی.

دَمونځ دَشپږم شرط (قبلې ته د مخ کولو) بیان

سوال: مخ قبلې ته کول څه ته وائی؟
جواب: قبلې طرف ته مخ په قبله اودریدلوته مخ قبلې ته کول وائی.
سوال: قبلې ته مخ کول په مونځ کښې دَشرط کیدوڅه مطلب دې؟
جواب: دَمونځ کونکی دپاره ضروری دی چه دَمونځ کولوپه وخت کښې ئې مخ قبلې ته وی.
سوال: دَمسلمانانوقبله کومه ده؟
جواب: دَ مسلمانانوقبله خانه کعبه ده.خانه کعبه دَکوټې په شکل یو کور دې چه دَعربوپه ملک کښې دمکې مکرمې په ښارکښې دې. خانه کعبې ته کعبة الله،بیت الله اوبیت الحرام هم وائی.
سوال: قبله کوم طرف ته ده؟
جواب: دَپاکستانی هندوستان ،برما،بنګال اودَنورو ډیروملکونو قبله مغرب طرف ته ده ځکه چه داملکونه دَزمکې نه مشرق ته دی.

سوال: که دَبیمارمخ قبلې ته نه وی اوپه ده کښې دَخوزیدو طاقت هم نه وی نوڅه به کوی؟

جواب: که بل سړې وو چه مخ ئې ورته قبلې ته کولې شو اوپه خوزولو ده ته تکلیف نه رسیدو نومخ دې ورته قبلې ته کړی اوکه څوک نه وو یا ورته تکلیف وو نوهرطرف ته چه ئې مخ وو مونځ ئې کیږی.

دَ مونځ دَ اُووم شرط دَ (نیت) بیان

سوال: دَنیت نه څه مراد دې؟

جواب: نیت دَزړه ارادې کولوته وائی.

سوال: په نیت کښې به دَڅه اراده کوې؟

جواب: په نیت کښې به خاص دَهغې مونځ اراده کوې کوم چه کوې مثلاً دَسحرفرض کوې نودااراده به کوې چه دَدې نننی سحرمونځ کوم اوکه په امام پسې وی نودَامام نیت به هم کوې.

سوال: دَنیت په ژبې سره وئیل څنګه دی؟

جواب: مستحب دی.څوکه په ژبه ئې اونه وائی نوپه مونځ کښې هیڅ نقصان نه راځی.اوکه اووائی نوښه ده.

سوال: دَنفل مونځ نیت به څنګه کوئ؟

جواب: دَنفل مونځ دومره نیت پوره دې چه نفل مونځ کوم دَسنت اوتراویح دَمونځ دپاره هم دومره نیت کافې دې.

دَ آذان بیان

سوال: دَ آذان معنی څه ده؟

جواب: دَ اَذان معنی ده خبرکول.لیکن په شریعت کښې دَ خاصو مونځونو دپاره په خاصوالفاظوسره خبرکولوته اذان وائی؟ الفاظ دَاذان په اوله حصه کښې تیرشوی دی.

سوال: اذان فرض دې اوکه سُنت؟

جواب: اذان سنت دې لیکن دَاَذانَ نه دَاسلام یوخاص شان ظاهرېږی په دې وجه ددې ډیرتا کیددې.

سوال: اَذان دَکومومونځونودپاره سنت دې؟

جواب: دَ پنځو فرضو مونځونو او جُمعې دَ مونځ دپاره اَذان سنت دې دَدې نه علاوه دَنورو مونځونودپاره سنت نه دې.

سوال: اذان څه وخت ویلې شی؟

جواب: دَهریوفرض مونځ دپاره دَهغې په وخت کښې ویل پکار دی که دَوخت نه اول اووئیلې شونوبیابه ئې دوباره وائې.

سوال: دَاَذان مستحب طریقه څه ده؟

جواب: په اذان کښې اووه خبرې مستحب دی(۱) مخ په قبله اودریدل(۲) دَاذان کلمې په قلاره قلاره وئیل(۳) دَاذان ویلوپه وخت کښې دَشهادت ګوتې په غوږونوکښې ایښودل(٤) په اوچت ځائې اذان وئیل(٥) په اوچت آواز ئې وئیل(٦) دَحَيَّ عَلَی الصلٰوةِ په وخت کښې ښی طرف ته اودَحَيَّ عَلَی الفَلاَحِ وئیلوپه وخت کښې ګس طرف ته مخ ګرزول (۷) دَسحرپه اذان کښې دَحَيَّ عَلَی الفَلاَحِ نه پس دوه ځله اَلصَّلٰوةُ خَیرمِنَ النَّوم وئیل.

سوال: اقامت څه ته وائی؟

جواب: دَفرض مونځ شروع کولوپه وخت کښې دغه کلمې کومې چه په آذان کښې وئیلې شی دې وئیلوته اقامت وائی په اقامت کښې دَ حَیَّ عَلَی الفَلاَحِ نه پس دوه ځله قَدقَامَتِ الصَّلوٰةُ به زیات وائی.

سوال: اقامت وئیل څه دی؟

جواب: اقامت هم دَفرض مونځونودپاره سُنت دې دَبل يو مونځ دپاره سُنت نه دې.

سوال: اذان اواقامت دَسړواوښځودواړودپاره سُنت دې؟

جواب: نا،بلکه صرف دَسړودپاره سُنت دې.

سوال: بې اودسه اذان اواقامت څنګه دی؟

جواب: اذان بې اودسه جائزدې ليکن عادت نيول ئې ښه نه دی.اواقامت بې اودسه مکروه دې.

سوال: که څوک په کورکښې فرض مونځ کوی نواذان اقامت به کوی؟

جواب: دَمحلې اذان اقامت کافی دې خوکه اوکړئ نوښه ده.

سوال: مسافربه په سفرکښې اذان اقامت کوی یانه؟

جواب: په حالت دَسفرکښې چه دَآبادئ نه بهروی اذان اقامت به دواړه کوی.ليکن که يواځې اقامت اوکړی خيردې دواړه پريښودل مکروه دی.

سوال: چه اذان يوكس اوكړی او اقامت بل كس اووائی نوداجائز دي كه نه؟

جواب: چه اذان كونكي موجودنه وی ياوی خوډبل په اقامت نه خفه كيږی نوجائز دی ليكن كه خفه رو نومكروه دی.

سوال: اقامت دَاذان نه څومره پس پكارديږ؟

جواب: دَ ماښام نه سواپه نورو وختونوكښي دومره صبرپكارديږ چه خلق پكښي دَخوراک نه فارغ شی او اودسونه اوكړی. او دَ ماښام به دومره صبركوی چه دريږ آياتونه لوستي شی.

سوال: دَاذان اواقامت اجابت څه ته وائی اوڅه حكم ئي ديږ؟

جواب: دَ اذان اواقامت دواړو اجابت مستحب ديږ .اودَاجابت نه مرادداديږ چه اوريدونكئ به هم هغه كلمي وائی كومي چه بانګ ويونكئ وائی.ليكن دَ حَيَّ عَلَى الصَّلاَة او حَيَّ عَلَى الفَلاَحِ په جواب كښيږ به لَاحَولَ وَلَا قُوَّةَ اِلاَ بِاللهِ وائی اودَاقامت دَ قَدقَامَتِ الصلوةُ په جواب كښيږ به أَقَامَهَا اللهُ وَأَدَامَهَا وائی اودَسحردَ اَلصَّلوةُ خَيرمِنَ النَّومِ په جواب كښيږ به صَدَقتَ وَبَرِرتَ وائی.

سوال: دَ اذان نه پس كومه دُعالوستل پكارده؟

جواب: دَ آذان نه پس دا دُعا وئيل پكارده.

(اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّآمَّةِ وَالصَّلوٰةِ الْقَآئِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَنِ الَّذِیْ وَعَدتَّه اِنَّكَ لَاتُخْلِفُ الْمِيْعَاد)

دَ مونځ ارکان

سوال: دَمونځ ارکان څه ته وائی؟

جواب : دَمونځ ارکان هغه دی چه په مونځ کښې دننه فرض دی.ارکان دَرکن جمع ده رکن معنی فرض اودَارکان معنی فرائض ده.

سوال: په مونځ کښې دننه څوفرض دی؟

جواب : شپږفرض دی(۱) اولنې تکبیر(۲) قیام(اودریدل (۳) قراة (یعنی قرآن لوستل)(٤) رکوع کول(٥) دوه سجدې کول (٦) آخری قعده (یعنې دَمونځ په آخره کښې دَتشهدپه مقدارکیناستل) لیکن تکبیرتحریمه (اولنې تکبیر) شرط دې رکن نه دې.

سوال: چه تکبیرتحریمه شرط دې نودَشرطونوسره ئې ولې ذکرنه کړه؟

جواب: چونکه په تکبیرتحریمه اوارکانوکښې څه فاصله نشته اوددې نه مونځ شروع کیږی نوپه دې جه تکبیرتحریمه دَارکانوسره بیانول مناسب معلومیدل.

تکبیرتحریمه

سوال: دَتکبیرتحریمه نه څه مراددې؟

جواب :دَنیت تړلوپه وخت کښې چه اَللّٰهُ اَکبَرَ وائی ددې نه مونځ شروع کیږی اوکومې خبرې چه دَمونځ خلاف دی هغه حرامیږی نوپه دې وجه دې ته تکبیرتحریمی وائی.

سوال: که دَفرض مونځ تکبیر تحریمی ئې په تیټه اوکړو نوجائز دې؟

جواب: نه دې جائز .ځکه چه دَفرض اوواجب مونځونوچه څه عذر نه وی تکبیر تحریمه په ولاړې وئیل شرط دی.

دَ مونځ دَ ړومبی رکن یعنی(قیام) بیان

سوال: دَ قیام نه څه مراد دې؟

جواب: قیام اودریدو ته وائی .اودَاودریدو نه داسې نیغ اودریدل مراددی چه لاس زنګونانوته نه رسیږی.

سوال: قیام څومره اوپه کوم مونځ کښې فرض دې؟

جواب: په فرض او واجب مونځونوکښې دومره اودریدل فرض دی چه په قدر دَ فرض قرات پکښې اولوستئ شی.

سوال: که دَ اودریدو طاقت ئې نه وی نوڅه به کوی؟

جواب: چه بیماروی یابل داسې قوی عذروی چه دَ هغې په وجه اودریدې نشی نوپه ناستې فرض واجب مونځ کول جائزدی.

سوال: په نفل مونځ کښې دَقیام څه حکم دې؟

جواب: په نفل مونځ کښې قیام فرض نه دې خوبلاعذره په ناستې دَنفل مونځ کولوسره نیم ثواب ملاویږی.

دَ مونځ دَ دویم رُکن (قرات) بیان

سوال: دَ قرات نه څه مراد دې؟

جواب: قرآن مجید لوستلوته قرات وائی.

سوال: په مونځ کښې څومره قرآن پاک لوستل ضروری دی؟
جواب: دَکم نه کم یو آیات لوستل فرض دی.اوسورة فاتحه لوستل واجب دی.او دَ فرضو په اول دؤو رکعتونوکښې اوپه وتروکښې اوپه سُنتواونفلوکښې په ټولورکعتونو کښې دَ سورة فاتحې نه پس یوبل سورة یایولوئې آیات یادرې واړه آیاتونه هم لوستل واجب دی.
سوال: دَ سورة فاتحې لوستل دَټولومونځونوپه هریورکعت کښې لوستل واجب دی؟
جواب:دَفرض مونځ په دریم اوڅلورم رکعت کښې نه اونورپه هرمونځ کښې که فرض وی که واجب وی که سنت یانفل په هررکعت کښې سورة فاتحه لوستل واجب دی.
سوال: که چاته یوآیات هم یادنه وی نوڅه به کوی؟
جواب:سُبحَانَ اللهِ یااَلحَمدُ لِلّٰه به قرات په ځائې وائی خودېرزرېرې دَقرآن مجیدزده کول او یادول فرض دی.دَفرضوپه مقدار قرات یادول فرض دَسنتوپه مقدارسُنت اودَواجبوپه مقدار واجب او نه زده کول ئې سخته ګناه ده.
سوال: قرآن مجیدپه کوم مونځ کښې په زوره وئیلې شی؟
جواب: په امام باندې واجب دی چه دَمابنام ماسخُتن په اولودوه رکعتونوکښې اودَسحرپه مونځ اودَجمعې اواخترونوپه مونځونوکښې دَ روژې دَمیاشتې په تراویحوکښې اوپه وتروکښې په زوره قرات وائی.

سوال: په کومومونځونوکښې په پټه قرات وئیلئ شی؟
جواب: دَماسپخین مازیګرپه مونځ کښې به امام اومنفرددواړه په پټه وائی اوپه وتروکښې به منفرد په پټه وائی.
سوال: په زور سره دَ وئیلوڅه حد دې؟
جواب: په زور سره دَوئیلو ادنٰی درجه داده چه آوازئې دَګاونډی غوږته اورسیږی. او دَ رو وئیلو اندازه داده چه دَویونکی آواز خپلوغوږونوته اورسیږی.
سوال: په کومومونځونوکښې چه په زوره قرات کولئ شی هغې ته څه وائی؟
جواب: هغې ته جهری مونځونه وائی ځکه دَجهرمعنی په زوره ده.
سوال: که څوک په ژبه الفاظ نه اداکوی صرف په خیال سره ئې وائی نوجائز دی او که نه؟
جواب: صرف په خیال راتلوسره مونځ نه کیږی بلکه ژبه سره لوستل ئې ضروری دی.

دَ مونځ دریم رکن (رکوع) او څلورم رکن (سجدې) بیان

سوال: دَرکوع ادنی مقدار څه دې؟
جواب: دَ رکوع ادنی مقدار دادې چه دومره ښکته شی چه لاس زنګونانوته اورسیږی.

سوال: دَرکوع سُنت طریقه څه ده؟

جواب: دومره ښکته کیدل چه سراوملابرابرشی اوخنګلي دَ تشونه جداوی اوزنګونان په لاسونواونیسی.

سوال: که څوک دَبوډاوالي نه ټیټشي یادومره کبراشی چه دَرکوع شکل ئې جوړشی نورکوع به څنګه کوی؟

جواب: صرف دَسرپه اشاره یعنی ښکته کلوسره ئې رکوع کیږی.

سوال: دَسجدې نه څه مراددې؟

جواب: په زمکه تندی اِږدلوته سجده وائی؟

سوال: که صرف په پوزه یاتندی باندې سجده کوی نوجائز دی؟

جواب: که عذروو نوجائز دی اوکه بې دَعذره ئې صرف په تندی سجده اوکړه نو اوشوه خومکروه ده اوکه بې دُعذرنه ئې صرف په پوزه اوکړه نوسجده نه ده شوې.

سوال: په هریورکعت کښې یوه سجده فرض ده که دواړه؟

جواب: دواړه سجدې فرض دی.

سوال: که په تندی اوپوزه دواړو زخم وی نوڅه به کوی؟

جواب: په سرسره داسې سړی له دَسجدې اشاره کافی ده.

سوال: دَ دواړو سجدوپه مینځ کښې به څومره کینی؟

جواب: ښه برابربه کینی نوبیابه بله سجده کوی.

سوال: په اخترونویاجمعه یاپه بله ګڼړه کښې ځائې دومره تنګ وی چه شاته سړی دَمخکښې په شاسجده اوکړی نوداجائز ده؟

جواب: آؤ،جائز ده.

دَ مونځ دَ پنځم رکن (اٰخری قعدې) بیان

سوال: دَ آخری قعدې څومره مقدار فرض دې؟

جواب: دَ اَلتحیات نه دَ عَبدُہٗ وَرَسُولُه پورې دَلوستو په مقدار کیناستل فرض دی.

سوال: قعده آخری په کومومونځونوکښې فرض ده؟

جواب: په ټولومونځونوکښې که فرض واجب،سنت،یانفل هر یو مونځ چه وی آخری قعده پکښې فرض ده.

دَ مونځ واجبات

سوال: دَمونځ دَ واجباتونه څه مراد دې؟

جواب: دَ مونځ واجبات هغې ته وائی چه په مونځ کښې دَهغې ادا کول ضروری وی.که دَدوی نه څه په هیره سره په مونځ کښې پاتې شی نوپه سجده سهوه کولو سره مونځ اوشی اوکه سجده سهوه ئې اونکړه یائې قصداً واجب پاتې کړه نو دَ مونځ بیاواپس کول پرې واجب دی.

سوال: په مونځ کښې څوواجبات دی؟

جواب: په مونځ کښې څوارلس واجب دی:

(۱) دَ فرضو اولنی دواړه رکعتونه دَقرات دپاره مقررکول.

(۲) دَ فرض مونځونودریم اوڅلورم رکعت نه علاوه دَ ټولو مونځونو په هریورکعت کښې الحمدُ وئیل.

(۳) دَ فرض مونځونوپه اول دواړو رکعتونوکښې اودَباقی ټولومونځونوپه ټولورکعتونوکښې الحمدُ نه پس یو سورة یااوږد یو آیات یادرې لنډآیاتونه وئیل.
(٤) الحمدُ دَ سورة نه اول وئیل.
(٥) په قرات اورکوع سجده او رکعتونوکښې ترتیب قائم ساتل.
(٦) قومه کول یعنې دَرکوع نه پس نیغ اودریدل .
(۷) جلسه کول یعنې دَ دواړو سجدوپه مینځ کښې نیغ کیناستل.
(۸) هریورکن په اطمینان سره اداکول.
(۹) اوله قعده یعنې په درې یاڅلوررکعته مونځ کښې په دوه رکعتونوقعده کول دَتشهدپه قدرکیناستل.
(۱۰) په دواړو قعدوکښې تشهدوئیل.
(۱۱) امام ته په جهری مونځ کښې په زوره وئیل اوپه پټ مونځ کښې پټ وئیل.
(۱۲) په لفظ دَسلام سره دَمونځ نه وتل.
(۱۳) په وتروکښې دعائې قنوت وئیل.
(١٤) دَ دواړو اخترونومونځونوکښې زائدتکبیرونه کول.

دَ مونځ دَ سُنتو بیان

سوال: دَ مونځ دَ سنتونه څه مراددي؟
جواب: کوم څیزونه چه په مونځ کښې دَ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ثابت دی لیکن دَفرضواوواجبوبرابرتاکیدئې ثابت نه دې هغې ته سنت وائی

په دې کښې که څه شې په هیره پاتې شی نو نه مونځ ماتیږی اونه سجده سهوه لازمیږی نه څه ګناه کیږی البته په ثواب کښې کمې راځی.اوپه قصدًا پریخودو سره ئې مونځ هم نه ماتیږی اوسجده سهوه هم نه لازمیږی البته پریخودونکۍ دَ ملامتیامستحق کیږی.

سوال: په مونځ کښې څوسنُت دی؟

جواب: په مونځ کښې یویشت(۲۱) سُنت دی..(۱) په تکبیر تحریمی کښې دواړه لاسونه غوږونوته اوچتول.(۲) دَلاسونوګوتې په خپل حال خورې اوقبلې ته ساتل(۳) دَتکبیروئیلوپه وخت کښې سرنه ښکته کول(٤) دَامام تکبیرونه په زوره وئیل(٥) ښی لاس په ګس لاس دپاسه دَنامه لاندې ږدل(٦) سُبحان وئیل(۷) اعوذبالله وئیل(۸) بسم الله وئیل(۹) دَفرضو مونځونو په دریم اوڅلورم رکعت کښې الحمدوئیل(۱۰) آمین وئیل(۱۱) ثناء اعوذبالله او بسم الله آمین پټ وئیل(۱۲) دَسنتو مطابق قرات کول یعنې په کوموکومو مونځونوکښې چه څومره څومره قرات لوستل سُنت دی دومره لوستل.(۱۳) په رکوع اوسجده کښې درې پیرې تسبیح وئیل(۱٤) په رکوع کښې سر اوشا برابر ساتل او دَ دواړو لاسونو په خورو ګوتو زنګونان کلک نیول (۱٥) په قومه کښې امام ته سمع الله الح او مقتدی ته رَبَنالک الحمد او یواځې مونځ کونکی ته دواړه وئیل(۱٦) سجدې ته دَ تلو په وخت کښې اول دواړه زنګونان بیالاسونه بیاپوزه بیاتندې په زمکه ږدل (۱۷) په جلسه اوپه قعده کښې په ګسه خپه کیناستل اوښې خپه

اودرول داسې چه دَګوتوسرونه ئې قبلې ته وی او دواړه لاسونه په ورنانوړدل(۱۸) په تشهدکښې دَ لااله کلمې سره په ګوته اشاره ګول (۱۹) په آخری قعده کښې دَ تشهدنه پس درود وئیل(۲۰) دَ درودو نه پس دعاوئیل(۲۱) اول ښي بیاګس طرف ته سلام ګرځول.

دَ مونځ مستحبات

سوال: په مونځ کښې څو مستحب دی؟

جواب: په مونځ کښې پنځه مستحب دی

(۱) دَ تکبیرتحریمې په وخت کښې دواړه لاسونه دَجامونه بهرکول.

(۲) په رکوع سجده کښې منفردته دَدرې ځله نه زیات تسبیح وئیل.

(۳) دَقیام په حالت کښې دَسجدې ځائې ته کتل په رکوع کښې دَقدمونوشاته قاعده جلسه کښې خپلې غیږې ته کتل اودَسلام ګرځولوپه وخت کښې خپلواوګوته کتل.

(٤) ټوخې دَخپل طاقت مطابق بندول.

(٥) اسویلی کښې خوله بنده ساتل اوکه بیرته شوه نودَقیام په حالت کښې دَښی لاس په شاویه باقی حالتونوکښې په ګس لاس سره خوله پټول.

دَ مونځ کولو پوره طریقه

چه دَمونځ اراده اوکړئ نواول ځان دَلوئې اوورې بې اودسۍ او ظاهری پلیتئ نه پاک کړه پاکې کپړې واغونده په پاک ځائې مخ په قبله داسې اودریږه چه دَ دواړو خپویه مینځ کښې درې څلورګوتې یا دې نه نزدې فاصله وی.بیاچه کوم مونځ کوې دَهغې نیت په زړه سره

اوکړه مثلاً دَسحرفرض خاص خدائي لره کوم اوکه په ژبه ئې اووائې نوهم ښه ده.بیادواړه لاسونه غوږ.ونوته داسې اوچت کړه چه ورغوی اوګوتې قبلې ته راشي اوغټه ګوته دَغوږ.ونوپوزکئ ته اوګوتې جُختې نه وی دَیوبل سره.بیاالله اکبراووایه دواړه لاسونه دَنامه لاندې داسې په مړونداوغټه اوکچه ګوته دَمړوندنه چاپیره راشي.اونظردَسجدې په ځائې. اوبیاسُبحانَ بیااعُوذُباللهِ بیابسمِ الله اوبیاالحمدو اووایه چه الحمدُ ختمه شی پټ وریسې آمین اووایه بیاوریسې څه سورة چه درته یاد وی هغه اووایه.لیکن که ته په امام پسې ئې نو دَ سبحانَ وئیلو نه پس به بیاچپ اودریږې.قرات په دمه او صحیح وایه.بیاالله اکبر اووایه رکوع ته لاړشه.په خورو ګوتو زنګونان کلک اونیسه ملا داسې سیدها کړه چه که دَ اوبو ډکه جام پرې کیخودې شی نوچه برابر وی.اوسردَملاسره برابرکړه چه نه ترې ښکته وی اونه پورته اوخنګلې دَتشونه بیرته اوپنډئ سیده کړه.بیادَرکوع تسبیح درې یا پنځه یاووه پیرې اووایه. بیاسمع الله اووایه نیغ اودریږه په ولاړې رَبَنَالَكَ الحَمدُ اووایه بیاالله اکبر اووایه سجدې ته داسې زه چه اول په زمکه دواړه زنګوناں بیالاسونه بیاپوزه بیاتندې اولګوه سردَ دواړو لاسونو په مینځ کښې داسې کیږده چه غوږ.ونه دَکټوګوتوپه برابرراشي اودَ لاسونو ګوتې راټولې قبلې ته برابر راوله. خنګلې دَتشونه اوخیتـه دَ ورنونونه جداساته اوپه زمکه خنګلې هم مه خوره وه .په سجده کښې

درې یاپنځه یاووه پیرې تسبیح اووایه. بیاتکبیروایه اول تندې بیاپوزه بیا لاسونه اوچت کړه نیغ کینه داسې بیابله سجده اوکړه بیاالله اکبر اووایه نیغ اودریږه داسې چه اول تندې اوچت کړې بیاپوزه بیالاسونه بیا زنګونان اولاسونه په زړه طریقه دَدامه لاندې کیږده بسم الله او الحمداوسورة او وایه که په امام پسې مونځ کوئ نوهیڅ مه وایه چپ اودریږه اوبیاپه دغه زړه طریقه رکوع او بیادوه سجدې اوکړه.دَدویمې سجدې نه پس داسې کینه چه ګڅه خپه پرېباسه کینه پرې اوښې خپه اودروه دَ دواړو خپو دَګوتوسرونه قبلې ته راوله اودواړه لاسونه په ورنانو کیږده التحیات شروع کړه او چه اَشهَدُ ان لااِلهَ ته اورسیږې نو دَ غټې ګوتې اومینځنې ګوتې دَښی لاس نه حلقه جوړه کړه او نورې دوه ګتې راټولې کړه او په لَا اِلٰهَ باندې دَشهادت ګوته اوچته کړه او په اِلَّا اللهُ ئې کیږده. که دوه رکعته مونځ وو نو درود او ورپسې اووایه او که څلور رکعته یادرې رکعته وو نودَتشهدنه پس پورته شه او باقی رکعتونه هم په دغه طریقه اوکړه په آخری قعده تشهد او درود او دعا اووایه اول ښی طرف ته بیاګس طرف ته سلام اوګرځوه په سلام کښې به دَ ملائکو اومونځ کونکواوچه کومې ډډې ته امام وی دَ امام نیت کوې اوامام به دَ دواړو ډډو دَمقتدیانو اوملائکو نیت کوی.

او بیا اَللّٰهُمَّ اَنتَ السَّلاَمُ الخ او نورې دُعاګانې مختصرې اووایه.

د تعلیم الاسلام دریمه حصه ختمه شوه

تعلیم الاسلام دَ څلورمې حصه اوله شعبه
تعلیم الایمان(اسلامی عقائد)

بِسمِ اللهِ الرَحمنِ الرَحِیمِ

توحید

سوال: دَلفظ "اللّٰه" څه معنی ده؟

جواب :اللّٰه دَهغه ذات (خدائې تعالی) نوم دې چه واجب الوجوداوتمام صفات کمالیه پکښې موجوددی.

سوال: واجب الوجود څه ته وائی؟

جواب :واجب الوجودداسې هستی ته وئیلې شی یاداسې موجودشی ته وائی چه دَهغه وجود(موجود) کیدل واجب یعنې ضروری وی اودَهغه عدم(نیستی) محاله وی.

چه واجب الوجودوی هغه به همیشه وی اوهمیشه به اوسی.نه ئې ابتداء وی نه انتها.په هیڅ وخت کښې دده نیستی نه وی.اودې خود بخود موجود وی ځکه چه څه شې دَبل په پیدا کولو موجود کیږی هغه واجب الوجود نشی کیدې.پس دَاسلام تعلیم په موجب اللّٰه تعالی واجب الوجود دې. دَ هغه نه سوایه عالم کښې هیڅ شې واجب الوجودنشته.

سوال: دَصفات کمالیوڅه معنی ده؟

جواب: خدائې پاک چونکه واجب الوجوددې او دَ واجب الوجود په خپل ذات کښې کاملیدل ضروری دی نوددې ذاتی کمال دپاره

چه دَکوموکوموصفتونوپه ده کښې کیدل ضروری دی هغه ټول دَهغه دپاره ثابت دی.دغې صفتونوته صفات کمالیه وائی.

سوال: کوم شې چه همیشه وی او همیشه به وی هغې ته څه وائی؟

جواب: داسې شې ته قدیم وائی۔

سوال:دَاللّٰه پاک نه سوا نورڅه قدیم دی؟

جواب : اللّٰه پاک اودَهغه ټول صفات قدیم دی دَدوی نه سوانورهیڅ شې قدیم نه دې.

سوال:چه دَاللّٰه پاک نه سوانورڅه شې دَهمیشه نه موجودنه وو نو اللّٰه پاک داآسمانونه او زمکه اوټول څیزونه څنګه جوړکړل؟

جواب: اللّٰه پاک داټول عالم په خپل حکم او خپل قدرت سره پیداکړل هغه ته ددې هرڅه دَپیداکولو دپاره دَڅه شی حاجت نه وو، ځکه چه که اللّٰه تعالیٰ هم دَعالم په پیداکولوکښې څه شی ته محتاج وې نوهغه به بیاواجب الوجود نشی کیدې.یادَساتئ چه اللّٰه پاک واجب الوجوددې اوواجب الوجودپخپل هیڅ یوکارنه چاته محتاج وی اونه ورته دَڅه شی احتیاج وی.

سوال: دَاللّٰه پاک صفات کمالیه کوم کوم دی؟

جواب :وحدت،قدم یاوجوب دَ وجود، حیٰوة، قدرت، علم، اراده، سمع، بصر،کلام،خلق،تکوین وغیره وغیره.

سوال: دَصفتِ وحدت څه معنی ده؟

جواب: دَ وحدت معنی ده یووالئ دادَخدائې پاک صفت دې چه هغه پخپل ذات کښې هم یودې اوپه صفاتوکښې هم بې مثاله دې. او دَ توحیدمعنی ده خدائې یوګڼړل یادَهغه دَیووالی یقین او اقرارکول.

سوال: دَصفتِ قِدَم.اووجوب وجود څه معنی ده؟

جواب: دَقِدم معنی ده قدیم والئ یعنی دَهمیشه نه دې اوهمیشه به وی.اودَوجوب وجودمعنی ده واجب الوجودوالئ اودَواجب الوجودمعنی په شروع کښې تاسواووئیله.

سوال: دَ اَزَلِی اَبَدی څه معنی ده؟

جواب: دَکوم شی چه ابتداء نه وی یعنی دَهمیشه نه وی هغه ته ازلی وائی اودَکوم شی چه انتهانه وی هغې ته ابدی وائی پس خدائې پاک ازلی هم دې اوابدی هم دې اودامعنی دَ قِدیم والی ده.

سوال: دَحیٰوة څه معنی ده؟

جواب:دَحیٰوة معنی دَژوندانه ده یعنی خدائې پاک ژوندې دې دَ ژوندصفت دَهغه دپاره ثابت دې.

سوال: دَصفتِ قدرت څه معنی ده؟

جواب: دَقدرت معنی ده طاقت یعنې دَعالم دَپیدا کولو اودَقائم ساتلو اوبیادَفنا کولواوبیا دَ موجود کولو قدرت (طاقت) لری.

سوال: دَصفتِ علم څه معنی ده؟

جواب: دَعلم معنی ده پوهه یعنی الله پاک په هرڅه باندې پوهه دې دده دَعلم نه هیڅ شې لوئې وې اوکه وړوکۍ بهرنه دې.ذره ذره دَهغه په علم کښې ده هرشې دَوجودنه مخکښې اودَعدم نه پس هم هغه ته معلوم دې.په توره شپه کښې دَتورمیږی دَخپوحرکت هم دَهغه په علم کښې دې اووینی ئې.دَانسان په زړه کښې چه کوم خیالات پیدا کیږی هغه ورته هم ښه ښکاره وی علم غیب خاص دَالله تعالی صفت دې.

سوال: دَارادې څه معنی ده؟

جواب: دَارادې معنی ده پخپل اختیارسره کارکول.یعنی الله تعالی چه کوم شی لره غواړی پخپل اختیارسره ئې پیدا کوی اوچالره چه اوغواړی پخپل اختیارسره ئې معدوم(ورکوی) دَدنیاټول کارونه دَهغه په اختیاراو اراده سره کیږی.دَدنیایوشې دَهغه دَاختیاراو ارادې نه بهرنشته.هغه په هیڅ کارکښې مجبورنه دې.

سوال: دَصفتِ سمع اوبصرنه څه مراددې؟

جواب: دَ سمع معنی ده اوریدل او دَ بصرمعنی ده لیدل یعنی الله پاک هره خبره اوری او هرشې وینی لیکن دَمخلوق پشان نه دَهغه غوږونه دی اونه سترګې اونه دَهغه دَسترګواوغوږونو څه شکل اوصورت شته دَ نری نه نرې آواز اوری اودَورکوټی نه ورکوټې شې وینی دَهغه په لیدو اوریدوکښې دنزدې اولرې دَتیرې او رڼرا هیڅ فرق نشته.

سوال: دَ صفت کلام څه معنی ده؟

جواب: دَ کلام معنی ده وئیل، خبرې کول. دا صفت هم الله پاک لره ثابت دې لیکن دَهغه دپاره دَمخلوق پشان ژبه نشته.

سوال: چه دَالله پاک ژبه نشته نوخبرې څنګه کوی؟

جواب: مخلوق بغیرژبې نه خبرې نشی کولئ ځکه چه مخلوق دی.په ټولوکارونوکښې اسبابو آلاتو ته محتاج دی.لیکن الله تعالی چه په خپلوټولوکارونوکښې دَڅه شی محتاجه نه دې هغه په خبروکښې هم ژبې ته محتاجه نه دې.که هغه هم په خبروکولوکښې ژبې ته محتاجه شی نوبیاهغه الله اوواجب الوجودنشی کیدئ.

سوال: دَصفت خلق اوتکوین څه معنی ده؟

جواب: دَخلق معنی ده پیداکول اودَتکوین معنی ده په وجود کښې راؤړل.دَخدائې تعالی دپاره داصفت هم ثابت دې هغه دَټول مخلوق خالق اومُکَوِّن دې.

سوال: د دې صفاتونه علاوه دَ الله پاک نورصفتونه هم شته اوکه نه؟

جواب: آؤ دَالله پاک نورهم ډیرصفتونه دی لکه وژل،ژوندی کول، رزق ورکول،عزت ورکول،ذلت ورکول وغیره اودَالله پاک ټول صفتونه ازلی ابدی اوقدیم دی. په دے کښې کمې زیاتې تغیر اوتبدیلی هرګزنشی کیدې.

دَ اللہ تعالیٰ کتابونه

سوال: په اسلامی عقائدوکښې دا تیر شوی دی چه قرآن شریف په درې ویشت(۲۳) کاله کښې نازل شوې دې اوپه قرآن مجیدکښې الله پاک فرمائی شهر رمضان الذی انزل فیه القران(بقره:۲۳)

ترجمه: یعنی دَرمضان میاشت هغه ده چه قرآن پکښې نازل شوَدې نه خومعلومه شوه چه قرآن په رمضان کښې نازل شوې دې اوبل ځائې فرمائی:انا انزلنافی لیلة القدر.یعنی مونږ قرآن پاک په شب قدرکښې نازل کړو ددې نه معلومه شوه چه قرآن په شب قدرکښې نازل شوې دې نو دادرې واړه خبرې خوډَیوبل نه مخالفې دی په دوی کښې کومه یوه خبره درست ده؟

جواب: دادرې خبرې صحیح دی .خبره داده چه دَقرآن مجیدنزول دوه پیرې شوې دې.اول داچه ټول قرآن پاک په یو ځل دَ لوح محفوظ نه دَدنیا دې اول آسمان ته نازل شو په دویم ځل بیا لږلږ دَضرورت مطابق وخت په وخت نازلیدو دنیاته پس په دې دواړو آیاتونوکښې دَقرآن پاک دَنزول نه هغه اولنئ نزول مراد دې چه دَرمضان په میاشت کښې په یو نزول مراددې.چه دَرمضان په میاشت کښې په یوه شپه چه دَشب قدر وه دَلوح محفوظ نه دَدنیا آسمان ته نازل شوه.اوپه دریشت کاله کښې دَ نزول نه دویم نوزل مراددې چه ددنیا دَآسمان په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دریشت کاله کښې نازل شو.پس درې واړه خبرې دَیوبل سره مخالفې نه دی بلکه درې واړه صحیح دی.

سوال: دَ قرآن شریف دَنزول ابتداء دَکوم ځائې نه شوې ده یعنی دَ قرآن مجیدنزول کوم ځائې شروع شوې دې؟

جواب: په مکه معظمه کښې یوغردې چه حِرا نوم ئې دې په دې غرکښې یوغاردې حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دې غارته دَخدائې پاک دَعبادت دپاره تشریف اوړو،اوډیرې ډیرې ورځې به په دې غارکښې وو،چه خوراک به ورسره ختمیدو نوکورته به راتلو او دَ ځان سره به ئې دَخوروڅوخوراک وړو او هلته به یوازې دَ الله پاک په عبادت کښې مشغول وو دغه ځائې په دې غارکښې په حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَقرآن شریف نازلیدل شروع شوی وو.

سوال: دَقرآن مجید دَنزول شروع څنګه اوشوه؟

جواب: حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې غارکښې تشریف فرما وو چه جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ راغلواودوی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ښکاره شو او وې فرمائیل ورته چه اقرا دا دَسورة علق اولنئ لفظ دې.اومعنی ئې ده اولوله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوفرمائیل زه لوستونکې نه یم دغه شان درې ځله اوشوبیاحضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ دا آیاتونه اووئیل.

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ ① خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ② اِقْرَاْ وَرَبُّكَ الْاَكْرَمُ ③ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ④ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ یَعْلَمْ ⑤

اوچه دَهغه نه ئې واوریدل نوحضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم اووئیل پس دا آیاتونه په قرآن شریف کښې په حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَ ټولونه اول نازل شوی دی.

سوال: چه دَقرآن مجیدنزول دَسورة عَلَق نه شوې دې نودا موجوده ترتیب دَقرآن مجیدچه کوم دې په دې ترتیب سره نه دې لیکلئ شوې؟

جواب: نا. دا موجوده ترتیب دَنزول ترتیب نه دې خبره داده چه دَقرآن مجیدنزول دَضرورت اوموقع په لحاظ سره کیده،لیکن چه کله به یوسورة نازل شو نوحضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اوفرمائیل چه دادَفلانی سورة نه پس اودَفلانی سورة نه اول اولیکئ اوکله چه به آیاتونه نازل شول نوفرمائیل به ئې چه داپه فلانی سورة کښې دَفلانی آیات نه پس اودَفلانی نه مخکښې اولیکئ.پس دَ قران مجیدنزول اګرچه دَوخت او موقع لحاظ ددې موجوده ترتیب نه خلاف شوې دې لیکن دَ موجوده ترتیب هم دَحضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخودنې مطابق دې.

سوال: حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چه دَقرآن دَلیکلو اومرتب کولو کوم ترتیب خودلې وو اوقائم کړې وو دا دَدوی خپله رائې وه اوکه دَالله پاک دَحکم مطابق حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خودلې وو؟

جواب: دا دَسورتونوشمیراودَهریوسورة اول اوآخراودَهریوسورة دَآیاتونوشمیراودَهریوآیات اول او آخراودغه شان دَټول قرآن مجیدترتیب دَالله پاک دَطرف نه حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ته معلومه شوه.اوهغوی حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته اوخوده اودَ حضور پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ذریعه مونږ ته معلومه شوه.

سوال :دَقرآن مجید دَنزول خوځوارلس سوه کاله اوشونوددې خبرې څه دلیل دې چه داهم هغه قرآن مجیددې کوم چه په حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نازل شوې وو؟

جواب : ددې خبرې چه دَقرآن مجید کوم چه زمونږ سره اوس موجوددې هم هغه قرآن مجیددې کوم چه په حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې نازل شوې وو ډیر دلیلونه دی چه یو څو آسان آسان دلیلونه پکښې دا دی:

ړومبې دلیل: دَقرآن مجید متواترکیدل دی یعنی په تواترسره دَحضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دزمانې نه ترننه پورې نقل راروان دې (اوکوم شې چه په تواترسره ثابت وی دَهغې ثبوت یقینی اوقطعی وی) په هغې کښې دَڅه قسم شک او شبهې ګنجائش نه وی.

سوال: دَ تواتر او متواتر څه مطلب دې؟

جواب : دَکومې خبرې نقل کونکی چه دومره ډیروی چه دَ هغوی دروغ وئیل دَعقل په نزدمحال وی نودې خبرې ته متواتروائی اوددې خبرې دغه شان په نقل سره راتلوته تواتروائی.

پس دَقرآن مجیددَحضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَزمانې نه دومره په کثرت سره خلق نقل کونکی راروان دی اوپه مخه لوستېاولولې شی چه دَکم نه کم عقل سړې هم دایقین نشی کولئ چه دومره خلق ټول دروغ وائی.

دویم دلیل: دَ حضوپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَزمانې نه دَننه پورې په لاکهونو بلکه په کروړونومسلمانان دَقرآن شریف حافظان راروان

دی اونن هم دَمسلمانانوپه لاکھونوبچی،ځوانان بوډاګان داسې موجوددی چه په سینوکښې ئې قرآن شریف محفوظ دې. او دَ کوم کتاب چه دَنزول دَ وخت نه ترننه پورې دومره حافظان موجود وی اوهغوی پخپلوسینوکښې ددې حفاظت کړې وی.دَهغې کتاب په محفوظ کیدو او اصلی کیدو څه شک او شبه کیدې نشی؟

دریم دلیل : پخپله په قرآن شریف کښې رب العزت فرمائی: " اِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا الذِّكۡرَ وَاِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوۡنَ " یعنی مونږ ذکر(قرآن مجید) نازل کړې دې اومونږ ددې حفاظت کونکی یو.پس چه اللّٰه تعالی دَقرآن مجیددَحفاظت ذمه پخپله اخستې ده اودَدې دَ حفاظت وعده ئې کړې ده نوپه ضروری طورسره داواضحه شوه اوثابته شوه چه داقرآن مجیدهغه قرآن مجید دې کوم چه په حضورپاک صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ نازل شوې وو،نودَننه پورې محفوظ دې او انشاء اللّٰه تعالی چه دَقیامته پورې به محفوظ وی.

څلورم دلیل: قرآن مجید چه دَخپل نزول په وخت کښې کومه دعوه کړې وه چه ددې پشان کلام بل سړې نشی جوړولئ دا دعوه ترننه پورې دَقرآن مجیدپه باره کښې صحیح شوه.ځکه چه کوم قرآن مجیدنن موجوددې ددې مثل نه چاجوړکړو او نه دَ جوړولو دعوی ئې اوکړه نه څوک جوړولئ شی او نه به جوړکړئ شی.پس داددې خبرې ښکاره دلیل دې چه داقرآن مجید هغه اصلی قرآن مجیددې کوم چه په حضورپاک صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ باندې نازل شوې وو.

رسالت (پیغمبری)

سوال: په قرآن مجیدکښې دی چه: {وَاِنۡ مِّنۡ اُمَّةٍ اِلَّا خَلَا فِيۡهَا نَذِيۡرٌ} (فاطرع۳) یعنی یو قوم داسې نه دې تیرشوې چه هغوی ته ویرونکې نه دې راغلې. او بل ځائې فرمائی چه: {وَلِكُلِّ قَوۡمٍ هَادٍ} (رعدع۱) یعنی هریوقوم ته هدایت کونکۍ لیږلۍ شوې دې.نوددې آیاتونونه خودامعلومیږی چه هر ملک او هر قوم ته دَ الله پاک دَطرف نه هدایت کونکۍ لیږلۍ شوې دې. نو هندوستان (پاکستان) ته هم څوک پیغمبرراغلې دې؟

جواب: آؤ،ددې آیاتونونه بې شکه داخبره ښکاره کیږی چه دَهرقوم دپاره الله پاک هادی او ویرونکۍ رالیږلۍ دې نوممکنه ده چه هندوستان(پاکستان) ته هم نبی راغلې وې.

سوال: داکیدې شی چه دَهندوانوپیشوالکه کرشن جی او رام چندرجی وغیره دَالله پاک پیغمبران وو؟

جواب: دانه شی وئیلې ځکه چه پیغمبری یوخاص عهده وه چه دَ خدائې دَطرف نه به دَهغه غوره کړی شوواو خاصوبندګانوته ورکړۍ کیدې شوه نوترڅوچه دَشریعت نه داخبره نه وی معلومه شوی چه دا خاصه عهده الله پاک فلانی سړی ته ورکړې وه. دَ هغې وخت پورې مونږ هم نه شووئیلې چه هغه دَالله پاک نبی وو،که مونږ بغیردَشرعی دلیل نه پخپله رائې سره څوک پیغمبراوګڼړو اوپه واقع کښې هغه پیغمبرنه وی نودَالله پاک په حضورکښې به زمونږ نه ددې غلطې عقیدې تپوس کیدې شی اومونږ به پرې نیسی.داسې مثال دې لکه چه

ته دَيوسړى په باره کښې دَځان نه اووائى چه دادَبادشاه ګورنرجنرل دې او په واقع کښې هغه نه وى نوته به دَحکومت مجرم ئې چه يوداسې سړې چه بادشانه نه دې ګورنرجنرل کړې اوته غلطې خبرې خوره وې او بادشاه ته ئې نسبت کوې.پس په تيروخلقوکښې مونږ هغه چاته پيغمبر وئيلې شوچه په شريعت سره ئې پيغمبرى ثابته وى اويه قرآن يا حديث کښې ئې هغه ته پيغمبروئيلې وى.

دَ هندوانويادَنوروقومونودَپيشوايانومتعلق داقدرې مونږ وئيلې شو چه که دَهغوى عقيدې اوعملونه درست وى اودَهغوى تعليم دَ آسمانى تعليم نه خلاف نه وى اوهغوى دَمخلوق دَ راهنمائې او هدايت کارهم کړې وې نوممکنه ده چه نبى وى مګرداسې وئيل چه هغه نبى وو يقينًا بې دليله خبره اودَاتهکل غشې دې.

سوال: دَ حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ متعلق څه عقيدې لرل پکاردى؟

جواب: دَ الله پاک بنده اويوانسان وو(۲) دَالله پاک نه پس دوى په ټول مخلوق کښې افضل دى(۳) دَ ګناهونونه پاک او معصوم دې (٤) په دوى الله پاک قرآن مجيدنازل کړئ وو(۵) دوى دَمعراج په شپه الله پاک آسمانونوته اوبلل اودَجنت دوزخ وغيره سيل ئې پرې اوکړو(٦) دوى دَالله پاک په حکم سره ډيرې معجزې اوخودې (۷) دوى به دَالله پاک ډيرزيات عبادت اوبندګى کوله(۸) دَدوى اخلاق اوعادات دَ ډيرې اوچتې درجې وو(۹) دوى ته الله پاک دَډيروتيروشوو او راتلونکو حالاتوعلم ورکړې وو چه خپل اُمت ئې

دَهغې نه خبرکړې دي(۱۰) دوی ته الله پاک دَټول مخلوق نه زیات علم ورکړئ وو لیکن دَغیبوعلم ورته نه وو ځکه چه دَغیبودَعلم خاص دَالله پاک وو او دادَالله پاک خاص صفت دي(۱۱) دوی خاتم النبیین دی دَدوی نه پس به بل نوې نبی نه وی.لیکن حضرت عیسی عَلَیْهِ السَّلَامُ چه دَتیرې زمانې پیغمبردي دَآسمان نه به راکوزشی او دَ اسلامی شریعت پیروی به کوی(۱۲) دوی دَانسانانواوپیریانو ټولو دپاره رسول دې (۱۳) دوی به دَقیامت په ورځ دَالله پاک په اجازت سره دَگناه گارانوشفاعت کوی په دې وجه دوی ته شفیع المذنبین وائی. او الله تعالی به دَدوی شفاعت قبول کړی.(۱٤) دوی چه دَ کومو خبرودَکولوحکم کړې دې اودَکومونه چه ئې منع فرمائیلې ده اودَکوموخبروچه ئې اُمت ته خبرورکړې دې دامنل او یقین پرې کول په اُمت باندې لازم دی(۱۵) دَهغه سره محبت ساتل اوتعظیم تکریم ئې کول په هراُمتی لازم دی لیکن دَ تعظیم نه مرادهغه تعظیم دې چه دَشرعی قاعدې مطابق وې او خلاف شرع خبروته تعظیم یامحبت وئیل ناپوهی ده.

سوال: دَ معصوم نه څه مراد دې؟

جواب : دَ معصوم نه مراد دې چه څه صغیره یاکبیره گناه دَحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه په قصدًا یا په هیرِه نه ده واقع شوې ټول انبیاء علیهم السلام معصومان دی.

سوال: دَحضورپاک ﷺ معراج جمالی په ویخه.وو اوکه په اوده (خوب) کښې وو؟۔

جواب: دَحضورپاک ﷺ معراج جسمانی په ویخه وه په جسمانی طورسره ئې معراج ته تشریف اوړې ووااودَدې جسمانی معراج نه علاوه څوپیرې په خوب کښې هم حضورپاک ﷺ کړې دې. چه هغې ته دَخوب معراجونه وائی چونکه دَحضورپاک ﷺ خوب اودَټولوپیغمبرانودَ خوبونه رښتونی دی په دې کښې دَغلطئ اوشک احتمال نشی کیدې.پس دَحضورپاک ﷺ معراج جسمانی اوڅلور یا پنځه دَ خوب معراجونه ئې په اوده وو.

سوال: دَشفاعت نه څه مراد دې؟

جواب: شفاعت سفارش ته وئیلې شی دَقیامت په ورځ به حضورپاک ﷺ دَګناه ګاروبندګانودَالله تعالی په مخکښې سفارش کوی.حضورپاک ﷺ ته دافضیلت ورکړې شوې دې لیکن بیابه هم دَالله پاک دَجلال او جبروت دَ ادب ساتلودپاره دَشفاعت اجازت غواړی چه اجازت ورکړې شی نوشفاعت به کوی.دَحضورپاک ﷺ نه علاوه نور انبیاء اولیاء شهداء وغیره به هم شفاعت کوی خوبغیراجازت څوک هم شفاعت نشی کولئ.

سوال: دَکوموګناهونودپاره به شفاعت کیږی؟

جواب: دَکفراوشرک نه علاوه.باقی دَټولوګناهونودَمعافئ دپاره شفاعت کیدې شی .دَکبیره ګناهونوخاوندان به زیات دَشفاعت محتاجه وی ځکه چه صغیره ګناهونه خوپه عبادت سره هسې هم په دنیاکښې معاف کیږی.

دَ ایمان او دَ نیک عمل بیان

سوال: ایمان څه ته وائی؟

جواب: ایمان دې ته وائی چه په الله پاک اودَهغه په ټولو صفتونو، فرښتو، آسمانی کتابونو، او پیغمبرانو په زړه سره تصدیق اوکړې. او کومې خبرې چه حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَطرف نه راوړی دی دا ټولې رښتیااوګنړی اوپه ژبه سره دهغې خبرو اقرار اوکړې.

دا تصدیق او اقرار دَ ایمان حقیقت دې.لیکن اقرار دَڅه ضرورت یامجبورې په وخت کښې ساقط کیدې شی لکه د چاړا ایمان چه بغیردَاقرار نه هم معتبردې.

سوال: عمل صالح څه ته وائی؟

جواب: عمل صالح معنی ده نیک کار کوم عبادتونه اونیک کارونه چه الله پاک اودَهغه پیغمبرانومخلوق ته خودلی دی هغې ټولوته اعمال صالحه وائی.

سوال: عبادتونه اونیک کارونه هم دَایمان په حقیقت کښې داخل دی؟

جواب: ها،په ایمان کامل کښې اعمال صالحه داخل دی.په اعمال صالحه سره په ایمان کښې رنړا او کمال پیداکیږی اوچه اعمال صالحه نه وی نوایمان ناقص وی.

سوال: دَعبادت څه معنی ده؟

جواب: عبادت بندګئ کولوته وائی زمونږ دَټولوحقیقی معبود هغه یوخدائې پاک دې چاچه مونږ ته دُخپل عبادت حکم کړې دې په دې وجه زمونږ په ذمه عبادت فرض دې.

سوال: الله پاک پخپل مخلوق کښې چاچاته دَعبادت حکم کړې دې؟

جواب: پیریانواوانسانانوته ئې دَعبادت حکم کړې دې.دې دواړو ته مکلف وائی.ملائکې او دَدنیاباقی جاندارِدَعبادت مکلف نه دی.

سوال: جن(پیریان) کوم یودی؟

جواب: پیریان هم دَالله پاک یولوئې مخلوق دې چه دَ اور نه پیداشوی دی.دَجناتوجسم داسې باریک وی چه مونږته په نظر نه راځی لیکن چه کله دَیوځناوریاانسان په شکل شی نوبیاپه نظرراځی.دَخپل شکل بدلولو الله پاک دوی ته طاقت ورکړې دې.په دوی کښې سړی هم دی اوښځې هم اولادئې هم کیږی.

سوال: دَعبادت کولوڅه طریقه ده؟

جواب: دَعبادت ډیرې طریقې دی:(۱) مونځ کول (۲) روژه نیول (۳) زکوٰة ورکول(٤) حج کول(٥) قربانی کول(٦) اعتکاف کول (۷) خلقو ته دَ نیکو خبرو لار خودل (۸) دَبدونه ئې منع کول (۹) دَ مور او پلار اُستاذانو او مشرانوعزت کول اوادب کول (۱۰) جمات جوړول (۱۱) مدرسه جاری کول (۱۲) علم دین(زده کول او خلقوته ئې خودل (۱۳) دَ علم دین دَ طالبانو امداد کول (۱٤) دَ الله پاک

په لاره کښې دَالله دَدښمنانوسره جنګیدل(۱۵) دَغریبانانو حاجتونه پوره کول (۱٦) اوګی مړول (۱۷) تړوته اوبه ورکول (۱۸) او دَ دې نه علاوه ټول داسې کارونه چه دَالله پاک دَمرضئ مطابق وی اودَالله پاک دَ حکم مطابق وی عبادت کښې داخل دی اودې کارونوته اعمال صالحه وائی.

دَ معصیت او ګناهونو بیان

سوال: دَمعصیت څه معنی ده؟

جواب: دَ معصیت معنی ده نافرمانی کول حکم نه منل په کومو کارونو کښې چه دَالله پاک دَحکم نافرمانی کیږی هغې ته معصیت او ګناه وائی.ګناه کول ډیره ناکاره خبره ده. دَ الله پاک غضب او ناراضګی او عذاب دَګناه په وجه سره کیږی په ګناهونوکښې دَټولونه لوئې ګناه کفر او شرک دې.کافراومشرک به همیشه په دوزخ کښې وی. دَ کافر او مشرک شفاعت به هم څوک نه کوی په قرآن شریف کښې الله پاک فرمائیلې دی چه زه به مشرک چرته اونه بخم.

دَ کفراوشرک بیان

سوال: کفراوشرک څه ته وائی؟

جواب: په کوموخیزونوچه ایمان راوړل ضروری دی په دې کښې دَیوې نه انکارکول کفردې مثلاً څوک چه الله پاک نه منی یادَالله پاک دَصفاتونه انکارکوی یادوه درې خدایان منی یا دَ فرښتونه انکارکوی.یادَالله پاک په کتابونوکښې دَیوکتاب نه انکار کوی یا دَ یو پیغمبرنه انکارکوی یادَتقدیرنه منکروی یا

دَ قیامت ورځ نه منی یادَاللّٰه پاک په احکاموکښې دَیوحکم نه انکار کوی یادَحضورپاک صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دَورکړو خبرونه یو خبر دروغژن اوګنړی نوپه دې ټولوصورتونو کښې کافر کیږی.

اوشرک دې ته وائی چه دَاللّٰه پاک سره په ذات یاپه صفاتوکښې څوک شریک جوړ کړئ شي.

سوال: دَاللّٰه پاک په ذات کښې دَ شریکولو څه معنی ده؟

جواب : په ذات کښې دَشریک جوړولومعنی داده چه دوه درې خدایان منی لکه عیسایان چه درې خدایانومنلوپه وجه مشرکان شوی دی اوآتش پرست چه دَدؤو خدایانومنلوپه وجه مشرکان شوی دی. اولکه هندوان چه دَډیروخدایانودَمنلوپه وجه مشرکان شوی دی.

سوال: په صفات کښې دَشرک کولوڅه معنی ده؟

جواب :دَاللّٰه پاک دَصفتونوپشان یوصفت بل ته ثابتول شرک دې.ځکه چه په یومخلوق کښې خواه که هغه فرښته یانبی ولې نه وی یاشهیدیاپیریاامام ولې نه وی دَاللّٰه پاک دَصفتونوپشان یوصفت پکښې نشی کیدې.

سوال:دَشرک فی الصفات څوقسمونه دی؟

جواب: ډیرقسمونه دی.دلته مونږ یوڅوذکرکؤو.

(۱) **شرک فی القدرت** : یعنی دَ اللّٰه تعالی پشان دَقدرت صفت بل چادپاره ثابتول،مثلاً داسې ګنړل چه فلانې پیغمبریاولی یا

شهید باران کولئ شی،مرګ ژوندۍ دَهغه په قبضه کښې دې یاپه څه نفع نقصان رسولو قدرت لری.داټول شرک دې.

(۲):**شرک فی العلم** : دَالله تعالی پشان بل چاته دَعلم صفت ثابتول مثلاً داسې وئیل چه فلانی پیغمبریاولی وغیره په علمِ غیب پوهیدل یا دَ ذرې ذرې علم دې ورته، یا زمونږ دَ ټولو حالاتونه خبردې.یادَلرې نزدې څیزونوخبرورته شته.داټول شرک فی العلم دې.

(۳):**شرک فی السمع والبصر** : یعنی دَالله پاک په صفت سمع یا بصرکښې څوک شریکول مثلاً داعقیده ساتل چه فلانې پیغمبر یاولی زمونږ ټولې خبرې دَلرې نزدې نه وینی اوری یا زمونږ ټول کارونه وینی داټول شرک دې.

(٤):**شرک فی الحکم** : یعنی دَالله پاک پشان بل څوک حاکم منل اودَهغه حکم دَالله پاک دَحکم پشان منل.مثلاً پیرصاحب حکم کړې دې چه داوظیفه دَمازیګردَمونځ نه مخکښې وائې. اوداحکم دَالله پاک دَحکم پشان منل او دومره ئې ضروری ګڼړل چه که دَمازیګرمونځ مکروه وخت ته واوړی خیردې خوچه وظیفه دَمونځ نه مخکښې اوشی داهم کفردې اوشرک دې.

(۵):**شرک فی العبادت** : یعنی دَالله پاک پشان بل څوک دَ عبادت لائق ګڼړل مثلاً یوقبریاپیرته سجده کول.یارکوع یعني سر ښکته کول. یا دَ یو پیغمبریاولی په نوم روژه نیول.یادَچاندرمنل یا دَ چا دَ کور یا دَ قبردَخانه کعبه پشان طواف کول وغیره داهم شرک دې.

سوال: د دې خبرونه سوا نورې هم دَشرک خبرې شته یانه؟

جواب: آؤ ډیرې داسې خبرې شته چه دَشرک لګاؤ پکښې شته. د دې ټولونه ځان ساتل لازمی دی هغه دا دی:

دَ نجومیانونه دَغیبو دَخبروتپوس کول. پنډتانوته لاس خودل. فالونه کتل، دَننکویادَبلې بیمارې دپاره ټوټکې کول. اوداګنړل چه دَ یوبیماری بل ته لړی. جنډې خیژول په قبرونوځه ایخودل نذر ونیاز ئې اداکول. دَالله پاک دَنوم نه علاوه دَبل چاپه نوم قسم خوړل. تصویرونه جوړول دَتصویرونوتعظیم کول. یوولی یاپیرپه حاجت روامشکل کشاسره بلل. دَچاپیریاولی په نوم سرکښې ویښته پرېښودل. یاپه محرم کښې دَامامانوپه نوم فقیرجوړیدل په قبرونومیلې لړول وغیره۔

دَ بدعت بیان

سوال: دَکفر او شرک نه پس کومه ګناه لویه ده؟

جواب: دَکفر اوشرک نه پس بدعت لوئې ګناه ده: "بدعت هغې کارته وائی ځکه دهغې اصل دَشریعت نه ثابت نه وی یعنې په قرآن مجیداواحادیثوکښې ئې ثبوت نه وی اودَحضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او دَ صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اوتابیعینواودَتبع تابعینو په زمانه کښې دَ هغې وجودنه وی. اوهغه دَ دین کارګنړی کوی یائې پرېږدی. بدعت ډیرناکاره څیزدې حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بدعت ته مردود فرمائیلې دې اوڅوک چه بدعت جوړوی اوهغه په دین کښې

ګنړی نوهغه ته ئې دَدین نړونکے فرمائیلي دي.اوفرمائیلی دی چه هریوبدعت ګمراهی ده او هره ګمراهی دوزخ ته رسونکې ده.

سوال: دَبدعت څه کارونه بیان کړئ؟

جواب : خلقوپه زرګونوبدعتونه جوړکړی دی چه یو څو یکښې دادې قبرپوخ جوړول،په قبرونوکښې ګنبدونه جوړول، په دهوم دهام سره عرسونه کول.په قبرونوچراغان بل کول، سادرونه پرې اچول،غلافونه پرې اچول ،دَمړی په کور کښې دَخوراک دپاره جمع کیدل.په ودونوکښې سهرې جوړول،بدهی اغوستل اوعرض داچه په هریوجائزیامستحب کارکښې داسې شرطونه لږول چه په شریعت کښې ئې ثبوت نه وی بدعت دې.

دَ باقی ګناهونو بیان

سوال: دَکفر،شرک اوبدعت نه علاوه نورې کومې خبرې دَګناهونو دی؟

جواب : دَ کفر،شرک اوبدعت نه علاوه نورهم ډیرګناهونه دی، لکه دروغ وئیل،مونځ نه کول،روژه نه نیول، زکوٰة نه ورکول، سره دَ مالدارئ اوباوجود دمال اوطاقت حج نه کول،شراب څکل، غلا کول، زنا کول،غیبت کول، په دوږغه ګواهی کول،څوک په ناحق وژل،چغلی کول،دهوکې کول، دَ مور او پلار او استاذانونافرمانی کول،یخپلوکمرو او کورونوکښې تصویرونه لږول. په امانت کښې خیانت کول ،خلق سپک اوذلیله ګنړل،جواری کول،ګنځل کول، ګداګانو ته کتل،سودکول،رِیره خرول، فضول خرچی کول،

لوبو تماشو ناټکونو سنیماګانو ته کیناستل. او دَدې نه سوانورې هم ډیرې دَ ګناه خبرې دی چه په لویوکتابونوکښې به درته مخې ته راشی.

سوال: ګناه کونکې سړې مسلمان پاتې کیدې شی اوکه نه؟

جواب: څوک چه داسې ګناه کوی چه کفریاشرک پکښې موندې شی هغه مسلمان نه شی پاتې کیدې بلکه کافراومشرک کیږی.اوڅوک چه بدعت کوی نوهغه مسلمان خووی لیکن دَهغه اسلام ناقص اوکمزورې شی اوداسې سړی ته مبتدع او بدعتی وائی اوڅوک چه نورکبیره ګناهونه کوی هغه هم مسلمان وی لیکن ناقص مسلمان ده ته فاسق وائی.

سوال: که دَچانه ګناه اوشی نودَعذاب نه دبچ کیدوڅه صورت دې؟

جواب: په توبه سره الله پاک معاف کوی.توبه دې ته وائی چه پخپل ګناه خپیمانه اوشرمنده شی اوالله پاک ته په جړا اوعاجزئ سره توبه اوکړې چه اې الله زماګناه معاف کړې اوپه زړه کښې پخه وعده اوقصداوکړئ چه چرته به بیاګناه نه کوم.یادساته چه صرف په ژبه سره توبه کول اصلی توبه نه ده.

سوال: په توبه هرقسم ګناه معاف کیدې شی؟

جواب: کومه ګناه چه داسې وی چه دَچابنده سره ئې تعلق نه وی صرف دَالله تعالی حق وی نوداسې ګناهونه توبه سره معاف کیږی. تردې چه دَشرک اوکفرګناه هم په توبه سره معاف کیږی.لیکن کومه ګناه چه تعلق ئې دَچابنده سره وی مثلاً دَچامال ئې خوړلئ وی

يائې په چاتهمت لګولئ وی يائې په چاظلم کړئ وی . داسې ګناهونوته حقوق العبادوائی داصرف په توبه سره نه معاف کيږی ،ددې معاف کيدوداطريقه ده چه اول پردې حق اداشی اومعافی ترې اوغوختې شی اوبيادَالله پاک په حصورکښې توبه اوکړی نوپس دَهغې دَمعافئ اُميدکيدئ شی.

سوال: توبه کوم وخت قبليږی.

جواب: کله چه دَسړی دَمرګ نښې ښکاره شی اودَعذاب فرښتې ورته مخامخ شی نوبياتوبه نشی قبليدې.اودَدې حالت نه مخکښې مخکښې هروخت توبه قبليدې شی.

سوال: که ګناه ګار بغيردَتوبې نه مړشی نوجنت ته به ځی يانه؟

جواب: آؤ،دَمشرک اوکافرنه علاوه نورټول ګناه ګاران به دَخپلوګناهونودَسزاموندونه پس جنت ته ځی،اوداهم ممکنه ده چه دَکفراوشرک نه باقی نورګناهونه دَچاپه شفاعت سره يابغيردَشفاعت نه معاف کيږی.

سوال: مړی ته دَدنيا خپلوان دوستان وغيره هم څه فائده رسولئ شی اوکه نه؟

جواب: رَسِی مړی ته دَمالی يابدنی عبادت فائده رسی مثلاً ژوندی خلق که څه نيک کاراوکړی قرآن شريف اووائی درود شريف اووائی دَالله پاک په لارکښې څه صدقه خيرات اوکړی څوک اوکې موړکړی نوددې کارونوثواب الله پاک دوی ته

رسوی خوکه دوی ددې کارونوثواب خپلومړوته اوبخی نوداثواب هم الله پاک دَدوی هغه مړوته رسوی.

دَداسې ثواب رسولو دپاره دَخپل طرف نه څه خاص شې یا یوخاص وخت مقررکول نه دی پکار.بلکه هرڅیز چه هروخت په لاس ورشی دَالله پاک په نزد دې چامستحق ته ورکړی اودَهغې ثواب دې ورته اوبخی،دَرسم پابندی یا دَ نوم او شهرت دپاره لوئې لوئې دعوتونه کول یادَطاقت نه زیات دَرسم پوره کولو او شهرت حاصلولو دپاره زیات قرض اخستل سخته ګناه ده.

دویمه شعبه

تعلیم الارکان (اسلامی عملونه)

بِسمِ اللهِ الرَحمنِ الرَحِیم

دَ قرات دَ څو حکمونو بیان

سوال : که دَسحرماښام اوماسختن مونځ یوازې کوی نوپه جهر(په زوره) قرات لوستل واجب دی یانه؟

جواب: واجب نه دی البته په زوره وئیل غوره دی.

سوال: که دامونځونه قضاکوی نوڅه حکم دې؟

جواب : په قضاء کښې امام ته په جهروئیل پکاردی اویوازې مونځ کونکی ته اختیاردې که په زوره وائی اوکه په رو.

سوال: په فرض مونځونوکښې څومره قرات سُنت دې؟

جواب: په سفرکښې ورته اختیار دې چه دِسورة فاتحه نه پس کوم سورة وائی خیردې لیکن یه کورکښې دَقرات دپاره خاص مقدار مسنون دې.

سوال: په حالت دَاقامت کښې مسنون قرات څه دې؟

جواب: دَاقامت په حالت کښې په مونځ سحراوماسپخین کښې طوال مفصل وئیل اوپه مازیګراو ماسخُتن کښې اوساط مفصل وئیل اوپه ماښام کښې قصارمفصل وئیل سنُت دی.

سوال: دَ طِوال مُفَصَّل او وساط مفصل او قِصار مفصل نه څه مراددې؟

جواب: دَقرآن پاک دَشپږووشتې سپارې دَسورة حجرات ترسورة بروج پورې سورتونوته طوال مفصل وائی.اودَسورة طارق نه دَسورة لم یکن پورې سورتونوته اوساط مفصل وائی اودَسورة زلزال نه تروالناس پورې سورتونوته قصار مفصل وائی.

سوال: دا مسنونه قرأت دَ امام دپاره دې یا دَ منفرددپاره؟

جواب: دَامام منفرد دواړو دپاره داسنُت قرأت دې.

سوال: که دَامامت په حالت کښې دَڅه ضرورت په وجه سنت قرات پاتې کیږی نوڅه حکم دې؟

جواب: جائز دی.

سوال: په یو مونځ کښې څه خاص سورة داسې هم مقررډې چه دَهغې نه سواپکښې بل سورة جائز نه وی؟

جواب : دَیومونځ دپاره څه خاص سورة مقررنشته شریعت دَآسانئ دپاره دَهرځائې نه لوستل جائزکړی دی.نودَځانه ئې مقررکول دَشریعت نه خلاف دی.

سوال: دَسحرپه سنتوکښې مسنون قرات څه دی؟

جواب : حضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اکثردَسحرپه سنتوکښې په اول رکعت کښې قُلْ یَآاَیُّهَاالکٰفِرون اوپه دویم کښې قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد وئیلو.

سوال: په وترو‌کښې مسنون قرات څه دې؟

جواب : په اول رکعت کښې سَبِّحِ اسْمَ رَبِّکَ الْاَعْلٰی په دویم کښې قُل یااَیُّهَاالکٰفِرُونَ اوپه دریم کښې قُل هُوَاللّٰهُ اَحَد وئیل دَحضورپاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ثابت دی.

په جمعِ سره دمونځ او امامت بیان

سوال: دَامامت نه څه مراددې؟

جواب : دَامامت معنی ده سردارکیدل.په مونځ کښې چه کوم سړې دَټول جماعت سرداری اوټول مقتدیان دَهغه تابعداری کوی.هغه ته امام وائی.

سوال: دَجماعت څه معنی ده؟

جواب: جماعت په جمع سره مونځ کولو ته وائی چه یوپیکښې امام وی او نورمقتدیان.

سوال: جماعت فرض دې یا واجب یا سُنت ؟

جواب: جماعت سنت مؤکده دې ددې ډیرتاکیدشوې دې بعضې علماء ورته فرض بعضې ورته واجب هم وائی اوپه دې کښې شک نشته چه دَجماعت ډیرې فائدې دی.

سوال: په جماعت سره دَمونځ کولوڅه فائدې دی؟

جواب: (۱)په یو مونځ باندې دَ اوویشتو مونځونو ثواب ملاویږی، (۲) پنځه وخته دَمسلمانانودَیوبل سره ملاویدل، (۳) اوپه دې ئې دَیوبل سره اتفاق اومحبت پیداکیدل،(٤) دَنوروپه لیدو دَ عبادت دَشوق اومینې پیداکیدل،(٥) په مونځ کښې زړه لګیدل، (٦) په جماعت سره دَ نیکانواوبزرګانوپه وجه دَګناه ګارو دَمونځ قبلیدل،(۷) دَپوهه خلقونه دَناپوهوپه مسئلوکښې تپوسونه کول. (۸) دَحاجتمندواوغریبانانو حال معلومیدل،(۹) دَمونځ دَشان ښکاره کیدل.اوددې نه سوا نورې هم ډیرې فائدې دی.

سوال: کوموخلقوته دَ جماعت ته دَ نَهٔ حاضریدو اجازت دې؟

جواب: ښځو،نابالغه بچو،بیمار،دَبیمارخدمت کونکو، شلو ګډو ډیرو بوډاګانو،ړندو،دې تولوته دَنه حاضریدو اجازت دې.

سوال: روغ جوړپه کوم عذرسره دَجماعت نه پاتې کیدې شی؟

جواب: چه سختې باران وی،ډیرې ختې وی،سخته یخنی وی، دَ شپې سخته سیلئ وی،یادَسفرپه وخت دَګاډی وغیره روانیدو ویره وی، تشو یا ډکو بولو ته ئې سخت حاجت راغلې وی، خوراک حاضروی او دې ډیر اوګې وی.په دې عذرونو سره جماعت ترک کولئ شې.

سوال: په کوموموڼځونوکښې جماعت سنت مؤکَّده یا واجب دې؟

جواب: په ټولوموڼځونوکښې جماعت سُنت مؤکده دې.په تراویح کښې سنت کفایه او دَرمضان په وتروکښې مستحب دې.

سوال: دَ کم نه کم څومره سړی جماعت کولئ شی؟

جواب: دوه هم کافی دی چه یومقتدی وی اوبل امام خوچه دوه وی نومقتدی به دَامام ښی طرف ته اودریږی اوچه مقتدیان دوه شی نوامام به بیامخکښې شی اوبه دریږی.

سوال: په جماعت سره خلقوته څنګه اودریدل پکاردی؟

جواب: دَیوبل سره پیوست اوصفونه نیغ چه خالی ځائې پکښې نه وی ماشومان به شاته اودروې په لویوکښې دَ ورو اودریدل مکروه دی،دَښځو صف دَ ورو نه پس پکار دې.

سوال: چه امام مونځ فاسد شی نودَمقتدی مونځ صحیح دې یانه؟

جواب: چه امام مونځ فاسد شی نودَمقتدیانوهم فاسد شو ټول به بیا په جمع مونځ راګرځوی.

سوال: دَ امامت مستحق څوک دې؟

جواب: اول عالم چه په مسئلوپوهه او عمل ئې هم ښه وی. بیا چه قرآن ښه لوستې شی،بیازیات پرهیزګار،بیاچه عمرئې زیات وی،بیاچه څوئې ئې ښه وی او ذاتی شرافت لری،بیاچه ښکلې او صاحب وقاروی،بیاچه څوک نسبی شرافت لری.

سوال: چه دَجمات امام مقرر وی او دَمونځ په وخت کښې دَهغه نه غوره څوک راشی نودَامامت حق دَچادې؟

جواب: مقرر امام دَدغه اجنبی نه زیات مستحق دې.

سوال: په کوموخلقوپسې مونځ کول مکروه دی؟

جواب : په بدعتی فاسق،جاهل،غلام،جاهل باندړچی،احتیاط نه کونکی ړانده،اوولدالزنایعنی حرامی پسې مونځ کول مکروه دې، لیکن که غلام اوباندړچی عالم وی او ړوند احتیاط کونکۍ وی او بل څوک ددوې نه غوره نه وی نوبیاورپسې مونځ جائز دې بې کراهته.

سوال: په کوموخلقو پسې مونځ بالکل ناجائزدې؟

جواب: په دیوانهٔ،نشې والا، کافر،مشرک پسې بالکل جائز نه دې اوپه نابالغوپسې دَ بالغو اوپه ښځه پسې دَ سړو مونځ صحیح نه دې.اودَروغو په معذورپسې نه کیږی اودَچاچه ستړپوره پټ نه وی په بربندپسې،اودَرکوع سجده کونکی په اشاره کونکی پسې اودَفرض کونکی په نفل کونکی پسې نه کیږی اوچه یو ماسپخین فرض کوی اوددې دَ مازیگرپه فرض کونکی پسې نیت تړی داهم نه صحیح کیږی.

سوال: په نابالغ هلک پسې تراویح جائز دی اوکه نه؟

جواب: تراویح هم په نابالغ پسې جائز دی البته چه هلک دَ پنځلسوکالوشی بیاکه پکښې دَ بلوغت نښې هم ښکاره شوی نه وی تراویح او فرض مونځ وړپسې بیاجائز دې.

دَ مونځ مفاسدات
(یعنی مونځ ماتونکی څیزونه)

سوال: دَ مونځ مفاسد څه دی؟

جواب: دَمونځ مفاسد هغې څیزونوته وائی چه مونځ پرې فاسدشی اوبیائې راګرزول ضروری شی.

سوال: دَ مونځ مفاسد کوم کوم دی؟

جواب: (۱) په مونځ کښې خبرې کول که لږې وی یاډیرې قصداً یا بې احتیاره، (۲) سلام کول یعنی چاته په مونځ کښې السلام علیکم یابل داسې لفظ وئیل، (۳) دَسلام جواب ورکول، (٤) پرنجی کونکی ته یرحمک الله یا دَچاپه دعاآمین وئیل، (۵) په څه بدخبرانَاللهِ وَانااِلَیهِ راجِعُون یاپه ښه خبر اَلحَمدُ لِلّٰهِ یاپه تعجب سُبحَانَ اللّٰهِ وئیل، (٦) دردیا غم په وجه آه (تکلیف محسوسول) کول، (۷) دَخپل امام نه سوابل ته فتح ورکول، (۸) قرآن پاک په ناظره لوستل، (۹) په قرآن لوستوکښې سخته غلطی کول، (۱۰) په مونځ کښې داسې کارکول چه دَلیدونکی پرې دَمونځ کونکی خیال نه راځی، (۱۱) خوراک څکاک قصداً وی که په هیره، (۱۲) دَ دوه صفونوپه مقدارتلل، (۱۳) دَقبلې نه بلا عذره سینه ګرزول، (۱٤) په پلیت ځائې سجده کول، (۱۵) په قدر دَ یو رکن ادا کولودَ وخت هومره وخت ئې څه ځائې بربنډیدل، (۱٦) په دعاکښې داسې څیزغوختل لکه چه دَ خلقونه غوختئ شی مثلاً یاالله نن ماته سل روپئ راکړئ، (۱۷) دَ درد یا غم په وجه داسې جړل چه حروف ترې ادا نشی، (۱۸) دَ بالغ په مونځ کښې په زوره خندل. (۲۰) دَ امام نه وړاندې کیدل.

دَ مونځ مکروهات

سوال: په مونځ کښې مکروه کوم څیزونه دی؟

جواب: کپړې په مونځ کښې زوړندې ساتل یعنی په اوګه ئې سادر یا چوغه یابل څه کپړه هسې اچولې وی اوځانګی، (۲) کپړې ځان ته راغونډول، (۳) دَ کپړو یابدن سره لوبې کول، (٤) په خُله کښې روپۍ یا پیسه یابل داسې شې وی چه قرات ورسره نشی کیدې. (۵) دَسستۍ یابې پرواهۍ نه سرتورمونځ کول،(٦) تش بول یا ډک بول ورغلی وی اومونځ کوی،(۷) دَ سر ویخته په سراوچت تړل، (۸)ګیتۍ لرې کول خو که سجده پرې نشوه کیدې بیا خیر دې،(۹) دَ ګوتونه ټقونه ویستل دَ یو لاس ګوتې په بل لاس ګوتوکښې ورکول، (۱۰) په کوناټو ملاياتشو لاسونه ایخودل،(۱۲) دَقبلې نه مخ ګرځول یا په سترګو یوخوابل خوا کتل، (۱۳) دَسپې پشان کیناستل، (١٤) په سجده کښې دواړه څنګلې په زمکه خورول،(۱۵) دَ چا چه ورته مخ وی هغه ته مونځ کول،(١٦) دَلاس یادَسرپه اشاره دَسلام جواب ورکول، (۱۷) بې عذره پرلتۍ وهل،(۱۸) قصدًا اسویلې کول، (۱۹) سترګې پټول خو دَ زړه دَحضوردپاره وی بیا خیر دې، (۲۰) دَامام په محراب کښې داسې دننه اودریدل چه خپې ئې ترې بهرنه وی، (۲۱) یواځې دَامام په یولاس قدراوچت ځائې اودریدل که څه مقدیان ورسره وی بیاخیردې (۲۲) چه په صف کښې ځائې خالی وی اودې یوازې دَ صف نه شاته اودریږی. (۲۳) دَجاندارتصویر والا کپړې سره مونځ کول،

(۲٤) داسې ځائې مونځ کول چه دَسردپاسه یامخې ته یابنی یاکس طرف ته ئې تصویرونه وی،(۲٥) آیاتونه یاتسبیحات په ګوتوشماری ،(۲٦) سادر یا نورې کپړې داسې دَځان نه تاؤکړی چه لاسونه ترې آزادنشې بهر کیدې،(۲۷) اډوکی تاوهل، (۲۸) دَپټکی په ول سجده کول ،(۲۹) دَ سنت نه خلاف په مونځ کښې څه کارکول.

دَ وتر دَ مونځ بیان

سوال: دَ وترو مونځ سنت دې که واجب ؟

جواب : دَوترومونځ واجب دې ددې دَکولو تاکید دَ فرضو مونځونو برابر دې اوچه پاتې شی قضابه ئې کوی اوبلاعذره پریخودل ئې سخته ګناه ده .

سوال: دَوترو څورکعتونه دی؟

جواب:دَ وترو درې رکعتونه دی چه دوه رکعتونه اوکړی نوقعده به اوکړی بیابه پورته شی اویورکعت به اوکړی اوقعده به اوکړی.

سوال: دَ وترو په مونځ او نورو مونځونوکښې څه فرق دې.

جواب : ددې په دریم رکعت کښې دعائےقُنوت لوستې شی.چه طریقه ئې دا ده چه دریم رکعت کښې الحمداوسورة اووائی نوالله اکبر اووائی غوږونو ته لاس کړی او بیا لاسونه دَ نامه لاندې کیږدی دعائےقنوت اووائې چه دعائےقنوت ختمه کړي نو بیا رکوع او نورمونځ پوره کړئ.

سوال: كه دعائے قنوت يادنه وى څه به كوئ؟
جواب: بله څه دعاء مثلاً رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنيَا حَسَنَةً وَالخ به وائي.
سوال: كه مقتدى دعائے قنوت نه وى ختمه كړې اوامام ركوع ته لاړشى؟
جواب: دې به هم ركوع ته ځى دعائےقنوت به پريږدى.

دسُنت او نفل مونځونو بيان

سوال: څومره مونځونه سنت مؤكده دى؟
جواب: دوه ركعته دَ سحر دَ فرضو نه اول اوڅلورركعته په يوسلام سره دَماسپخين اوجمعې دَفرضونه اول دوه ركعتونه دَ ماسپخين د مانځه نه پس او څلور ركعته په يو سلام سره دَجمعې د فرضو نه پس دوه ركعته دَ ماښام دَ فرضونه پس او دوه ركعته دَماسخُتن دَفرضونه نه پس سُنتِ مؤكَّده دى او په رمضان شريف كښې د تراويحو مونځ شل ركعته سنت مؤكده دى.
سوال: څومره مونځونه سنت غيرمؤكده دى؟
جواب: دَ مازيګر دَ فرضو نه اول څلور ركعته اودَماسخُتن دَسُنتونه دوه ركعته پس دوه ركعته او دَ ماښام دَسُنت مؤكده نه پس شپږ ركعته او دَ جمعې دَ فرضونه او دَ سنتومؤكده نه روستو دوه ركعته او تحية الوضوء دوه ركته او د تحية المسجد دوه ركعته او د چاښت د مونځ څلور يا اته ركعته د وترو نه پس دوه ركعته د تهجدو د مونځ څلور يا شپږ يا اته ركعته صلوة تسبيح ، دَ استخارې، دَ توبې ،دَ حاجت مونځ وغيره دا ټول مونځونه سنتِ غير مؤكده دى.

سوال: سنت په جمات کښې غوره دی که په کورکښې؟

جواب: ټول سُنت اونفل مونځونه په کورکښې کوی ښه خبره ده مګردَتراویح مونځ تحیته المسجداوچه نمرتندراونیسی داپه جمات کښې کول ښه خبره ده.

سوال: نفل مونځ کوم وخت کول مکروه دی؟

جواب: دَصباختونه پس دَفرض مونځ نه اول دَسحردَسنتونه سوا نور نفل کول اوبیادَفرضونه پس دَنمرختوپورې نفل کول. او دَ مازیګردَفرضونه پس نفل مونځ مکروه دې لیکن په دې درې وختونوکښې دَفرض مونځ قضااودَجنازې مونځ دَتلاوت سجده بغیرکراهته جائز دی اودَنمرختودَنمرپریوتواوټیک چه دَغرمې نمرپه ځائې اودریږی په دې درې وختونوکښې مونځ مکروه دې. لیکن که ددغې ورځې دَمازیګرمونځ وی اودَنمرپریوتوپه عین وخت کښې هغه هم جائز دې.دغه شان په خطبه کښې هم نفل اوسُنت مونځ کول مکروه دی.

دَ تراویح دَ مونځ بیان

سوال: دَ تراویح مونځ سُنت دې که نفل؟

جواب: دَ تراویح مونځ دَ سړواوښځودواړو دپاره سُنت مؤکد دې.اوپه جماعت سره ئې کول سنت کفایه دی.یعنې که دَ محلې په جمات کښې دَ تراویح امامت کیده اویوسړی په کورکښې اوکړې نوګناه ګارنه دې لیکن که امامت نه کیده نوټول ګناه ګار شو.

سوال: دَ تراویح دَمونځ وخت کوم یودې؟
جواب: دَ ماسختن دَمونځ نه پس دَسحره پورې دې دَ وترو نه پس هم اول کیدې شی.یعنی که دَچانه دَ تراویح څه رکعتونه پاتې وی اوامام وتراوکړی نودې دې دَامام سره وتراوکړی او خپلې پاتې تروایح دې دَوترو نه پس پوره کړی؟
سوال: تراویح څورکعته دی شمیراوطریقه ئې بیان کړئ؟
جواب: شل رکعتونه دی په لسوسلامونوسره ئې دَ دوه دوه رکعتونو نیت به تړې اوپه هرڅلوررکعته پس به لږ شان کینې.
سوال: په څلوررکعتونوچه کینی نوڅه به وائې اوکه چپ به یئ؟
جواب: دَهغه خوښه ده که څه وائی او که چپ کینی یعنی که پټ پټ قرآن یاتسبیح یانفل کوی اوکه خاموش کینی.
سوال: په تراویح کښې قرآن پاک ختمول څنګه دی؟
جواب: په ټوله روژه کښې یوځل قرآن پاک په تراویح کښې ختمول سنت دی اودوه ځله غوره اودرې ځله زیات غوره دی خوکه مقتدیان تنګیدل نوبیایوځل ډیر دې؟
سوال: تراویح په ناسته کول څنګه دی؟
جواب: چه دَ اودریدو طاقت دې وی بیامکروه دی؟
سوال: بعضې خلق په رکعت کښې اول نه شریکیږی چه امام رکوع ته ځی دغه وخت شریکیږی داڅنګه دی؟
جواب: دامکروه دی دَاول نه شریکیدل پکاردی.
سوال: چه فرض په امامتئ څوک اونکړی ځانله ئې اوکړی نوپه تراویح کښې شریکیدئ شی؟
جواب: آؤ شریکیدئ شی.

دَ قضاء مونځونو بيان

سوال: اداء او قضاء څه ته وائی؟

جواب: اداء هغې ته وائی چه يوعبادت پخپل مقرر وخت کښې اوشی او قضا هغې ته وائی چه دَخپل مقرر وخت تيريدو نه پس ئې بيا روستو اوکړی.مثلاً دَ ماسپخين فرض مونځ چه دَ ماسپخين په وخت کښې اوشی نو ادا شو او چه دغه وخت تير شی بياقضا دې.

سوال: قضا دَکومومونځونوواجبيږی؟

جواب: دَ ټولو فرض مونځونو قضاء فرض، او دَ واجبو واجب، او دَ بعضو سنتو سنت ده.

سوال: فرض يا واجب پخپل وخت نه کول او قضا کول څنګه دی؟

جواب: قصدًا او بلاعذره فرض يا واجب يآسنت مؤکده پخپل وخت نه ادا کول ګناه ده دَفرضو واجبوګناه ډيره ده اودَسنتو ورپسې ده. ها که بغيرقصده قضا شی په څه شرعی عذرنوبياګناه نه ده.

سوال: فرض ياواجب مونځ چه پاتې شی څه وخت به ئې کوې؟

جواب: فوراً چه څه و خت هغه عذرختم شی مثلاً او ده پاتې شوې وو نوچه بيدارشی يائې هيرشوی وو نوچه يادشی،ليکن که هغه وخت مکروه وو بيابه صبرکوی.

سوال: دَ قضا مونځ نيت به څنګه کوې؟

جواب: داسې نيت به کوې چه زه دَفلانئ ورځې دَ سحر يا ماسپخين فرض قضا مونځ کوم.صرف قضا مونځ ويل کافی نه دی.

سوال : دَ یوسړی په ذمه ډیرقضامونځونه دی او ورځې ورته یادې نه دی اونه ورته میاشتې یادې دی نوځنګه نیت به کوی؟

جواب : په داسې صورت کښې به داسې نیت کوی چه مثلاً دَسحرقضاکوی نووائی به چه زمانه کوم مونځونه قضا شوی په هغې کښې دَاولنی سحریادَورستنی سحرقضامونځ کوم وغیره وغیره.

سوال: قضا مونځ په جمات کښې غوره دې که په کورکښې؟

جواب:چه قضا مونځ یوازې کوئ نوپه کورکښې غوره دې اوکه په جمات کښې ئې کوې نوخیردې خوچاته دې داذکرنه کوی چه قضا مونځ کوم.

سوال:هغه کوم سنت دی چه قضا کول ئې سنت دی؟

جواب : دَسحردَمونځ سره چه کوم سنت دی داچه دَفرضوسره قضاشی نوکه په دغه ورځ دغه فرض دَ زوال نه مخکښې کوی داسنت به ورسره هم کوی اوکه دَزوال نه پس ئې کوې بیابه ورسره نه کوی.اوکه یوازې سنت پاتې شونودَدوی قضا بیانشته.

سوال :دَماسپخین خلورسنت که دَ فرضونه اول اونه شونوڅه حکم دې؟

جواب : دَفرضونه پس ئې کول پکاردی که دَدوه سنتونه پس ئې کوی اوکه اول خودَدوه سنتونه پس ئې کول غوره دی.

دَ مُدرک، مسبوق، لاحِق بیان

سوال: مُدرِک چاته وَائی؟

جواب: څوک چه دَامام سره دَاول نه ترآخره مونځ بیاموهی دې مُدرِک دې.

سوال: مسبوق چاته وائی؟

جواب: مسبوق هغه دې چه یویادوه رکعتونه ترې شوی وی.

سوال: لاحق چاته وائی؟

جواب: لاحق هغه دې چه دَامام سره دَشریک کیدونه پس یویاډیررکعتونه لاړشی،مثلاً یوسړې دَامام سره شریک شو خوچه په قعده کیناستو اوده شو تردې پورې چه امام ترې یویادوه رکعتونه نوراوکړی اودې په قعده کښې اوده وو.

سوال: مسبوق به خپل پاتې مونځ څنګه پوره کوی؟

جواب :دَ امام سره به دَآخره پورې شریک شی نوچه امام سلام اوګرځوی دې به بغیردَسلام ګرځولونه پاځی اوخپل پاتې مونځ به په دې طریقه پوره کړی.مثلاًیورکعت ترې پاتې وی نوپاپاځی اودَسُبحانَ نه اعوذبالله اوبسم الله نه به شروع شی اودغه پاتې رکعت به اوکړی په قعده به کینی التحیات تشهددرود اودعابه اووائی اوسلام به اوګرځوی.اوکه دوه رکعتونه پاتې وی نوهم به دې چه پاځی په اول رکعت کښې سبحان اعوذبالله بسم الله الحمدو او سورة اوپه دویم کښې بسم الله الحمدو او سورة به وائی.اوکه درې رکعتونه ترې شوی وی نوچه پاځی په اول رکعت کښې به سبحان اعوذبالله بسم الله الحمداوسورة اووائی اودَرکوع سجدې نه پس به په دې رکعت دې قعده

اوکړی ځکه چه دده اوس دوه رکعته پوره شوبیابه دَتشهدنه پس پاڅی په اول کښې به الحمده اوسورة اوپه بل کښې صرف الحمدو به اووائی عرض دادې چه که دَامام سره ئې یورکعت موندلئ وی نوچه دې پاڅی اویورکعت اوکړی نوتعده به کوی که دَهروخت مونځ وی اوبیابه ورپسې پاتې دوه رکعتونه وی اوکه دَماښام یورکعت وی هغه به پوره کوی اوقعده به پرې کوی اوسلام به ګرځوی.

سوال: که مسبوق دَامام دَسلام ګرځولوسره پاڅیدو او امام سجده سهوې ته لاړ نودې به څه کوی؟

جواب: واپس به راځی په سجده سهوه کښې به شریک کیږی دَامام سره .

سوال: که مسبوق په هیره دَامام سره سلام اوګرځولو؟

جواب: چه خبرې ئې نه وی کړی خیردې پورته دې شی اوخپل پاتې مونح دې پوره کړی.

سوال: لاحق به خپل پاتې مونځ څنګه پوره کوی؟

جواب: دَلاحق کوم رکعت چه دَعذرپه وجه پاتې شوې وی مثلاً اوده شوې وو نوکوم وخت چه بیدارشی نواول به خپل پاتې رکعت دَ امام متابعت به پریږدی اوداسې به یې پوره کوی لکه دَامام سره چه دې مونځ کوی قرات به نه کوی اوچه هغه پوره شی نوبیابه دَامام سره شریک شی باقی مونځ به ورسره پوره کړی.په دې وخت کښې که دې سهوه شو نو سجده سهوه پرې نشته ځکه چه دې مقتدی دې.اوپه مقتدی سهوه نه وی.

دَ سجده سهوِ بیان

سوال: سجده سهوه څه ته وائی؟

جواب: دَ سهوې معنی ده هیریدل.په هیره سره کله په مونځ کښې زیاتې راځی اوکله نقصان بعضې داسې نقصان وی چه دَهغې دَ دفع دپاره دَمونځ په آخری قعده کښې دوه سجدې کوی دې ته سجده سهوه وائی.

سوال: دَ سجده سهوه کولو څه طریقه ده؟

جواب: په آخری قعده کښې یوطرف ته سلام اوګرځوی دَتشهدنه پس اوبیاتکبیراوکړی سجدې ته لاړشی دوه سجدې اوکړی بیا کینی التحیات تشهد درود او دعا اووائی او سلام اوګرځوی.

سوال: که دَسجده سهوه دَسلام نه مخکښې درود او دعا هم اووائی نو څه حکم دے؟

جواب: بعضې علماؤ احتیاطاً داغوره کړې ده چه دَسجده سهودَسلام نه پس دې درود اودعاهم وائی اواول دې ترې هم تهول وائی لکین په نه لوستوکښې هم څه نقصان نشته.

سوال: سجده سهوه صرف په فرض مونځونوکښې ده که په ټولوکښې ؟

جواب: په ټولومونځونوکښې یوشان حکم دې؟

سوال: که یوطرف ته ئې سلام هم اونه ګرځولو اوسجده سهوه ئې اوکړه نوځه حکم دې؟

جواب: داسې کول مکروه تنزیهی دی.

سوال: که دواړه طرف ته دَسلام نه پس ئې سجده سهوه اوکړه نوڅنګه ده؟

جواب:دَ یو روایت موافق جائز ده لیکن قوی خبره داده چه که دواړه طرف ته ئې سلام اوګرځولو نومونځ به دوباره کوی.

سوال: سجده سهوه په کوموځیزونوواجبیږی.

جواب: دَ واجبوپه پاتې کیدو سره (۲) په واجبوکښې په تاخیر (۳) دَ فرضوپه تاخیر(٤) دَیوفرضوپه مخکښې کولو(٥) دَیوفرض په مکرر کولو(٦) دَیوواجب په طریقه بدلولوسره.

سوال : دَکوموخبروچه په هیره پاتې کیدوسره سجده سهوه واجبیږی په قصدًا پریخودو ئې څه حکم دې؟

جواب:مونځ به بیا دوباره کوی.

سوال: که په یومونځ کښې ډیرې داسې خبرې اوشوې چه په هره سجده سهوه واجبیده نوڅه به کوی؟

جواب: صرف یو ځل سجده سهوه (دوه سجدې) ورته کافی دی.

سوال: په قرات کښې په څنګه تغیرسره سجده سهوه واجبیږی؟

جواب : (۱) دَفرض مونځ په اول یا دویم رکعت کښې یاپه دې دواړو کښې یادَنورواجب یاسنت یا نفل مونځونوپه یورکعت کښې دَالحمدپه پاتې کیدو سره(۲) یاپه دې ټولوکښې چه فاتحه مکرر کړی(۳) دَالحمدونه سورة دَهریومونځ په یورکعت کښې چه سورة پاتې شی.په ټولوسره سجده سهوه واجبیږی.

سوال: كه په هيره ترې دارکانوتعديل اونشى؟

جواب: نوسجده سهوه پرې واجب شوه.

سوال: كه اوله قعده ئې هيره شوه؟

جواب: په آخركښې به سجده سهوه كوى (خوكيناستوته نزدې وو كينى دې او سهوه پرې نشته اوكه پاسيدوته نزدې وو نوبيابه نه كينى پاڅى به)

سوال: نورپه كوموخبروسجده سهوه واجبيږى؟

جواب: (۱) په ركوع مكرركولو(۲) په درې سجدوكولو(۳) په اوله ياورستئ قعده كښې ئې تشهدهيرشى(٤) په اوله قعده كښې دَتشهدنه پس درود اَللّٰهُمَّ صلى على محمدپورې اولوستوياودومره ساعت چپ كيناستو(٥) په جهرى مونځ كښې امام په پټه قرات اوكه يائې پټ مونځ كښې جهراوكړو نوسجده سهوه واجب شوه خوپه دې شرط چه داتولې خبرې په هيره اوكړى.

سوال: امام سره په يو مونځ كښې شريک مقتدى نه چه څه سهوه اوشى نو څه حكم دے؟

جواب: په مقتدى دَخپلې سهوې نه سهوه نه واجبيږى.

سوال::مسبوق چه پخپل پاتې مونځ كښې سهوه شى نوڅه به كوى؟

جواب: مسبوق نه چه سهوه اوشى نو دَخپل مونځ په آخركښې به سجده سهوه كوى.

دَ سجده تلاوت بیان

سوال: سجده تلاوت څه ته وائی؟

جواب: دَتلاوت معنی وئیل دی په قرآن شریف کښې یو څو داسې ځایونه دی چه دَهغې په لوستویاپه اوریدو سجده واجبیږی دې ته دَتلاوت سجده وائی.

سوال: هغه څو ځایونه دی چه په لوستو یاآوریدو ئې سجده واجبیږی؟

جواب: په ټول قرآن شریف کښې څوارلس ځایونه دی یعنی څوارلس سجدې.

سوال: که دَمونځ نه بهرسجده اوکړې نوڅه وخت به ئې کوې؟

جواب: ښه خبره دا ده چه څه وخت سجده اووائی هم هغه وخت ئې کول پکاردی لیکن که هغه وخت ئې اونکړې نوبیاهم ګناه نشته البته په زیات تاخیرکښې ئې کراهت دې.

او دَ مونځ نه بهر دَ سجدې کولوطریقه داده چه په ولاړې به تکبیر اووائې سجدې ته به لاړشی اوسجده به اوکړۍ دَتکبیروئیلوسره به بیاپورته شی.اوکه ناستې نه ئې سجده اوکړه هم اوشوه.

سوال: دَتلاوت دَسجدې دپاره څه شرطونه دی؟

جواب: کوم شرطونه چه دَمونځ دی هغه ددې هم دی.

سوال: سجده دَتلاوت په کومو څیزونوسره فاسدیږی؟

جواب: په کوموچه مونځ فاسدیږی په هغې داهم فاسدیږی.

سوال: که دَسجدې آیات ئې دوه یازیات ځله اووئیل نوڅه حکم دې؟

جواب: که دَسجدې یوخاص آیات ئې په یومجلس کښې هر څومره ځله اووئیلونوسجده پې یوه واجبه ده.اوکه واوری هم.

سوال: که په یومجلس کښې دَسجدې دوه آیاتونه اووائی یا یو آیات په دوه مجلسونوکښې اووائی نوڅه حکم دې؟

جواب: په یومجلس کښې چه دَسجدې څومره آیاتونه اووائی یایوآیات په څومره مجلسونوکښې اووائی دومره سجدې پرې واجب دی.

سوال: که څوک دَتلاوت په وخت کښې وړاندې روستو وائی او دَ سجدې،آیات پریږدی نوڅه حکم دې؟

جواب:داسې کول مکروه دی.

سوال: که تلاوت کونکے داسې ځائې تلاوت کوی چه هلته نورخلق وی او دې دَسجدې آیات پټ اووائی چه نورئې واونه ری نوداڅنګه ده؟

جواب:جائز دی بلکه غوره دی چه پټ ئې اووائی.

دَ بیماردَ مونځ بیان

سوال:بیمار ته په کوم حالت کښې په ناسته مونځ جائز دې؟

جواب :چه دَ اودریدو طاقت ئې نه وی،یائې مرض سواکیږی یائې په سردَچکرراتلوخطره وی یادَاودریدو طاقت ئې وی خو رکوع سجده نشی کولې نوپه ناسته ورته مونځ جائز دې. بیاکه په ناستې رکوع سجده کولې شی نو کوی به اوکه نشی کولې نواشاره به کوی دَ رکوع سجده اوسجدې دپاره دَرکوع دپاره به لږ ښکته کیږی او دَ سجدې دپاره زیات .

سوال : که یوسړې لږ ساعت اودریدې شی خوپوره قیام نه کولې نوڅه به کوی؟

جواب: څومره چه اودریدې شی دومره به اودریږی.

سوال: که مریض په ناستې هم مونځ نشی کولئ نوڅه به کوی؟
جواب : په ملاستې دې داسې مونځ کوی چه په شادې برابر څملی او خپې دې قبلې ته راولی لیکن خوره وی به ئې نه زنګونان دې اودروی اوډسرنه دې څه لاندې کړی چه لږ اوچت شی اوډرکوع سجدې دپاره دې په سراشاره کوی مونځ دې کوی.اوداسې هم جائزدی چه سرجنوب ته کړی په ګسه ډډه څملی اویاسرشمال ته کړی په ښئ ډډه څملی په دې دواړو طریقوکښې دَښئ ډډې څملاستل غوره دی.
سوال: که بیماریه سرسره هم اشاره نشی کولئ نوبیابه څه کوی؟
جواب :که دَاشارې طاقت ئې نه وو نوبیابه مونځ پاتې کړی نوکه دَپنځه مونځونونه داپاتې شوی مونځونه زیات شو قضاپرې نشته اوکه پنځه یادَپنځونه کم وو چه کله ئې دَاشارې طاقت اوشوکوې به ئې.

دَ مسافردَ مونځ بیان

سوال: په څومره لرې سفرسره سړې مسافر ګرځی؟
جواب :په شریعت کښې مسافرهغه ته وائی چه دومره لرې دَسفراراده اوکړی چه په درې ورځوکښې ورته رسیږی.ددرې ورځوسفرنه دامطلب دې چه روزانه دَسحرنه دَ زواله پورې مزل کوی دَتهولې ورځې مزل ترې مراد نه دې اودَورځې نه دَتهولونه وړه ورځ او دَ رفتاردرمیانه رفتارمراددې.

سوال: درمیانی رفتار څه ته وائی اودرې ورځې مزل څومیله دې؟

جواب: دَدرمیانی رفتارنه دَپیاده سړی تلل مراددی اوټیک خبره داده چه درې منزله مسافت ترې مراددې .لیکن دَاسانئ دپاره اته څلویښت میله مزل ئې ترې جوړکړې دې.

سوال: که یوسړې دغه هومره لرې ځی خوپه ریل یاموټروغیره کښې ځی نوڅه حکم دې؟

جواب: دې مسافردې خواه هرڅومره زرچه اورسیږی.

سوال: دَمسافرپه مونځ کښې څه فرق دې؟

جواب: مسافربه دَماسپخین مازیګراوماسُختن څلوررکعتونه فرض دوه رکعتونه کوی نورټول مونځونه به په خپل حال کوی.

سوال: څلوررکعته مونځ چه دوه رکعته کوی دې ته څه وائی؟

جواب: دې ته قصروائی.

سوال: مسافربه دَکوم وخت نه قصر شروع کوی؟

جواب: کله چه دې دَخپل کلی دَآبادئ نه بهرشی قصربه شروع کوی.

سوال: مسافربه ترڅوپورې قصرکوی؟

جواب: ترڅوچه په سفرکښې وی اوپه یوځائې کښې ئې دَپنځلسو یا زیاتو ورځوپاتې کیدو نیت نه وی کړې.اویاخپل کلی ته نه وی واپس شوې.نوقصربه کوی.اوچه کوم ځائې پنځلسوورځودَپاتې کیدونیت اوکړی دَنیت کولو سره به پوره مونځ کوی.

سوال: كه يوځائي ئې دَدوه درې ورځونيت اوكړو خوكارئې پوره نه شو نور دوه درې ورې ورځې پاتې شو اودغه شان په پاتې كيدو پاتې كيدوئې پنځلس يازياتې ورځې تيرې شوې نوڅه حكم دې؟

جواب: ترڅوچه ئې په جمع دَپنځلسو ورځوپاتې كيدو نيت نه وى كړې كه هرڅومره وخت تيره شى خوقصربه كوى.

سوال: كه مسافرڅلوررکعته پوره اوكړى نوڅه حكم دې؟

جواب: كه په دويم ركعت ئې قعده كړې وه نوپه آخركښې به سجده سهوه اوكړى مونځ به ئې اوشى.ليكن قصدًا په داسې كولوګناه ګاردې اوكه په هيره اوشى نوبياګناه نشته.اوكه په دويم ركعت ئې قعده نه وه كړې نوفرض ئې اونشو بيا به كوى.

سوال: كه مسافرچا مقيم امام پسې مونځ كوى نوڅه به كوى؟

جواب: په داسې صورت كښ په مسافر هم پوره څلور ركعته كول فرض دى.

سوال: مسافر امام پسې مقيم مقتدى به څنګه مونځ كوى؟

جواب:مسافرامام چه خپل دوه ركعته پوره كړى سلام به اوګرځوى اوقوم ته به وائى چه زه مسافريم تاسوخپل مونځونه پوره كړئ نودوى به پورته شى او دوه ركعتونه به داسې اوكړى چه قرات به پكښې نه كوى اوكه څوک پكښې سهوه شونوسهوه به هم نه كوى.

سوال: په روان گاړی یاجهازکښې مونځ جائز دې؟

جواب : په روان ریل یاجهازکښې مونځ جائزدې که په ولاړې کولئ اوکه په ناسته اوکه دَمونځ په مینځ کښې ریل یاجهاز دَقبلې نه بل طرف ته اوګرزیدونودې به هم په مونځ کښې قبلې ته راګرځی.

دَ جمعې دَ مونځ بیان

سوال: دَ جمعې مونځ فرض دې یاواجب یاسنت ؟

جواب: دَ جمعې مونځ فرض دې بلکه دَماسپخین دَمونځ نه ددې تاکیدزیات دې.دَجمعې په ورځ دَماسپخین مونځ نشته دَجمعې مونځ دَهغه قائم قام دې.

سوال: دَجمعې مونځ په هرمسلمان فرض دې؟

جواب: په آزاد، بالغ، پوهه، روغ، مقیم سړی دَ جمعې مونځ فرض دې، په نابالغو،غلامانو،لیونو،ناجوړو،ړندو شلو ګډو او مسافرو او ښځوباندې جمعې فرض نه ده.

سوال : که دغه کسان چه جمعه پرې فرض نه ده اوجمعې ته حاضرشی نوددوی مونځ کیدئ شی؟

جواب: کیدې شی اودَماسپخین مونځ به ترې ساقط شی.

سوال: دَجمعې دَصحیح کیدوځه شرطونه دی؟

جواب: دَجمعې دَ صیحح کیدو ډیرشرطونه دی.

(۱) : اول ښاریادَښارپشان لوئې کلې .داسې ښارچه دَخواؤشا ضرورتونه هلته پوره کیدې شی.په ورکوتی کلی کښې جمعه مونځ صحیح نه ده.

(۲) دویم شرط دَماسپخین وخت کیدل دی.
(۳):دریم شرط دَمونځ نه مخکښې خطبه وئیل دی.
(٤):څلورم شرط جمات دې.
(٥): پنځم شرط اذنِ عام دې. چه داپنځه شرطونه پوره شی بیا دَ جمعه مونځ صحیح کیږی؟

سوال : دَخطبې لوستوسُنت طریقه څه ده؟

جواب: دَ مونځ نه مخکښې به امام په ممبرکښې اومخامخ به ورته مؤذن اذان اووائی چه اذان اوشی امام به خلقوته مخامخ شی اوبه دریږی اوخطبه به وائی چه اوله خطبه اووائی نولږساعت به کینی بیابه پاسی دویمه خطبه به اووائی چه دویمه خطبه ختمه شی امام به په محراب کښې اودریږی اقامت به اوشی او نیتونه به دَجمعه دَمونځ اوکړی اودوه رکعته مونځ به ادا کړی.

سوال: دَخطبې اذان کوم ځائې وئیل پکاردی؟

جواب :دَخطیب په مخکښې وئیل پکاردی.که دَممبرپه خواکښې وی یادوه درې صفونه شاته یادَتهولوصفونونه شاته دَجمات دننه وی اوکه بهروی هرڅنګه جائز دې.

سوال:خطبه په پښتوژبه کښې یاپکښې دَپښتواشعارڅنګه دی؟

جواب :دَعربی ژبې نه سوایه بله هره ژبه کښې خطبه وئیل مکروه دی لیکن فرض خطبه اداشوه خوپه ثواب کښې نقصان راځی.

سوال:دَخطبې په وخت کښې کوم کارناجائزدې؟

جواب : (۱) خبرې کول (۲) سنت یانفل کول(۳) خوراک څکاک کول(٤) دَخبرې جواب ورکول(٥) قرآن پاک وغیره

وئیل،عرض کوم کارچه دَخطبې په اوریدوکښې نقصان اچوی هغه ټول مکروه دی.

سوال:دَجمعې دَمونځ دپاره دَجماعت شرط کیدونه څه مراددې؟

جواب : دَجمعې په مونځ کښې دَامام نه سوا کم نه کم درې تنه حاضریدل ضروری دی که دَدریو نه کم وی بیاجمعه نه صحیح کیږی.

سوال:دَ اِذنِ عام نه څه مراددې؟

جواب :دَ اِذنِ عام نه مراد اجازت دې.چه عاموخلقوته اجازت وی هرڅوک چه غواړی راتلئ شی اوپه مونځ کښې شریک کیدئ شی په داسې ځائې کښې جمعه نه کیږی چه هلته خاص خلق راتلئ شی اوعاموخلقوته دَراتلو اجازت نه وی.

سوال: دَجمعې دَمونځ څورکعتونه فرض دی؟

جواب: دوه رکعتونه دی که اول نه دَ امام سره شریک شی اوکه په آخری قعده کښې خو دوه به پوره کوی.

دَ اخترونو دَ مونځ بیان

سوال: دَاخترپه ورځ څه څه کارونه سنت یامستحب وی؟

جواب : (۱) .غسل اومسواک کول(۲) په خپلوجاموکښې دَټولونه غوره جامې اغوستل(۳) خوشبو لږول(٤) په وړوکی اخترکښې دَ مونځ نه اول کهجورې یابل خوګ شې خوړل(٦) په لوئې اخترکښې دَ مونځ نه پس اول دَخپلې قربانئ غوښه خوړل(۷) دَاخترمونځ په عیدګاه کښې کول(۸) پیاده ورته تلل(۹) په یوه لارې تلل اوپه بله

راتل (۱۰) دَاخترِدَمونځ اول په کورکښې یاپه عیدګاه نفل نه کول او په عیدګاه کښې دَمونځ نه پس نفل نه کول.

سوال: دَ وړوکی اختر په ورځ عیدګاه ته په تلو کښې تکبیر څنګه دې؟

جواب: په وړوکی اخترکښې پټ پټ تکبیروائی نوخیردې خوپه لوئې اخترکښې عیدګاه ته په تلوکښې په زوره وئیل مستحب دی.

سوال: دَاخترمونځ واجب دې که سنت؟

جواب: دَ دواړو اخترونو مونځونه واجب دی.اوپه کومو خلقوچه جمعه فرض ده په هغوی دَاخترمونځ واجب دې.اوکوم شرطونه چه دَجمعې دَمونځ دی هغه دَاخترِدَمونځ هم دی. مګر دَاخترِدَمونځ خطبه دَمونځ نه پس ده اوسُنت ده.

سوال: دَاخترِدَمونځ څورکعتونه دی اوڅنګه کولے شی؟

جواب: دَ دواړو اخترونومونځ دوه رکعته دې اودَدواړو دپاره اذان او اقامت نشته.اول به نیت داسې اوکړې چه دَ وړوکی یا لوئې اخترواجب مونځ سره دَشپږوزیاتی تکبیرونوپه امام پسې کوم بیابه الله اکبراووئی لاسونه به دَنامه لاندې کیږدی سُبحَان به اووائی بیابه دواړه لاسونه غوږونوته اوچت کړې تکبیربه اووائی لاسونه به ښکته زوړندکړئ بیابه ئې غوږونوته اوچت کړې تکبیربه اووائی اولاسونه به بیاښکته پریږدې بیابه په دریم وار لاسونه غوږونوته اوچت کړې تکبیربه اوکړې اوبیابه لاسونه دَنامه لاندې اوتړی بیابه امام اَعُوذبااَلله بسم الله الحمداوسورة اووائی رکوع اودوه سجدې به اوکړی دویم رکعت ته به اودریږی نوامام به اول قرات اوکړی ،ودَرکوع تلونه اول به درې ځله غوږونوته لاس اُچت کړی او تکبیربه وسره وائی په

څلورم تکبیربه رکوع ته لاړشي رکوع اودوه سجدې به اوکړی اومونځ به دَقاعدې مطابق ختم کړی بیابه امام اودریږی دوه خطبې به اووائی خلق به خاموش وی اوری به ئې.

سوال: دَلوئې اختر خاص احکام څه دی؟

جواب: (۱) په لارې په زوره تکبیرونه وئیل او تلل(۲) دَمونځ نه اول څه نه خوړل(۲) دَتکبیراتوواجب کیدل.

سوال: دَتکبیرونوتشریق نه څه مراد دې؟

جواب: په ایامِ تشریق کښې دَفرض مونځونونه پس تکبیرونه وئیلې شی دې ته تکبیرات تشریق وائی.

سوال: ایامِ تشریق کومې کومې دی؟

جواب: ایامِ تشریق دَدرې ورځونوم دې دَذی الحجې یولسم او دولسم او دیارلسم تاریخونوته ایامِ تشریق وائی.

سوال: تکبیرات دَتشریق دَکله نه دَکومې پورې وئیل واجب دی؟

جواب: یومِ عرفه یوم نحراودرې ورځې دَایام تشریق ټولې پنځه ورځې یعنې دَعرفې دَسحرنه دَدیارلسمې دَمازیګرپورې) یومِ عرفه دَ عرفې ورځ اویومِ نحردَقربانئ ورځې ته وائی.په هرفرض مونځ پسې دَسلامِ ګرځولونه فورًا پس په زوره به تکبیرونه وائی.ښځې به رو رو وائی.که دَامام هیرشی نو مقتدیان دی خامخا وائی.

سوال: تکبیرتشریق کوم یودې اوڅوځله وئیلئ شی؟

جواب: تکبیر تشریق دا دې:اَللّٰهُ اَکبَر اَللّٰهُ اَکبَر لآاِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکبَر اَللّٰهُ اَکبَر وَلِلّٰهِ الحَمد. یو ځل وئیل ئې په زوره واجب دی.

دَ جنازې دَ مونځ بيان

سوال: دَ مړی مونځ فرض دې که واجب ؟

جواب : دَ مړی مونځ فرض کفایه دې که یودوه کسان ئې اوکړی نوهم دَټولوغاړه خلاصه شوه اوَکه یودوه ئې هم اونکړی نو ټول گناه گاردی.

سوال: دَجنازې دَمونځ څومره شرطونه دی؟

جواب: (۱) دَمړی مسلمانیدل(۲) دَمړی مخامخ ایخودل(۳) دَکفن پاکوالئ (٤) سترئې پټول.(٥) دَ مړی پاکوالئ.دادَمړی متعلق شرطونه دی اودَمونځ کونکوټولوهغه شرطونه دی کوم چه مخکښې دَمونځ په باره کښې ذکرشوی دی.

سوال: دَجنازې دَمونځ پوره طریقه بیان کړئ؟

جواب: دَ مونځ دپاره به صفونه برابرکړئ که خلق ډیر وو نو درې یاپنځه یا اووه صفونه غوره دی نوبیابه نیت داسې اوکړئ چه خاص خدائې تالره دَجنازې مونځ په دې امام پسې کوم بیابه امام په زوره اومقتدیان رو تکبیراوکړی غوږونوته به لاس یوسی اوبیابه ئې دَنامه لاندې اوتړی اوامام او مقتدی ټول به په پټه ثنا اووائی، په ثنا کښې د تعالی جدک نه پس وجل ثناءک هم اووائی نو غوره ده، اوبیابه امام په زوره او مقتدیان پټ تکبیراووائی لاس به نه اوچتوی اوبیابه دَمونځ درود امام اومقتدیان پټ تکبیر اووائی لاس به نه اچتوی اوبیابه دَمونځ درود امام او مقتدیان په پټه اووائی دریم تکبیربه اوکړی او بیادَمړې بالغ سړې یابالغه ښځه وه نودادعابه اووائی:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الْاِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيْمَانِ۔

ترجمه: "اې الله زمونږ ژوندی اومړی اوبخې زمونږ حاضرغائب واړه اولوئی اوسړی اوښځې اوبخې اې الله چه څوک ژوندی کوې زمونږ نه نوپه اسلام ئې ژوندی ساته اوڅوک چه وفات کوئ زمونږ نه نوپه ایمان ئې وفات کوه."

اوکه مړې نابالغ هلک یا جینئ وه نودادعابه وائی:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَّذُخْرًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا۔

ترجمه: "اې الله دابچې زمونږ دَنجات دپاره مخکښې تلونکې جوړ کړې او زمونږ دپاره ئې اجراوذخیره جوړه کړې اودې زمونږ شفاعت قبول کړې شوې جوړ کړې".

خوکه جینئ وه نوبیابه دَ واجعله په ځائې واجعلها درې ځایونو او دَ شافعًا و مُشفعًا په ځائې شَافِعَةً وَمُشَفَّعَةً وائی. ددې نه پس به تکبیر څلورم اوکړئ او بیابه دواړه طرف ته سلام اوګرځوئ.

سوال: چه دَجنازې مونځ اوشی نوڅه به کوئ؟

جواب: دَجنازې دَمونځ نه فورًا پس به جنازه اوچته کړئ قبرته به ئې وړئ.وړونکی به په زوره کلمې وغیره نه وائی په زړه کښې به دَمړی دَاولنی منزل قبراوحساب کتاب خیال کوئ او دَ مړی دپاره به دَبخښنې سوال کوئ چه قبرستان ته اورسیږئ نو مړې به فورًا دفن کوئ.

په اسلامی فرائضو کښې دَ روژې بیان

سوال: روژه څه ته وائی؟

جواب: دَصبح صادق ختونه ترنمرپریوتوپورې سره دَنیت نه خوړل څکل اونفسانی خواهشونه پریخودلوته روژه وائی.روژې ته صوم اوماتولوته ئې افطار وائی.

سوال: دَ روژې څوقسمونه دی؟

جواب: اته(۸) قسمونه ئې دی(۱) فرض معین(۲) فرض غیر معین (۳) واجب معین(٤) واجب غیرمعین (٥) سنت (٦) نفل (٧) مکروه (۸) حرام.

سوال: فرض معین کومې روژې دی؟

جواب: په ټول کال کښې دَیوې میاشتې رمضان روژې فرض معین دی.

سوال: فرضِ غیرِمُعَیَّن کومې روژې دی؟

جواب: په څه عذر سره یا بِلا عذره چه دَرمضان روژې قضاشی نودغه قضاروژې بیافرض غیرمعین دی؟

سوال: واجب معین کومې روژې دی؟

جواب: نذرمعین، یعنی دَ څه خاص ورځوروژې نذرکول دَ کومو ورځویاتاریخونوروژې چه نذرکړی نوداواجب شی مثلاً څوک اووائی چه که زه په امتحان کښې پاس شوم نودَالله په نزد به دَرجب اول ورځ روژه نیسم داواجب معین دی.

سوال: واجب غیرمعین کوم یودی؟

جواب : واجب غیرمعین هغه دی چه نذر او منی خوورځ پکښې مقررنه کړی مثلاً اووائی چه که زه په امتحان کښې پاس شوم نو دَ الله پاک په نوم به درې روژې نیسم.

سوال: سنت روژې کومې دی؟

جواب : سنت مؤکد یوه روژه هم نشته لیکن دَکومو ورځو روژې چه حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نیولی دی اودَ کوموچه ئې دَ نیولو ترغیب ورکړئ هغې ته سنت وائی لکه دَعاشورې دَنهم اولسم تاریخ دوه روژې.دَعرفې دَ ورځې روژه دَایام بیض یعنی دَهرې میاشتې دیارلسمه څورلسمه پنځلسمه روژه.

سوال:مستحب روژې کومې دی؟

جواب: دَفرض واجب سنت روژو نه علاوه نورې ټولې روژې مستحب روژې دی لیکن بعضی داسی دی چه ثواب پکښې زیات دې لکه دَ وړوکی اخترشپږ روژې دَشب قدر دَپنځلسم تاریخ روژې .دَجمعې دَپیردَزیارت روژې.

سوال: مکروه روژې کومې دی؟

جواب: یوازې دَ خالی ورځې روژه، یوازې دَ عاشورې یوه روژه، دَ نوروز دَ ورځې روژه، دَ ښځې دَخاوند دَ اجازت نه بغیرنفلی روژه، دا روژې مکروه دی.

سوال: کومې روژې حرامې دی؟

جواب : په ټول کال کښې پنځه روژې حرامې دی دَ وړوکی اختراوله ورځ دَلوئې اختراوله ورځ اودَایام تشریق درې روژې (یولسم دولسم اودیارلسم دَذی الحجې ته ایام تشریق وائی) داپنځه روژې په ټول کال کښې حرامې دی.

دَ رمضان مبارک دَ روژې بیان

سوال:دَ رمضان شریف دَ روژو څه فضیلت دې؟

جواب : دَ رمضان شریف دَ روژو ډیرلوئې ثواب دې.په حدیث شریف کښې ئې ډیرفضیلت راغلې دې.حضورپاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائیلی دی چه څوک خاص دَاللّٰه دَرضا دپاره دَرمضان روژې اونیسی نودَهغه ټول وړاندې ګناهونه به معاف شی په بل حدیث شریف کښې دی چه دَروژه دار دَخولې بڼاس اللّٰه پاک ته دَمشکونه زیات محبوب دې په دریم حدیث کښې دی چه اللّٰه پاک فرمائی روژه خاص زمادپاره ده او زه به دادې جزا ورکوم.دغه شان ډیرفضیلتونه ئې په احادیثوکښی راغلی دی.

سوال:دَ رمضان روژې په کوموخلقوفرض دی؟

جواب: په هرمسلمان عاقل بالغ ښځه سړی باندې فرض دی دَدې دَفرضیت نه انکار کونکې کافر دې بلا عذره پرېخودونکې ئې سخت ګناه ګار او فاسق دې .اګرچه په نابالغ باندې مونځ روژه فرض نه ده لیکن دَ عادت کیدو دپاره ورته بلوغ نه اول دَ مونځ او روژې

حکم دی.په حدیث شریف کښې دی چه کله ماشوم دَ اووه(۷) کالو شی نودَمونځ حکم ورته کوئ اوچه دَلسو کالو شی نودَمونځ دپاره ئې وهل هم پکار دی.دغه شان چه دَ روژې نیولوطاقت ئې اوشی نوچه څومره روژې نیوې شی دومره دې نیسی.

سوال: هغه کوم عذر دې چه بیاروژه نشی نیوې؟

جواب: په سفرکښې دَ روژې نه نیولو اجازت دې لیکن که روژه ئې نیوې شوه نوغوره ده(۲) په مرض کښې چه دَ روژې طاقت ئې نه وی یائې مرض زیاتیږی(۳) چه ډیربوډاشی داسې حامله ښځه چه په روژه ئې حمل ته نقصان رسیږی (٤) پیئ ورکونکې ښځې چه بچې ئې اوږې کیږی اونقصان ورته رسیږی (٥) په روژه کښې دومره اوګې یاتکې شی چه مری (٦) دَحیض او نفاس په حالت کښې هم روژه نشې نیوئ.

دَ میاشت لیدلو او ګواهئ بیان

سوال: دَ رمضان شریف دَمیاشتې لیدو څه حکم دې؟

جواب: دَ شب قدر دَمیاشتې په یوکم دیرشم تاریخ دَمیاشتې کتل واجب دی او دَ زبرګې میاشتې په یوکم دیرشم دَشب قدر دَمیاشتې کتل مستحب دی.ددې دپاره چه دَشب قدر دَمیاشتې حساب برابرشی.که دَشب قدرپه یوکم دیرشم تاریخ میاشت اولیدې شوه نوسحرته به روژه نیسی اوکه میاشت ښکاره نه شوه وریځ وغیره وه نوسحرته دَلس یولس بجوپورې به څه خوری څکی نه که دَدغې

وخته پورې دَچرته نه معتبرخبرراغې نو روژه نیت به کړی اوکه رانغې نواوس دې خوری څکی،لیکن په دغه ورځ دَ روژې داسې نیت کول چه که روژه شوه نو روژه ورته نفل به شی دامکروه دی.

سوال: دَ روژې دَمیاشتې دپاره معتبرشهادت کوم یودې؟

جواب: که مطلع صفانه وی وریځ یاګردغباروی نودَرمضان دَمیاشتې دپاره دَیودیندارپرهیزګارسړی ګواهی معتبره ده که سړې وی اوکه ښځه آزادوی اوکه غلام دغه شان که دَ یوسړی فسق ښکاره نه وی په ظاهره دینداره اوپرهیزګاره معلومیږی دَهغه ګواهی هم معتبره ده.

سوال: دَاخترِدَمیاشتې دپاره معتبرشهادت څه دې؟

جواب: چه مطلع صفانه وی نو دَدوارو اولوئې اخترِدَمیاشتې دپاره دوه پرهیزګاره او رښتونی سړی یا یوسړې اودوه ښځې چه ګواهی اوکړی دامعتبره ده.

سوال: که مطلع صفا وی نوبیادَڅومره سړوګواهی معتبر ده؟

جواب: چه مطلع صفا وی نودَرمضان دَمیاشتې دپاره اودَدوارو اخترونودپاره دَ دومره سړو ګواهی معتبرده چه دَ دومره ډیروخلقودَدروغو وئیلو اودَبناوټی خبرې جوړولو زړه تصدیق نه کوی او دَدوی داخبره یقینی ښکاری.

سوال: که دَلرې ښارنه دَمیاشتې خبرراشی نومعتبره ده یا نه؟

جواب: که دَ هرڅومره لرې نه خبرراشی معتبر دې مثلاً برما والو میاشت نه ده لیدلې او دَ بمبئ یو سړی دَدوی په مخکښې شهادت

اوکړو نوپه دوی به دَیوې روژې قضا لازم شی خوشرط دادې چه خبرپه معتبره ذریعه وی دَتارخبرپه شریعت کښې معتبرنه دې.

سوال: که یوسړی دَرمضان میاشت اولیده اودَده دا ګواهی قبوله نه شوه اوبل چامیاشت اونه لیده او روژه نه شوه نودې به روژه نیسی اوکه نه؟

جواب: په ده روژه نیول واجب دی اوکه په دې حساب سره دیرش روژې دَده پوره شوې اوبیاهم میاشت اونه لیدې شوه نودې به یودیرشمه روژه هم دَخلقوسره نیسي یواځې به ځانله نه اخترکوی.

د روژې دَ نیت بیان

سوال: آیا دَ روژې دپاره نیت ضروری دې؟

جواب: آؤ،دَروژې دپاره نیت شرط دې.که اتفاقی طوردَصبح صادق نه ترنمرپریوتوپورې دَخوراک څکاک اونورو نفسانی خواهشاتونه بچ پاتې شوخونیت ئې نه وی کړې نوروژه ئې نه ده شوې.

سوال: نیت څنګه کول پکاردی؟

جواب: دَ رمضان شریف اونذرمعین اوسنت اونفل روژو نیت دَ صبح صادق نه یادَنیمې ورځې تیریدونه مخکښې مخکښې کول پکار دې دَورځې نه مراد شرعی ورځ ده کومه چه دَصبح صادق نه ترنمر پریوتو پورې ده.مثلاً څلوربجې سحرکیږی اوشپږ بجې نمرپریوځی نوشروع ورځ خوارلس ګهنټې شوه او نیمه ورځ به یولس بجې پوره شوه نودَیولس بجونه اول اول نیت کول ضروری دې.

او دَ رمضان دَقضااودَ کفارې اودَنذرغيرمعين نيت دَصبح صادق نه اول اول کول ضروری دې.

سوال: نيت څنګه کول پکار دې؟

جواب : دَرمضان شريف اونذرمعين اوسنت اونفل روژه په نيت کښې خاص ددغه روژو نيت کول ياصرف دا اووائی چه روژه نيسم يادَنفل روژې نيت اوکړی بهرحال په رمضان کښې دَ رمضان روژې اودَنذرمعين په ورځ دَ نذرنيت اوپه باقی ورځوکښې دَسنت يانفل روژه .اوپه نذرغيرمعين اوکفارې اودَرمضان په قضاکښې خاص دَهغه روژونيت کول ضروری دې.

سوال: نيت په ژبه سره کول ضروری دې يانه؟

جواب : نيت قصد او ارادې ته وائی په زړه سره اراده کول کافی دی که په ژبه اووائی نو ښه خبره ده کينې هيڅ خبره نه ده.

دَ روژې دَ مستحباتو بيان

سوال: دَ روژې مستحبات څه دی.

جواب :پيشمنې کول(۲) دَشپې نه نيت کول(۳) پيشمنې په آخری وخت کښې کول خوچه صبح صادق پرې اونه راخيژی (٤) روژه په اول وخت کښې ماتول چه دَنمرپريوتويقين اوشی (٥) دَغيبت چغلی کنځلو او خرابوخبرو نه ځان ساتل(٦) په چوارو کهجورو يا اوبو روژه ماتول.

سوال: پیشمنې څه ته وائی او وخت ئې کوم یو دې؟

جواب: پیشمنې دَشپې په آخرکښې دَ صبح صادق نه اول څه خوړلوته وائی.دَشپې آخری حصه دَصبح صدق ختونه اول دَدې وخت دې پیشمنې کول سنت دی او ډیرثواب دې پکښې څه نه څه خوړل پکار دی.

سوال: په روژه کښې کومې کومې خبرې مکروه دی؟

جواب: په خُلهٔ کښې څه جویل(۲) څه څکل لیکن ښځې ته چه خاوندئې بدمزاجه وی دَژبې په سرڅه څکل مثلاً سالن وغیره څکل جائزدی(۳) استنجاء ته ډیر ارت کیناستل او پوزې یا خولې ته په اوبو اچولو کښې مبالغه کول(٤) په خوله کښې ډیرې لاړې جمع کول اوبیائې تیرول(٥) غیبت کول دروغ وئیل کنځل کول (٦) بې قراری او ویره ظاهرول (۷) چه دَشپې ئې غسل ته حاجت راغلې وی اوقصدًا ئې سحرته پاتې کوی(۹) په کوئله یامنجن غاخونه مږل.

سوال: په کوموخیزونوروژه نه مکروه کیږی؟

جواب: په رانجوپورې کولو(۲) په بدن یاسرتیل پورې کول(۳) دَځان یخولودپاره په غسل کولو(٤) مسواک کولواګرچه دَ تازه زیلې یاشین خانښ نه وی(٥) خوشبو لږول یا بویول (٦) په هیره په څه خوړولو څکلو(۷) بلاقصد دَځآنه په قی کیدو (۸) یخپلولاړو تیرولو(۹) لوګې یاماشې دَخلق نه تیریدل په دې تولوسره نه روژه ماتیږی نه مکروه کیږی.

دَ روژې دَ مفسداتو بیان
(یعنی روژه ماتونکی څیزونه)

سوال: دَ مفسداتونه څه مراددې؟

جواب: مفسدات هغې ته وائی چه روژه پرې ماتیږی او مفسدات په دوه قسمه دی یوهغه چه صرف قضاپرې لازمیږی بل هغه چه قضا او کفاره دواړه پرې واجبیږی.

سوال: چه صرف قضا پرې لازمیږی هغه کوم مفاسد دی؟

جواب: (۱) چاپه زور دَ روژه دار په خوله کښې څه شې واچوو او هغه ئې تیرشو(۲) روژه ئې یاده وه اوبې اختیاره ئې دَخولې وینځلو په وخت کښې اوبه تیرې شوې(۳) قی ئې مړې ته راغې او قصداً ئې تیرکړو (۵) قصدًائې په ډکه خوله قې اوکړې (۵) کیتیئ یاخاوره یادَکاغذټکړه ئې قصدًا تیره کړه دَغابسونونه ئې څه شې راویستو اوتیرئې کړو خودَچنې دَ دانې برابریاترې زیات وو(٦) په غوږ کښې ئې تیل واچول (۷) دَغابسونونه وتلې وینه ئې تیره کړه چه په لاړو غالبه وه (۹) په هیره ئې څه اوخوړل اوڅکل اوپوه شو چه روژه می ماته شوه بیائې قصدًا نور اوخوړل(۱۰) دده خیال وو چه صبح صادق نه دې ختلې خوړل څکل ئې اوکړل بیامعلومه شوه چه سحر شوې وو(۱۱) دَرمضان نه سوا بله روژه ئې قصدًا ماته کړه (۱۳) دَوریځې یاګردغبارپه وجه ئې یقین شو چه نمر پریوتې دې روژه ئې ماته کړه او ورځ لاپاتې وه په دې ټولو صورتونوکښې صرف قضا لازم ده.

سوال: په کوموصورتونوکښې قضا اوکفاره دواړه لازميږي؟

جواب:درمضان په میاشت کښې ئې روژه نیولې وه(۱) اوقصدًا ئې څه اوخوړل اوڅکل یاداسې شې چه دَغذایاخونددپاره خوړې شي اوخوړ(۲) قصدً ائې کوروالے اوکړو(۳) رګ ئې اوواهو یائې رانجه اولږول او دائې اوګڼړل چه روژه می ماته شوه اوقصداً ئې څه اوخوړل اوڅکل نوپه دې صورتونوسره قضا او کفاره لازم شوه.

سوال : دَ رمضان په میاشت کښې که دَ چاروژه ماته شی نو بیاورته خوړل څکل جائز دی اوکه نه؟

جواب :خوراک څکاک ورته کول جائزنه دی بلکه ده دپاره لازم دی چه دَمابنام پورې به څه خوراک څکاک نه کوی. دغه شان که مسافردَورځې کورته راغې یا نابالغ بالغ شو یا دَحیض اونفاس نه ښځه پاکه شوه یالیونې روغ شو نو دوی ته هم واجب دی چه دَمابنام پورې به څه خوراک څکاک نه کوی.

سوال: دَ رمضان نه سوا دَ نورو روژو په ماتولو کفاره لازمیږی اوکنه؟

جواب : کفاره صرف دَرمضان په میاشت کښې په فرض روژه ماتولو سره لازمیږی دَبلې روژې په ماتولو نه لازمیږی خواه دَرمضان قضاروژې وې یادَکفارې.

دَ روژې دَ قضا کولو بیان

سوال: دَ روژې دَ قضا واجبیدو څو صورتونه دی؟

جواب: (۱) بلا عذره ئې دَفرض یا واجب معین روژې اونه نیولې (۲) په څه عذرسره ئې څه روژې پاتې شوې (۳) په څه عذرئې روژه ماته شوه یائې ماته کړه نوقضائې فرض ده.

سوال: قضاکله نیول پکاردی؟

جواب: کله چه وخت ملاؤشی نوځومره زر چه کیدې شی نیسی دې.بې عذره ترې روستئ کول ناکاره خبره ده.

سوال: قضا روژې پرله پسې نیول ضروری دی یانه؟

جواب: خپله مرضی ئې ده که پرله پسې ئې نسی اوکه کله کله دواړه جائزدی.

سوال: که دَاول رمضان روژې پرې پاتې وی چه بل رمضان راغې څه به کوی؟

جواب: اوس دې دَدې رمضان روژې اونیسی قضادې بیا روستو اونیسی.

سوال: چه نفلی روژه ماته کړی نوڅه حکم دې؟

جواب: دَدې قضاواجب شوه ځکه چه نفلی مونځ او روژه په شروع کولوسره واجب شی.

سوال: که دَقضا روژې نیولو طاقت ئې نه وی څه به کوی؟
جواب: چه دومره بوډاشوې وی چه روژه نشی نیولئ اودَآئینده ئې هم دَنیولو اُمیدنه وی یاداسې بیماروی چه دَ جوړیدو اُمیدئې نه وی نوفدیه ورکول ئې جائز دی.
سوال: دَروژو څه فدیه ده؟
جواب: دَهرې روژې په بدله کښې پاؤ کم دوه سیره غنم یا درې نیم سیره وربشې یا په دې کښې دَیوقیمت یادَدې قیمت برابربله څه غله لکه جوار وریجې وغیره.
او دَ هر فرض او واجب مونځ هم دغه فدیه ده مګرمونځ چه ترڅو دَ سریه اشاره سره کولئ شی کوی به اوچه دَاشارې نه هم عاجز شو اوپه دغه حال کښې وفات شویاپرې دَشپږو مونځونو وخت تیر شو نودَدغې حالت مونځ فرض نه دې نودَمونځ دَفدئې دا صورت دې چه که دَمونځ کولودَطاقت په زمانه کښې ترې مونځونه قضاشوی وو او بغیردَاداکولونه ئې مړشو نودَدغې مونځو نوفدیه ورکولئ شی.
سوال: دَیوسړی په ذمه څه روژې وې او دې مړشو نوچه بل څوک دَده دپاره دا روژې نیسی نو نیولئ شی.
جواب: نشی نیولئ یعنی دَبل په روژو نیولو دَ مړی ذمه نه خلاصیږی ها وارث ئې فدیه ورکولئ شی.

دَروژې دَ کفارې بيان

سوال: دَ روژې ماتولو کفاره څه ده؟

جواب: کفاره داده چه يوغلام آزاد کړی ليکن نن صباغلامان نشته دلته اوس صرف دَ کفارې اداکولو دوه صورتونه دی يوداچه پرله پسې دوه مياشتې روژې اونيسی.دويم داچه که دَ روژو طاقت ئې نه وی نوشپيته مسکينان دې دوه وخته په خيټه ماړه کړی يادې شپيته مسکينانوته په تن پسې پاؤکم دوه سيره غنم ياقيمت يادَدې قيمت برابربله غله ورکړی (دَسيرنه مراددَاتيا روپو دَ وزن انګريزی سيرمراد دې)

سوال: دَشپيته مسکينانوداتوله غله يومسکين ته ورکول جائز وی؟

جواب: که يومسکين ته روزانه پاؤکم دوه سيره غنم ورکوی دَشپيتو ورځوپورې يايومسکين ته روزانه خوراک ورکوی نوداجائزدی ليکن که په يوه ورځ کښې دَورځې نه زياته غله ياقيمت يوتن ته ورکړونو دَيوې ورځې دپاره به صحيح شی اودَورځې نه چه څومره زيات دی هغه په کفاره کښې شمارنه وی.

سوال: که يومسکين ته دَدغې مقدارنه کم ورکړی نوجائزدی؟

جواب: نه دی .په کفاره کښې يومسکين ته دَپاؤکم دوه سيره نه کم يازيات ورکول جائزنه دی.

سوال: که دَيورمضان ډيرې روژې ئې ماتې کړې نوڅه حکم دې؟

جواب: يوه کفاره واجب ده.

دَ اعتکاف بیان

سوال: اعتکاف څه ته وائی؟

جواب : اعتکاف دې ته وائی چه یوسړې دَالله پاک کورجمات کښې دَثواب په نیت په داسې جمات کښې کینی چه جماعت پکښې کیږی.

سوال: صرف په جماعت کښې کیناستل ولې عبادت دې؟

جواب :چه یوسړې خپلې تماشې سیلونه ګرځیدل راګرځیدل پاتې کړی اوخپل کار روزګار پریږدی په جمات کښې صرف دَالله دَرضادپاره کینی نودابه بیاخامخاعبادت وی.

سوال: ښځه به کوم ځائې اعتکاف کوی؟

جواب : دَخپل کورپه هغه ځائې کښې کوم ځائې چه مونځ کوی نیت دَاعتکاف به اوکړی اوپه دغه ځائې کښې به هروخت ناسته وی دَتشو بولو یا لویو بولونه علاوه به دَدغه ځائې نه دَبل څه کاردپاره نه راوځی.اوکه په کورکښې دَمونځ څه خاص ځائې نه وی نوداعتکاف شروع کولونه اول به داسې ځایې جوړکړی اوپه هغې کښې به بیااعتکاف کوی.

سوال: دَاعتکاف څه فائدې بیان کړئ؟

جواب :په اعتکاف کښې دافائدې دی:(۱) اعتکاف کونکئ خپل ټول بدن اووخت دَالله پاک دپاره وقف کړی.(۲) دَدنیا دَ جګړو او ډیرو ګناهونونه محفوظ وی.(۳) دَاعتکاف په حالت کښې ده ته هر

وخت دَمونځ ثواب ملاویږی ځکه چه اعتکاف کونکئ هروخت دَ مونځ اوجماعت په شوق کښې وی.(٤) اعتکاف کونکئ دَ فرښتو سره مشابهت پیداکړی چه دَهغوی پشان هروخت په عبادت کښې مشغول وی.(٥) جمات چونکه دَالله پاک کوردې نومعتکف هروخت دَالله پاک په ګاونډ کښې بلکه دَهغه په کورکښې میلمه وی.

سوال: دَاعتکاف څوقسمونه دی؟

جواب: درې قسمونه ئې دی.(١) واجب (٢) سنت مؤکده. (٣) مستحب.

سوال: واجب اعتکاف کوم یودې؟

جواب: دَنذراعتکاف واجب دې مثلاً چامنحته اوکړه چه دَالله پاک دپاره به درې ورځې اعتکاف کوم یاداسې چه که زمافلانې کار اوشو نوالله پاک ته به دوه ورځې اعتکاف کوم.

سوال: سنت مؤکده کوم اعتکاف دې؟

جواب: دَ رمضان شریف دَآخری لسو ورځواعتکاف سُنتِ مؤکده دې. ددې شروع دَشلم تاریخ دَنمرپریوتونه کیږی او دَ اخترڈورځې دَمیاشتې په لیدو ختمیږی که میاشت دَ دیرشو وی او که دَیوکم دیرشوپه دواړو صورتونوکښې سنت ادا کیږی. دا اعتکاف سنت مؤکده علی الکفایه دې یعنی دَبعضوخلق په کولو سره دَټولوغاړه خلاصیږی.

سوال: مستحب اعتکاف کوم یودې؟

جواب: دَواجب او سنت نه علاوه نورټول مستحب اعتکافونه دی.اودَکال په ټولوورځوکښې اعتکاف جائزدی.

سوال: دَاعتکاف درُست کیدوڅه شرطونه دی؟

جواب: (۱) مسلمانیدل،(۲) دَلوئې بې اوداسئ حیض اونفاس نه پاکیدل،(۳) عاقل کیدل،(٤) نیت کول،(٥) په جمات کښې اعتکاف کول داخبرې دَهرقسم اعتکاف دپاره شرط دی او دَواجب اعتکاف دپاره روژه هم شرط ده.

دَاعتکاف دَ مستحباتو بیان

سوال: په اعتکاف کښې کومې کومې خبرې مستحب دی؟

جواب : نیکې اوښې خبرې کول(۲) دَقرآن پاک تلاوت کول،(۳) درود شریف وئیل،(٤) دینی علمونه وئیل،وعظ نصیحت کول،(٥) په جامع مسجدکښې اعتکاف کول.

دَاعتکاف دَ وختونو بیان

سوال: دَکم نه کم دَڅومره وخت اعتکاف کیدې شی؟

جواب: دَواجب اعتکاف دپاره روژه شرط ده نودَواجب اعتکاف دپاره کم نه کم یوه ورځ شرط ده نودَیوې ورځې نه دَ کم اعتکاف نذرمنل صحیح نه دی .اوکوم اعتکاف چه سُنت مؤکده دې دَهغې دپاره،دَرمضان آخری عشره ده.اودَنفل اعتکاف دپاره څه مقرروخت نشته یعنی که دَلس اته منټونیت کوی هم کیدې شی نوکه جمات ته دَداخلیدو په وخت کښې اعتکاف نیت کوی نو روزانه به ئې دَډیرواعتکافونو ثواب کیږی.

په اعتکاف کښې چه کومې خبرې جائز دی دهغې بیان

سوال: معتکف په کومو عذرونو دَ جمات نه وتئ شي؟

جواب: (۱) دَ وړو او لویو بولو دپاره (۲) دَفرض غسل دپاره، (۳) دَجمعې دَمونځ دپاره دومره وختې چه جامع مسجدته اورسی اوڅلوررکعته سنت پکښې دَخطبې نه مخکښې اوکړې شي. (٤) دَ اذان ویلودپاره دَ اذان ځائې ته دَجمات نه بهروتل.

سوال: دَ وړو او لویو بولو دپاره څومره لرې تلئ شې؟

جواب: دَخپل مکان پورې(یاصحراته) هرڅومره چه لرې وی خوکه دَ ده دوه کورونه وو یو نزدې او بل لرې نونزدې ته به ځی.

سوال: دَجنازې مونځ ته معتکف جماعت نه تلې شی اوکه نه؟

جواب: که هغه دَاعتکاف په شروع کښې دانیت کړې وو چه دَجنازې مونځ ته به ځم نوجائز دی اوکه نیت ئې نه وی کړې بیانشی تلئ.

سوال: نورې کومې کومې خبرې په اعتکاف کښې جائزې دی؟

جواب: په جمات کښې خوراک څکاک اوده کیدل،دَخه حاجت شې اغوستل په دې شرط چه هغه شې په جمات کښې نه وی، نکاح کول جائز دی.

دَ اعتکاف دَ مکروهاتو او مفسداتو بیان

سوال: په اعتکاف کښې کومې کومې خبرې مکروه دی؟

جواب: (۱) بالکل خاموشي اختیاروَل او داعبادت ګڼړل (۲) سامان جمات ته راوړل دَهغې خرڅول یااغوستل،(۳) لړائی جګهړې یاعبثې خبرې کول.

سوال: په کومو څیزونوسره اعتکاف فاسدکیږی؟

جواب: (۱) بې دَڅه عذره قصدًا یاپه هیره دَجمات نه وتل، (۲) دَ اعتکاف په حالت کښې کوروالئ کول،(۳) په څه عذرسره بهر اوځی او دَ ضرورت نه زیات حصاریدل مثلاً دَ لویو بولو دپاره لاړشی بیاپه کور کښې هم لږ وخت دپاره حصار شو، (٤) دَناجوړتیایادَویرې په وجه دَ جمات نه وتل،په دې ټولو صورتونو سره اعتکاف فاسدشو.

سوال: چه اعتکاف فاسدشی نوقضائې واجب ده یانه؟

جواب: دَواجب اعتکاف قضاواجب ده دَسنت اونفل قضا واجب نه ده.

دنذر یعنې دَ منختې بیان

سوال: منخته کول څنګه دی؟

جواب: منل ئې جائز دی اوبیا ئې پوره کول واجب دی.

سوال: آیا دَ هرې یوې منختې پوره کول واجب دی؟

جواب: کومه منخته چه دَشرعې نه خلاف نه وی اوشرطونه ئې پوره وی دَدې پوره کول واجب دی اوکومه منخته چه دَشریعت نه خلاف وی دَهغې پوره کول ناجائزدی.

سوال: دَمنختې صحيح کيدو شرطونه څه دی؟

جواب : (۱) منخته دَڅه عبادت وی مثلاً که فلانې کارمی اوشونوالله پاک ته به دوه رکعته مونځ اوکړم ياروژه به اونيسم يابه دومره مسکينانوته خوراک ورکړم يابه دومره روپۍ صدقه کړم.(۲) دَکوم شی منخته چه ئې کړې وی هغه څيزدده په طاقت کښې وی کينې بيامنخته صحيح نه ده.لکه يوسړې اووائی چه که زمافلانې کاراوشو نودَفلانی سړی دکان يامال به صدقه کړم داصحيح نه ده ځکه چه پردې شې دده په قبضه کښې نه دې.اونورشرطونه به درته بياوړاندې معلوم شی .

سوال :دَچاپيرياولی منخته څنګه ده؟

جواب : دَالله پاک نه سودَبل چامنخته حرامه ده ځکه چه منخته هم يوقسم عبادت دې اودَعبادت لائق دَالله پاک نه سوا بل څوک نشته دې.

په اسلامی فرائضوکښې دَ زکوٰة بيان

سوال: زکوٰة څه ته وائی؟

جواب: دَمال هغې خاصې حصې ته زکوٰة وائی چه دَالله پاک دَحکم مطابق ئې په فقيرانومحتاجانوتقسيم کړی اوهغوی ئې مالکان کړی داسې اوګنړه چه مونځ روژه بدنی اوزکوٰة مالی عبادت دې.

سوال: زکوٰۃ فرض دې که واجب؟

جواب: زکوٰۃ ورکول فرض دی دَ قرآن شریف دَآیاتونواودَحضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ دَاحادیثونه ئې فرضیت ثابت دې،څوک چه دَزکوٰۃ دَ فرضیت نه انکارکوی هغه کافردې.

سوال: دَزکوٰۃ فرض کیدو څو شرطونه دی؟

جواب: مسلمان،آزاد،عاقل،بالغ کیدل چه مالک دَنصاب وی او دَ نصاب دَخپل اصلی حاجت اوقرض نه سوا وی،اویوکال په دغې نصاب تیرشی،داټول دَزکوٰۃ فرض کیدوشرطونه دی.پس دَ کافر،غلام او مجنون اونابالغ په مال کښې زکوٰۃ فرض نه دې.

دَ زکوٰۃ دَ مال او دَ نصاب بیان

سوال: په کوم کوم مال کښې زکوٰۃ فرض دې؟

جواب: په سروسپینو اودَتجارت په هرقسم مال کښې زکوٰۃ فرض دې.

سوال: دَسروسپینونه ددې سکې لکه روپۍ اشرفۍ مراددی یانورڅه؟

جواب: دَسروسپینوپه ټولوڅیزونوکښې زکوٰۃ فرض دې لکه روپۍ اشرفۍ کالی پټری لوخی وغیره.

سوال: په جواهراتو زکوٰۃ فرض دې یانه؟

جواب: جواهرات که دَتجارت دپاره وی نوبیاپرې زکوٰۃ فرض دې اوچه دَتجارت دپاره نه وی بیاپرې زکوٰۃ نشته،هرڅومره چه وی دغه شان که دَیوسړی سره دَتانبې لوخی وغیره دَنصاب نه دَزیات قیمت وی یایومکان یادوکان وغیره دَنصاب نه دَزیات قیمت وی

او کرایه ئې هم راځی.یادَسرو سپینونه سوا دَنورڅه سامان او اسباب دي لیکن داټول څیزونه دَتجارت دپاره نه دی نوپه دوې کښې په هیڅ شی هم زکوٰة فرض نه دې.

سوال: سرکاری نوټونه که دَچاسره په قدر دَنصاب وی نوڅه حکم دې؟

جواب: په دې زکوٰة فرض دې.

سوال: که دَچاسره لږ سپین اولږ سره وی اوپه دواړوکښې یوهم نصاب ته نه رسیږی نوزکوٰة پرې فرض دې یانه؟

جواب: په دې صورت کښې به دَسروقیمت دَسپینوسره یا دَ سپینودَسروسره اولږوی نوکه نصاب پوره شوزکوٰة به ترې ورکړی او که نه پوره کیدویعنی په دواړوجانبوکښې په یو جانب هم نه پوره کیدو نوبیاپرې زکوٰة نشته.

سوال: که دَچاسره درې خلورتولې سره وو چه دَسپینوپه قیمت سره نصاب ته رسیدل او نور ورسره دَسپینوڅه شې نه وو نه روپۍ نه کالې وغیره نوزکوٰة پرې فرض دې که نه؟

جواب: په دې صورت کښې په ده زکوٰة فرض نه دې.

سوال: دَتجارت نه څه مراد دې؟

جواب: کوم مال چه دَخرخولو او نفع ګټلودپاره وی هغه دَ تجارت مال دې هرقسم مال چه وی لکه غله کپړه قند پیزار دَ کورسامان اسباب وغیره.

سوال::لږ نصاب څه ته وائی؟

جواب:په کومومالونوکښې چه زکوٰة فرض دې دَهغې شریعت خاص مقدار مقررکړې دې چه دغه مقدار دَچاسره پوره شی نو زکوٰة فرض کیږی.دې مقدارته نصاب وائی.

سوال: دَسپینو زرو نصاب څه دي؟

جواب: دَسپینو زرو نصاب څلورپنځوس تولې دوه ماسې وزن نصاب دې (دَتولې نه دَانګریزئ روپئ وزن مراددې)

سوال: دَڅلورپنځوس تولې دوه ماسې سپینوزکوٰة څومره دې؟

جواب: په زکوٰة کښې څلویښتمه حصه ورکول فرض دی نو په دې حساب د څلورو پنځوسو تولو او دوه ماسو زکوٰة یوه توله څلورماسې دوه رتئ سپین زرشو.

سوال: دَ سرو زرو څه نصاب دې؟

جواب: دَسرو زرو نصاب اووه تولې اته نیمې ماسې زر دی،دَدې زکوٰة دوه ماسې دوه نیمې رتئ سره دی.

سوال: دَتجارت دَمال نصاب څه دې؟

جواب: دَ تجارت دَمال به دَسرو یادَسپینو سره قیمت اولږوئ بیابه دَسپینویاسروقیمت دَنصاب سره برابرکړئ اوپه دغې حساب به ترې زکوٰة ادا کړئ.

دَ زکوة ادا کولو بیان

سوال: دَ زکوٰة ادا کولو صحیح طریقه څه ده؟

جواب: څومره زکوٰة چه واجب شوې وی هغه چامستحق ته خاص دَالله پاک دپاره ورکړه اوهغه ئې مالک کړه.که دَزکوٰة په مال دَفقیرانودپاره څه شې واخلې اوپه هغوی ئې تقسیم کړئ نوجائزدې.

سوال: زکوٰۃ کله ادا کول پکاردی؟

جواب: کله چه په نصاب کال واوړی، کال دَاسلامی قمری حساب معتبردې.نوفورًا زکوٰۃ اداکول په کاردی صبر پکښې ښه نه دې.

سوال: دَکال پوره کیدونه که اول یوسړې زکوٰۃ ورکړی نوجائز دې اوکه نه؟

جواب: که دَنصاب مال دَکال تیریدونه اول زکوٰۃ اداکړی نوجائز دې.

سوال: دَزکوٰۃ ورکولو په وخت کښې نیت هم ضروری دې یانه؟

جواب: آؤ،دَزکوٰۃ اداکولوپه وخت کښې یاکم نه کم دَزکوٰۃ دَ مال جداکولوپه وخت کښې دانیت کول ضروری دې چه دا مال په زکوٰۃ کښې درکوم یادامال دَزکوٰۃ دپاره جُدا کوم.که دَنیت نه بغیرئې چاته څه روپۍ ورکړۍ اوبیائې په زکوٰۃ کښې حساب کړۍ نوزکوٰۃ نه دې ادا شوې.

سوال: چاته چه زکوٰۃ ورکوې هغه ته ئې وئیل ضروری دی که نه؟

جواب:داضروری نه دی بلکه دَانعام په طوریادچاغریب بچوته دَاختړپه نوم ورکړۍ هم زکوٰۃ اداشو.

سوال: کال پوره شوخولا زکوٰۃ ئې نه دې ورکړې چه مال هلاک شو نوڅه حکم دې؟

جواب: ددغې مال زکوٰۃ هم دده دَذمې نه ساقط شو.

سوال:په کال تیریدوکه.ئې تول مال دَالله پاک په لاره کښې ورکړو؟

جواب: ددې زکوٰۃ هم معاف شو.

سوال: که دَکال په تیریدو لږ مال ضایع شو یا ئې خیرات کړو، نو څه حکم دې؟

جواب: څومره مال چه ضائع شویائې خیرات کړودَهغې زکوٰة ساقط شودَباقی به ورکوئ.

سوال: که دَسپینوزرو زکوٰة په سپینو زرو سره ورکوئ نووزن ته اعتباردې که قیمت ته؟

جواب: دَ وزن اعتباردې ،مثلاً دَچاسره سل روپۍ دی دَکال په تیریدوبه دې اوس دوه نیمې تولې (دَروپۍ جوک توله مرادده) سپین زر ورکوی اوس دده اختیاردې که دوه نیمې روپۍ ورکوی اوکه دَسپینوزرو دوه نیمې تولې ټکړه ورکوی زکوٰة اداشولیکن که دَسپینو دَ دوه نیمې تولوقیمت دوه روپۍ وو نوبیاپه دوه روپوورکولوزکوٰة نه اداکیږی .(بلکه دوه نیمې تولې سپین به ورکوی)

سوال: دَسپینو زکوٰة واجب شو نوبل څه شې ئې په زکوٰة کښې ورکولئ شی اوکه نشی ورکولئ؟

جواب: آؤ څومره سپین چه په زکوٰة کښې واجب شوی ددې په قیمت بل څه شې واخلی او ورکړئ لکه کپړاياغله نوجائز.دی.

دَ زکوة دَ مصرفونو بیان

سوال: دَمصارف زکوٰة نه څه مراددې؟

جواب: چاته چه دَزکوٰة ورکولواجازت دې هغه ته دَزکوٰة مصارف وائی،مصارف دَمصرف جمع ده هغه خلق ترې مراد دی چاته چه زکوٰة ورکول جائزوی.

سوال: دَزکوٰۃ مصارف څومره اوکوم کوم دی؟

جواب:په دې زمانه کښې دَزکوٰۃ مصارف دا دی:

(۱):فقیریعنی هغه سړې چه څه لږ مال ورسره شته لیکن دَنصاب برابرنه دې.

(۲):مسکین هغه سړې چه هیڅ ورسره نه وی.

(۳):قرض دارې یعنی هغه سړې چه دَخلقوقرض وی پرې اودَده سره دَقرض نه دَبچ کیدو اودَنصاب برابرمال نه وی.

(٤):مسافرچه په حالت دَسفرکښې غریب شوې وی په قدر دَحاجت ورته زکوٰۃ ورکول جائز دی.

سوال:اسلامی مدرسوته زکوٰۃ ورکول جائز دی یانه؟

جواب :آؤ طالب علمانوته دَزکوٰۃ مال ورکول جائز دې او دَ مدرسومهتممانوته ددې دپاره چه په طالب علمانو ئې خرچ کړی په ورکولوکښې هیڅ بدی نشته.

سوال: کوموخلقوته زکوٰۃ ورکول جائزنه دی؟

جواب: (۱) مالدارته یعنی داسې سړی ته چه پخپله پرې زکوٰۃ فرض دې .یادَنصاب دَبرابرقیمت ورسره نورڅه مال موجوددې او د ده دَحاجت اصلی نه زیاتی دې،لکه دَڅاسره دَتانبې لوخی دده دَ روزمره ضرورت نه سواپراته دی اوقیمت ئې نصاب ته رسیږی.ده ته دَ زکوٰۃ مال اخستل حلال نه دې اګرچه په ده پخپله ددې له نسو زکوٰۃ ورکول واجب نه دی.

(۳):سید او بنی هاشم،دَبنی هاشم نه دَحارث بن عبدالمطلب او حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عقیل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اولاد مراد دي.

(٤):خپل مور او پلار نیکه نیا په پورته هرڅومره څه وی.

(٥):خاوند خپلي ښځي ته او ښځه خپل خاوند ته هم نشی ورکولئ.

(٦):کافر ته.

(٧):دَمالداره سړی نابالغ اولادته دي ټولوخلقوته دَزکوٰة مال ورکول جائز نه دی.

سوال: په کوموکارونوکښي دَزکوٰة مال خرڅ کول جائز نه دی؟

جواب : په کومو څیزونو کښي چه څوک مستحق مالک نشی جوړیدئ په هغي کښي دَزکوٰة مال خرڅ کول جائز نه دي.لکه دَمړی په کورکفن کښي ئي لګول.یادَمړی فرض پرې ادا کول یادَجمات په آبادئ یا فرش یا لوټو یا اوبو وغیره ئي خرڅ کول جائز نه دی.

سوال: دَ یوسړی سره دَزرګونو روپو تیار مکان دي چه دي پکښي اوسي یا دَهغي په کرایه ګذاره کوی اودي نه علاوه ورسره نورڅه نشته بلک تنګدست دي نوده ته زکوٰة ورکول جائز دی اوکه نه؟

جواب : جائزدي ځکه چه دامکان دده په حاجت اصلی کښي داخل دي البته که نوروسره دومره مال وی چه نصاب ته رسی نوبیاورته زکوٰة اخستل جائز نه دی.

سوال: که یوسړی، ته ئې په دې خیال زکوٰة ورکړې چه دې مستحق دې اوبیامعلومه شوه چه هغه مالداره یاسید وو یادده دَمورپلار ریااولادنه وو نوزکوٰة اداشو او که نه؟

جواب: ادا شو بیا ئې ورکول واجب نه دی.

سوال: زکوٰة کوموخلقوته ورکول افضل دې؟

جواب: اول خپلورشته دارانوته لکه رور خو ر وراره خورزه تره ترورياني،ماماګان دَ مور خوئیندې،خواښې سخر زوم وغیره کښې چه څوک حاجتمند وی او مستحق وی دوی ته ئې ورکول ډیر ثواب دې بیادَخپل چم ګاونډ یا دَخپل کلی خلقو ته چه څوک پکښې حاجتمند اومستحق وی.بیاچه دَچانه دینی نفع وی لکه طالب علم دَعلم دین.

دَ صدقه فطر(سرسائې) بیان

سوال: صدقة فطر څه ته وائې؟

جواب : دَ فطر معنی ده روژه ماتول یا روژه نیول.الله پاک پخپلوبندګانوباندې یوصدقه مقررکړې ده چه دَ روژې ماتولوپه خوشحالئ اودَرمضان شریف دَتیریدوپه شکرانه کښې دې ادا کوی دې ته صدقهٔ فطروائی اوددې روژې ماتولو دَخوشحالئ کولوپه وجه دَرمضان شریف نه پس راتلونکی اخترته عیدالفطروائی.

سوال: صدقهٔ فطرپه چاواجب دې؟

جواب : په هریومسلمان آزاد چه دَنصاب مالک وی صدقهٔ فطرپرې واجب دې.

سوال : دَ صدقهٔ فطر دپاره چه کوم نصاب دې هغه هم دغه نصاب دې کوم چه په زکوٰة کښې ذکرشوې دې که څه فرق پکښې شته؟

جواب : دَ نصاب زکوٰة اودَنصاب صدقهٔ فطرپه مینځ کښې هیڅ فرق نشته مقدارئې یودې.په مقدارکښې ئې څه فرق نشته خو صرف دومره ده چه دَزکوٰة فرض کیدو دپاره دَسروسپینو اودَتجارت دَمال وجودضروری دې اودَصدقهٔ فطرپه نصاب کښې ددې درې واړو څیزونوڅه خصوصیت نشته دې ددې په نصاب کښې هرقسم مال اخستې شی.خودَحاجت اصلی نه بچاؤ اودَقرض نه خلاصوالئ په دواړو نصابونوکښې شرط دې.پس که دَچاسره دَده دَ استعمال دَکپړونه سوا کپړې پرتې وی یا د ده دَ استعمال دَ لوښونه سوا دَ تانبې پیتلووغیره لوښی وی یائې یوخالی مکان دې یاورسره نور څه اسباب سامان دې اودده دَاصلی حاجت نه زیات اوددې څیزونو قیمت دَنصاب برابریاترې زیات وونوبیاهم په ده زکوٰة نشته لیکن صدقهٔ فطرپرې واجب دې،دَصدقهٔ فطرپه نصاب دَ کال تیریدل هم شرط نه دې که په دغه ورځ دَنصاب مالک شی صدقهٔ فطربه ورکوی.واجب ده پرې.

٦

سوال: صدقهٔ فطر دَچاچادَطرف نه ورکول واجب دی؟

جواب: صدقهٔ فطر په هریودَنصاب مالک دَخپل طرف نه دَ خپل نابالغ اولاددَطرف نه ورکول واجب دی.خوکه دَنابالغوخپل مال وو دَهغې نه به ورکوی.

سوال : مشهوره ده چه چا روژې نه وی نیولې په هغه باندې صدقهٔ فطرواجب نه ده داصحیح ده اوکه غلطه؟

جواب :داغلطه ده بلکه په هریودَنصاب مالک باندې واجب ده خواه که روژې ئې نیولې وی او که نه؟

سوال:دَ صدقهٔ فطر دَواجب کیدو وخت کوم یودې؟

جواب :دَاخترپه ورځ دَصبح صادق ختوسره واجب کیږی.پس کوم سړې چه دَصبح صادق نه اول مړشو دَهغه دَمال نه به صدقهٔ فطرنشی ورکولې اوکوم بچې چه دَصبح صادق نه اول پیداشو دهغه دَطرفه به اداکولې شی.

سوال :که صدقهٔ فطردَاختردَورځې نه اول په رمضان کښې ورکړې نوجائزده اوکه نه؟

جواب: جائز ده.

سوال: دَ صدقهٔ فطر اداکولو غوره وخت کوم یودې؟

جواب: دَاخترپه ورځ مونځ دَاخترته دَتلونه مخکښې ادا کول ئې ډیرغوره دی.اوکه دَمونځ نه پس ئې ادا کړی نوداهم جائز دی.

اوترخوپورې چه ئې ادا کړې نه وی دده په ذمه به واجب الاداوی.هرخومره وخت چه تیرشی.

سوال: په صدقهٔ فطرکښې کوم کوم څیزونه اوڅومره ورکول واجب دی؟

جواب :په صدقهٔ فطرکښې هرڅنګه غله اوقیمت ورکول جائز دی. تفصیل ئې داذې چه که غنم یا دَغنمواوړه یاستوان ورکوی نو دَ یوتن په سربه پاؤکم دوه سیره ورکوی.دَسیرنه مرادانګریزی دَ اتیا(۸۰) روپوجوک سیردی(ددې نه دَهرې علاقې پخپلو سیرونو حساب لږ.وئ) اوکه وربشې یادَهغې ستوان ورکوئ نوبیادرې نیم سیره اوکه دَغنمواو وربشونه علاوه بله غله مثلاً جوار وریجې وغیره ورکوی نودَغنمویاوربشوقیمت به معلوم کړی اویه هغې قیمت چه څومره دغه غله راتله وربه کړی اوکه قیمت ورکوی نو هم چه دَپاؤکم دوه سیره غنمویادَدرې نیم سیره وربشوڅه قیمت کیږی هغه به ورکوی.

سوال :دَیوتن صدقه فطریوفقیرته ورکول پکاردی اوکه نه،ډیروفقیرانوته ئې لږ لږ ورکول هم جائزدی؟

جواب : ډیروته ئې لږ لږ ورکول هم جائز دی او دغه شان دَډیروصدقه فطریوفقیرته هم ورکول جائز دی.

سوال:صدقه فطرکوموخلقوته ورکول پکاردی؟

جواب : کوموخلقوته چه زکوٰة ورکول جائز وی هغوی ته داورکول هم جائزدی اوچاته چه زکوٰة ورکول ناجائزدی نوهغوی ته صدقه فطرورکول هم ناجائزدی۔

سوال :په کوموخلقوچه صدقۀ فطر واجب ده هغوی زکوٰة یاصدقه فطراخستئ شي یانشي اخستئ؟

جواب :نشي اخستئ.اوڅه فرض یاواجب صدقه داسې خلقوته اخستل جائزنه دی.دَچاسره چه دَصدقۀ فطرنصاب موجود وی۔

تمت

دتعلیم الاسلام څلورمه حصه ختمه شوه

جوامع الکلم (څلویښت حدیثونه)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه کوم کس زما د اُمت د فائدې دپاره څلویښت حدیثونه یادکړي نو خدائی تعالی به دے دَ قیامت په ورځ دَ عالمانو او شهیدانو په جماعت کښې پاسوی.

(۱) اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ (الصحیح البخاری باب بدء الوحی حدیث۱) "د عملونو (دقبولیت) مدار په نیتونو باندې دې".

(۲) حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ رَدُّ السَّلَامِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ. (بخاری ومسلم ترغیب) دمسلمان په مسلمان باندې پنځه حقونه دي، دسلام جواب ورکول، دمریض تپوس کول، جنازې سره تلل، د هغه دعوت قبلول، دَ اینګی جواب په يَرْحَمُكَ اللهُ سره ورکول.

(۳) لَا يَرْحَمُ اللهُ مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ (صحیح البخاری مسلم) "الله تعالی په هغه باندې رحم نه کوی څوک چه په خلقو باندې رحم نه کوی".

(۴) لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ (الصحیح المسلم) "چغل خور به جنت ته نه داخلیږی".

(۵) لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ (الصحیح البخاری) "رشته ماتولو والا او قطع تعلق کولو والا به جنت ته نه ځی".

(۶) اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ظلم به دقیامت په ورځ دَ تیارو په شکل کښې وی.

(۷) مَا اَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنْ دَ ګیټو کومه حصه چه دَ پرتوګ

الاِزَارِ فِی النَّارِ (بخاری ومسلم)

لاندې وی هغه به په اور کښې وی.

(۸) اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَیَدِهٖ (الصحیح البخاری)

"مسلمان هغه دې چه د هغه د لاس او ژبې نه (بل) مسلمان محفوظ وی".

(۹) مَنْ یُحْرِمُ الرِّفْقَ یُحْرِمُ الْخَیْرَ کُلَّهٗ. (مسلم)

څوک چه دَ نرم خوئ نه محروم شو هغه دَ هر خیر نه محروم شو.

(۱۰) لَیْسَ الشَّدِیْدُ بِالصُّرْعَةِ اِنَّمَا الشَّدِیْدُ الَّذِیْ یَمْلِكُ نَفْسَهٗ عِنْدَ الْغَضَبِ. (بخاری ومسلم)

پهلوان هغه سړې نه دې چه خلق راپرزوی بلکه پهلوان هغه سړې دې څوک چه دَ غصې وخت کښې خپل ځان قابوکښې اوساتی.

(۱۱) اِذَا لَمْ تَسْتَحْیِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ (الصحیح البخاری)

"کله چه حیاء نه وی نو چه څه غواړې کوه".

(۱۲) اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَی اللّٰهِ اَدْوَمُهَا وَاِنْ قَلَّ (الصحیح البخاری)

"اللّٰه تعالی ته هغه عمل خوښ دې چه همیشه وی اګرچه لږ وی".

(۱۳) لَا تَدْخُلُ الْمَلٰٓئِکَةُ بَیْتًا فِیْهِ کَلْبٌ اَوْ تَصَاوِیْرُ (الصحیح البخاری)

"په هغه کور کښې (درحمت فرښتې نه داخلیږی په کوم کښې چه سپې یا تصویر وی".

(۱۴) اِنَّ مِنْ اَحَبِّکُمْ اِلَیَّ اَحْسَنُکُمْ اَخْلَاقًا. (بخاری ومسلم)

په تاسو کښې هغه کس ماته زیات محبوب دې دچاچه اخلاق ښه وی.

(۱۵) اَلدُّنْیَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَ جَنَّةُ الْکَافِرِ (الصحیح المسلم)

"دنیا دمؤمن دپاره (په منزله) د جیل ده او دکافر دپاره جنت دی".

(۱۶) لَا یَحِلُّ لِمُؤْمِنٍ أَنْ یَّهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلٰثِ لَیَالٍ. (بخاری ومسلم)

مسلمان دپاره حلال نه دی چه د درې ورځو نه زیات خپل مُسلمان رور سره تعلق پریکړی

(۱۷) لَا یُلْدَغُ الْمَرْأُ مِنْ جُحْرٍ وَّاحِدٍ مَّرَّتَیْنِ. (بخاری ومسلم)

انسان دَ یوې سُورې نه دوه ځلې نه چیچلې کیږی.

(۱۸) اَلْغِنٰی غِنَی النَّفْسِ. (بخاری ومسلم)

اصل غنی والې دَ زړهٔ غنی والې وی

(۱۹) کُنْ فِی الدُّنْیَا کَأَنَّكَ غَرِیْبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِیْلٍ. (الصحیح البخاری)

"په دنیا کښې داجنبی یا مسافر په شان اوسیږه".

(۲۰) کَفٰی بِالْمَرْأِ کَذِبًا اَنْ یُّحَدِّثَ بِکُلِّ مَا سَمِعَ (مسلم،مشکوۃ)

د اِنسان د دروغژنوالی دپاره دومره خبره کافی ده چه کومه خبره واؤری (نو دَ تحقیق نه بغیرئې) خلقوته ئې بیانول شروع کړی.

(۲۱) عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِیْهِ. (بخاری ومسلم)

د سړی ترهٔ دَ هغه د پلار په شان دې

(۲۲) مَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ یَوْمَ الْقِیَامَةِ. (بخاری ومسلم)

چاچه په یومسلمان باندې پرده واچوله الله به دقیامت په ورځ په دهٔ باندې پرده واچوی.

(۲۳) قَدْ اَفْلَحَ مَنْ اَسْلَمَ وَ رُزِقَ

هغه سړې کامیاب دې چه اسلام ئې راؤړو او په

كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللّٰهُ بِمَا آتَاهُ (مسلم)

قدر دَ ضرورت ورته رزق ملاؤ شو او الله ورته په خپل ورکړی رزق باندې قناعت ورکړو.

(۲۴) اَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ الْمُصَوِّرُوْنَ. (صحیح البخاری)

"د ټولو نه زیات په عذاب کښې به په قیامت کښې د تصویر جوړونکی وی".

(۲۵) اَلْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ (بخاری ومسلم)

مسلمان دَ مُسلمان رور دې.

(۲۶) لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى يُحِبُّ لِاَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ (بخاری ومسلم)

هیڅ بنده تر هغه وخته پورې مسلمان نه شی کیدې ترڅو پورې چه دخپل رور دپاره هغه څه خوښ نه کړی کوم چه دخپل ځان دپاره خوښوی.

(۲۷) لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَّا يَأْمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ (الصحیح المسلم)

"هغه سړې به جنت نه داخلیږی چه دهغه ګواندیان د هغه د تکلیفونو نه محفوظ نه وی".

(۲۸) اَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نَبِيَّ بَعْدِیْ۔ (سنن ابی داؤد)

"زه د (الله تعالی) آخری پیغمبر یم، زما نه پس به څوک نبی نه پیدا کیږی".

(۲۹) لَا تَقَاطَعُوْا وَلَا تَدَابَرُوْا وَلَا تَبَاغَضُوْا وَلَا تَحَاسَدُوْا وَكُوْنُوْا عِبَادَ اللّٰهِ إِخْوَانًا (بخاری)

په خپلو کښې تعلق مه پریکوئ دَ یو بل ضرر پسې مه ګرځئ او په خپلو کښې بغض مه کوئ او حسد مه ساتئ او اې دالله بندګانو ټول رونړه رونړه شئ

(۳۰) اِنَّ الْاِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهٗ وَاِنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا وَاِنَّ

اسلام هغه ټول ګناهونه ختموی کوم چه مخکښې شوی وی او هجرت او

اَلْحَجَّ يَهْدِمُ مَاكَانَ قَبْلَهٗ. (مسلم، مشکوۃ)

حج هغه ټول ګناهونه ختموی کوم چه دهغې نه مخکښې شوې وی.

(۳۱) اَلْکَبَائِرُ : اَلْاِشْرَاكُ بِاللّٰهِ وَ عُقُوْقُ الْوَالِدَيْنِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَشَهَادَةُ الزُّوْرِ. (بخاری ومسلم، مشکوۃ)

لوئې ګناهونه، الله تعالی سره شرک کول، او دَ مور پلار نافرمانی کول، او څوک بې ګناه وژل، او دَ دروغو ګواهی ورکول دی.

(۳۲) مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِّنْ كُرَبِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَّسَّرَ عَلٰى مُعْسِرٍ يَّسَّرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاللّٰهُ فِىْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَاكَانَ الْعَبْدُ فِىْ عَوْنِ اَخِيْهِ (مسلم، مشکوۃ)

څوک چه یو مسلمان د دنیاوی مصیبت نه خلاص کړی نو الله تعالی به هغه دقیامت د مصیبتونو نه خلاص کړی او څوک چه په یو غریب باندې (معامله کښې) آسانی اوکړی نو الله تعالی به وربانده په دنیا او آخرت کښې آسانی اوکړی او څوک چه د یومسلمان پرده پوشی اوکړی نو الله تعالی به ئې په دنیاوآخرت کښې پرده پوشی اوکړی، او ترڅو چه بنده دمسلمان رور په مدد کښې لګیا وی نو الله تعالی دهغه په مدکښې لګ وی.

(۳۳) كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ (مسلم)

هریوبدعت (یعنی په دین کښې نوې خبره) ګمراهی ده.

(۳۴) اَبْغَضُ الرِّجَالِ عِنْدَ اللّٰهِ الْاَلَدُّ الْخَصِمُ. (بخاری ومسلم)

د الله په نزد دَ ټولو نه زیات ناکاره هغه کس دې چه سخت جګړې مار وی.

(۳۵) اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِیْمَانَ

"پاکی د ایمان جزء دي".

(۳۶) أَحَبُّ الْبِلَادِ إِلَى اللّٰهِ مَسَاجِدُهَا. (مسلم)

دَ الله په نزد دَ ټولو نه زیات محبوب ځائي جوماتونه دی

(۳۷) لَا تَتَّخِذُوا الْقُبُوْرَ مَسَاجِدَ (بخاری ومنسلم)

قبرونه د سجدې ځایونه مه جوړوئ.

(۳۸) لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَکُمْ أَوْ لَیُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَیْنَ وُجُوْهِکُمْ. (مسلم)

په مونځ کښې خپل صفونه نيغ ساتئ ګنې الله تعالی به ستاسو زړونوکښې اختلاف واچوی.

(۳۹) «مَنْ صَلّٰی عَلَيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ» (مصنف ابن ابی شیبة)

"څوک چه په ما باندې يو ځل درود رالیږی الله تعالی په هغه باندې لس ځله رحمت لیږی".

(۴۰) اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِیْمِ. (بخاری ومسلم)

د ټولو عملونو اعتبار په خاتمه باندې دي.